

# بدنامه مرواء

ناول

لیکوال

محمد نعیم وردگ

# بسم الله الرحمن الرحيم

دکتاب نوم: بدنامه مرواء (ناول)

ليکوال: محمدنعيم وردگ

برېښنا ليک: naeemjanwardak@gmail.com

دفسبوک پاڼه نوم: نعيم جان بوډا

آنلاين چارې: (عبدالواحدجلالي)

دليکلو کال: ۱۴۰۰ لمريز

# ناول

له بده مرغه نوځوانۍ ته د رسېدو سره سم مو په معصومه، سپيڅلې مينه، ورځ تر بلې د عشق ناولي رنګ راګډېدو، حتا تر دې چې د دولس، ديارلس کلنۍ په دوره کې مو يې هغه مقدسه ملګرتيا اتياه سلنه مسخه کړه، کني له دې مخکې که څه هم ماشومتوب خو هسې هم په تمامه معنا د سپڅلتيا نوم دی، ولې زما او مرواه منځ کې د هلک او نجلۍ يا غيرې همجنس خبرې هم هېڅ وجود نه لرلو، نو له دې وجې مو په لوبو کې هم د هلکانو او نجينو لوبه نه وه معلومه، توشلې، لانځکې توپ بازۍ همداسې ډېرى نورې لوبې به مو يو ځاى سره کولې، ځکه چې يو خوا نه زموږ کور کې زما هم سني نور ماشومان و، او نه ددوئ، بلخوا دېوال په دېوال ګاونډيان و، کله به چې تر دروازه راووتلو، که دا به مې وليده چې لانځکې يا کومه بله لوبه به يې کوله، زه به پرې ورګډ شوم، که به زه په کومه لوبه مصروف وم، دې به دليدلو سره سم شروع راسره وکړه، حتا اکثره وخت به يو بل پسې کور ته ورتللو، په عين حال کې ډېره هوښياره نجلۍ هم وه، خپله خو يې هېڅ داسې لوبه نه کوله ،چې ځان يا نورو خلکو ته زيان ورسوي، بلکې زه به يې هم تل له تيرو وارولو، وغېره هغه لوبو چې جامې به پکې چټلېدلې يا به پکې شکېدلې منعه کولم، خلاصه دا ملګرتيا مو تر نهه، لس کالونو همداسې پاکه، صفا د کامل اخلاص او صداقت په بنياد ولاړه وه، اما بدبختانه لکه څنګه مې چې سر کې ووېل، پس له يولس، دولسو کالونو يو د بل سترګو ته غله شو. خو دا چې نه مو ليدلي و، نه مو کتلي و، لمړى ځل و، د عشق عجيبې عريبې لېونۍ دنيا ته مو قدم راخېستى و، نور خو لا څه حتا له يو بل نه به هم شرمېدو، د سترګو غلا به مو هم، په ډېره غلا کوله، مخکې مې يادونه کړې، مرواه له يوې خوا ډېره هوښياره، چالاکه وه، بلخوا طبعيي ده، د هلکانو په پرتله نجينې څه زياتې شرمګيره وي، نو په همدې اساس، نظر ماته دې به تر ډېره خپل احساسات کنترول ساتل، په ډېر احتياط او هنر به يې دسترګو تنده ماتوله، حتا اکثره وخت به يې دځينو دروغجنو حرکاتو په مټ ځان داسې ښودو چې ګواکې زه همغه ماشومه مرواه ګۍ يم، نه عشق پېژنم، نه يې نوم.

که څه هم، ما هم دا هڅه کوله خو دا چې د مرواه غونډې هنر مې نه لرلو کله ناکله به خبره رانه آتې شوه، نيغ په نېغه به يې ګير کړم، لاس به مې کار کې و، سترګې ددې په اننګيو کې، يا به کوم بل داسې شرمېدلی حرکت رانه وشو، خو نور يې هم په هر حال يوه ورځ چې د اختر لمړۍ ورځ وه، د حوېلۍ له خوا مې يو غږ واوريدو، چې کتل مې مرواء يې د کور له خوا د دېوال په کنډو کې راولاړه وه، يو لاس يې زموږ حويلۍ ته راځوړند کړی و، د پنځوسو (۵۰) روپيو يو لوټ يې ګوتو کې ښکارېدو کړل يې:

- اکبر جانه! خير لالک به مې شې، دا پيسې درسره واخله د مور مې معده خوږېږي يو پاوکت ګولۍ ورته راوړه !

له يادولو دې پاتې نه وي چې مرواه، يو سپينږيری پلار لرلو، يوه مور هغه هم سخته مريضه، يوه يې مشره خور چې دا واده شوې وه، نور يې هېڅوک نه و، ددې له پاسه خپله ځمکه يې هم نه لرله پلار به يې دنورو خلکو دهکانۍ کولې، که څه هم ضعيفه و، ولې بيا هم ډېر غيرتي سړی و، د خپلې درې کسيزه کورنۍ د اړتياوو پوره کولو سربېره دکلي کور سره مړی، ژوندی يې هم ښه په مېړانه کول، خو بيا هم يو خوا سپينږيری و، بل خوا يې کور کې مريض لرلو، نو طبعاً وخت ناوخت به د ګانډيانو په صفت د اقتصادي اړخ علاوه د ځينو فزيکي کارونو لپاره موږ ته درېدل مرسته به يې غوښته، موږ هم د مسلمانۍ او انساني ترحم له مخې، مخ نه ترې اړوه خپل وس مو ورسره کولو، ډېری وخت به مو خپل پوخ دېګ ورسره نيمه و. هغه واده شوې خور او اوښې يې د ډېورنډ تر پوله هاخوا کوټه کې اوسېدل، اقتصاد يې ښه و، جامې، مامې خو ټولې دوئ ورته راوړلې او رالېږلې. خو په هر حال راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته، مرواه ته مې کړل:

- ښا، صحيح ده، څه پيسې دې درسره واخله، زه يې راوړم، اګر چې ماسره هم دومره پيسې نه وې، ټول ټال مې يونيم دوه سوه افغانۍ جيب خرچه لرله، بيا عيد هم و، پيسې پکارېدلې، خو دا مې هم نفس نه منله چې د مرواه له ګوتو هغه پنځوس روپۍ راواخلم، اما مرواه ټينګه شوه، بلاخېره پيسې يې را خطا کړې، نور مې نو پيسې راوخيستې، موټر سيکل مې چالاند کړو، اول د ډاکتر وصيل کور ته ورغلم، پوهېدم چې د اختر ورځ ده، حتماً کور دی، دواخانه به يې بنده وي؟ همداسې وه، کله مې چې دروازه ور وټکوله ډاکتر

راووتلو، دکیسې د آورېدو سره جوخت په موټرسیکل راپسې سور شو، دواخانې ته یې ولاړو، یو پاوکت ګولۍ او یو شربت یې راکړل، ټولې یې یوسلو شل (۱۲۰) روپۍ شولې، نور راسواره شو، ډاکتر مې یې دخپل کور سره ښکته کړو، زه راغلم ،موټر سیکل مې دخپلې او مرواه دوئ د دروازو تر منیځ ودرولو، ور ننوتلم، د برنډې په دوهمه زینه کې د پښې ایښودو سره مې سم مرواه د دهلیزه تر وره راووتله، د اختر نوې جامې یې اغوستې وې، څه یې نور په ځان ګوتې وهلې وې، بل شان خوږه ښکارېدله، مخکې له دې چې زه یې د مور پوښتنه ترې وکړم، زر زر یې کړل :

ـ خیر یوسې، ددې اختر په ورځ مې دومره زحمت درکړو، شکر مور مې هم ښه شوه !ور غبرګه مې کړه

ـښا، څه شکر چې ښه شوه، ته تر مخ شه دا اختر به ورسره مبارک کړم، د ددک (پلار)سره خو مې دې ښه و، سهار جومات کې مبارک کړو!

ـ راځه !

مرواه مې تر مخ شوه، کوټې ته ور ننوتلم، مور یې چې ما به هم د مرواه په خوله ادې ورته وېل، بسترې ته څنګ وهلی و، د وریژو اوبه یې څښلې، له اولیه سلام کلام سره ګډ مې د اختر مبارکي هم ورته ووېله، مننه یې وکړه، د دواه راوړلو په خاطر یې دعاګانې کولې، ټینګه وه کړل یې:

ـکینه چې مروا چای درته راوکړي !

ـ نه خیر یوسې چای نه خورم ،

موټرسیکل مې لاره کې درولی خدای پامان!

ترې رارروان شوم، زما او د ادې دخبرو په جریان کې یې مرواه له کوټې راوتلې وه، کله چې زه د دهلېزه له وره برنډې ته راووتلم، د مخامخ وړاندې دالان په وره کې مې په مرواه سترګې ولګېدې، لاس کې یې زموږ د محلي رواج اړوند په یو پېش قاب کې وچه مېوه نیولې وه، ور یې ځینځیر کړو، غوند منډه خوشحاله

خوله زما په لور رارونه شوه، پاکې پاکې تورې او سپينې سترګې يې خوږې، خوږې غړولې، د پرېکړي پيکي د وينښتو لام يې د هر قدم سره د چپ اننګي په سر ټال وهلو، د ښځو سرې جامې زما هسې هم خوښېږي، خو د مرواه سره د سرو جامو له پاسه سره نازک ټکري او په څنډو يې نرۍ زېړې زرينې پيټې دلمر په وړاندې الوتو سپرغيو بله نمونه خوند کو، زما حد ته په رارسېدوه سره يې په خندا او يو قسم خورا مينه ناک او جذاب انداز کړل:

ـ ونيسه جيب دې، بيا به وايې، چې ورغلم چا عيدي رانکړه !

په موسکا مې ور غبرګه کړه:

ـ مننه، خير يوسې، زه يې نه اخلم، زما په ځای يې بل چاته ورکړه !

ـ ونيسه بيا نو اختر په څه شو؟

نور ما هم نه او نو ونه کړل، کميس کې دا دچپ بغل دجيب خوله مې ورته سمه کړه، مرواه رانژدې شوه، يو قسم يخه جوهري خوشبوئي ورسره مل وه، د قاب دا يوه څنډه يې زما جيب کې ور ځوړنده کړه، تر څو په ځمکه تويې نشي، د احتياط له مخې د يوې ګوندېې په کم قات کېدوه سره په دې يوه څنګ، زما په طرف راماته ولاړه وه، په دې سره يې نو دا يو اننګی زما له خولې د يوې لوېشتې په فاصله کې سخت ښه مچو ته برابر شو، له تاسو يې څه پټه نور زما نه هم ورخ اوبو يوړو د شرم او عقل سربېره ټولو حواسو مې کار پرېښودو، نرمې مې شونډې پرې وکېښودې، دشونډو ور رسېدو سره سم نجلۍ چيغه وکړه، ځای په ځای دېښو په سر کېناسته سر يې په ګونډو، کېښودو څو دانې ناخود، کشمش يوه وه، که دوې چاکلېټې هم پسې ورتويې شوې، قاب يې لا ښه و، ونه غورځو کنې شيشه يې و، ماتېدو، زه هم ووېرېدم، چې مور يې يا زموږ کور کې يې چا چيغه نه وي آورېدلې، راونه ګوري، همداسې مې پرېښوده، غټ، غټ قدمونه مې راوخيستل تر دروازه راوتلم، موټرسيکل مې تر ښکرو ونيولو غوښتل مې چې چلاند يې کړم، خو ومې نشوی کولی، داسې لړزېدم لکه پاڼه، پښو کې مې بلکل د پايډل وهلو سيک نه و، په همدې کش او ګير

کې وم، تر شاه مې د وړو وړو سلګیو غږ شو، چې سترګې مې ورواړه وې مرواه وه؛ زما د ورکتلو سره سم یې شروع وکړه:

ـ سپیه! کوني !بې شرفه! ته صبر چې زه دې مور دربانديې خبره کړم !

هڅه یې کوله چې تېره شي، خوا دا چې زموږ دکور لاره ما او موټرسیکل بنده کړې وه، ویې نشوی کولی، تېزه تېره شي، ترڅو تېرېدله ډېرې زارۍ مې ورته وکړې:

ـ خیر دا ځل مې وبښه، بیا قسم ده که داسې وکړم، په خدای ج که دې خوا ته در وګورم !

خو نجلۍ ونه منله، مخامخ ښکته شوه، له هغه بل څنګ نه یې زموږ دروازې ته ځان جوړ کړو، ور ننوتله، له زړه مې یو خدای ج خبر و، د بدن لړزه څه وه، تا به وېل چې په روانه زرنجه کې سور یم، اګر چې مور مې ددې شان اندک ترینې بد اخلاقۍ په وړاندې تل ډېر سخت حساست ښودو، خو بیا هم وېرېدم دومره نه، لکه شرمېدم چې، ځکه تر دې دمه مې دخپلې کورنۍ سربېره په دوستانو کې هم دیو ډېر باادبه او سنګین، هلک موقف درلود، هېڅ داسې د بې حیایۍ، بدخلاقۍ دوسیه مې نه لرله، پوره باور یې راباندې لرلو، په درنده سترګه یې راته کتل، کشران څه، اکثره وخت به مشرانو هم لالا راته وېل، نو طبعاً چې هر څوک زما په ځای وی، وېل به یې: کاشکې دا ځمکه چاق شوې وی، غوټ پرې ننوتلی وی، د غم مچو یې کړې دا مې څه وکړل؟ په همدې فکرونو کې مې د موټرسیکل تر څنګ حیران بریان ولاړ وم، دروازې ته مې دوې سترګې نیولې، چې اوس به څوک راوځي څه به وایي؟ اوس به راوځي، لنډه دا چې لس، دولس دقیقې ووتلې، لا څوک راښکاره نه شول، شل، پنځه ویشت دقیقې وروسته، د دروازې دستګیر وکړېږدو، د چا خبره زړه مې د پښو تر تلو تېر شو، چې کتل مې، واپس یوازې مراوه را ووتله، بل څوک نه پسې ښکارېدل، بیا یې هم له ما لار چپه کړه، هسې په مخکنۍ لاره راتاو شوه، کله چې زما تر شاه خپلې دروازې ته تېرېدله، په همدې تلو کې یې وېل:

- بې شرفه !ډېر زړور شوی یې، ته دې یو ځل کور ته ورشه! په همدې سره یې غرځ دروازه راپورې کړه ننوتله، زه څو دقیقې نور هم ولاړ وم، لا هم زموږ دکور نه څوک رابنکاره نشول، موټرسکل مې لږ د دېوال خواته کړو، تصمیم مې ونیولو چې کلي ته به ښکته شم تر بېګاه به دا خبره څه سړه شي، خو چې پښو ته مې پام شو، زاړه بوټ مې پښو و، پښو بوی هم پکې کولو، صرف د موټرسیکل لپاره به مې کله، کله پښو کول، کنه نور له کاره لوېدلي و، د عید د ورځې دپښو کولو خو بیخي نه و، کلي کې مې هم د ځینو همزولو سره سیالي لره، تل به مې هڅه کوله چې په هره برخه کې له دوی ښه اوسم، نو په همدې اساس هېڅ مې نشوای کولای، چې په دې چټلو، زړو، بوټو کې پرې ورګډ شم، هغه هم د اختر په ورځ، بلخوا په کور کې هم وضعه داسې اضترار ي وه، چې پرې ورننوتل زما له جرئت بلا لوړ کار و، تر څو دا بوټ مې ایستلي وی، څپلۍ مې راپښو کړې وی، د همدې پاڼ او پړانګ تر منځ لا هم د دروازې تر مخ هک فک ولاړوم، چې بیا د دستګیر کړپار شو، سم دم دروازه پسې راخلاصه شوه، له وېرې او خجالته مې تر بدن سور تاو جګ شو، مور مې راوتلله د تل په څېر عادي یې راته وکتل، په غټه سره پلاستکي کاسه کې دلوښو منځلو اوبه (لوښنی) یې مخامخ وړاندې وشیندو، واپس یې ماته مخ راوړولو کړل یې :

-دوا دې راوړه، خنګه وه دمروا مور؟

ـ هو، را مې وړه، اوس ښه وه!

ـ ښه ده چې ښه شوې، مرواء هم اختر مبارکۍ ته راغله، ویې وېل، زړه مې ښه شو!

د مور سره د همدې خبرو په جریان کې د دروازې تر خلاصه پله یې غږ راتلو خویندو مې په برنډه لوبې کولې خندل یې، معنا د کور وضعیت مو عادي و، پوه شوم چې مرواګۍ خبره نه ده کړې، ایله مې لږ د سکن ساه واخیسته، نور نو تر هر څه تېر شوم، راساً سړې خونې ته ولاړم د چفرکټ له پاسه دبسترو په سر اوږد وغځېدم، ساعت نیم ساعت وروسته مې مور له وره سر راهیسته کړو کړل یې:

اوو وړکیه !ته اختر، ښه شپه نه لرې؟ مریض خو به نه یې ولې پروت یې؟

ـنه موري! مريض نه يم، هسې لږ ستړی شوم درځم !

نور يې څه ونه وېل، ور يې راپورې کړو، ولاړه، څو شيبې لا نه وې تېرې چې له حويلۍ يې په جگ آواز د خوشامندو غږ راغلو کړل يې:

ـ الله شکر څنگه ښه ميلمانه راغلل!

سودا مې شوه راجگ شوم، کړکۍ ته مې سر ورکوږ کړو، خاله مې وه؛ دوې يې لورانې يو يې وړکی زوی ورسره و ،ترڅو چې دې دوئ سترمشې سره خلاصيده، زه هم د دهلېزه وره ته ور ووتلم، ستړي مشي مو وکړه اطاق ته راروان شو، څو دقيقي ورسره کيناستم لږ غورې مرې مو وکړې، يو گيلاس چای مې ورسره وڅکلو، نور مې دوئ پرېښودل، زه ترې راجگ شوم؛ په عيني حال کې د مرواء وهم مې په زړه داسې منگولې ټينگې کړې وې، لکه بنگ مې چې څکولي وي، نه د چا سره په خبر پوهېدم، نه په ناست، نه ولاړ، فکر او پام مې ټول په مرواء، مچو او همغه صحنه کې و، حتا شونډې مې يو قسم بې حسه، درنې وې، ته وا د مرواء اننگی مې له ځان سره پکې راوړی، لا هم زما په شونډو کې دی. خو په هر حال څپلۍ مې پښو کړې، کلي ته راښکته شوم، د ماشومانو چغ فوغ و، چا چارمغز گټل، چا نورې رنگ رنگ ساعترۍ کولې، اما زما توجه هېڅ خوشند نه پرې وهلو، فقط لکه خوب چې وينم، ان دا محيط او چارپېريال يو بل شان راته ښکارېدل، حتا ځمکه مې يو قسم نرمه احساسوله، ته وا په سفنج گرځم، يو وخت مې له هاخوا په لوړ غږ خپل نوم تر غوږه شو، چې ور ومې کتل، صديق د مسجد دېوال ته څېرمه شنه خوله نيولې، سلطان او کريم يې تر څنگ ولاړ دي، ورغلم جوړ پخير او اختر مو سره مبارک کړو، دوئ روان و، زموږ د يو بل ملگري حفيظ الله دوئ کره، غوښتل يې ما هم ورسره بوځي، خو دا چې زما خيال او فکر هوايي و، څنگه مې چې مخکې ووېل، نه د چا سره په خبر پوهېدم، نه په ناست، نه ولاړ له دې کبله مې د بهانې په پار ورته کړل:

ـ ولا برادره !ښه خبره دې وکړه، خو افسوز زموږ کره ميلمانه راغلي، زه يې ترکارۍ پسې رالېږلی يم !

- څه نو بيا ترکاري دې يوسه، دلته څه (.......) ورکوې؟

ددې خبرې په کولو سره ټولو يوه خوله وخندل، که څه هم صديق مې کلک ملګرى و، د موقع په برابرېدو سره به يې تل ټوکې کولې، خو بيا مې بې ځوابه هم نه پرېښودو؛ مګر دلته مې هېڅ فکر نه راټولېدو چې د ټوکې په تول تلى ځواب مې يې ورکړى وى، صرف ورغبرګه مې کړل:

- ماښام ته به دې زه خوښ شم، ته هم پوهېږې چې اوس وخت نه لري !

په همدې سره ترې راروان شوم، کور ته له را رسېدو سره نارسيده تقريباً لس، پنځلس مترو په انداز لاره به لا پاتې وه، چې زموږ دروازې ته څېرمه د مرواء دوئ دروازه خلاصه شوه، د قسيم انا ترې راووتله، فکر کړم د مور پوښتنې ته يې او يا به د اختر مبارکۍ ته ورغلې وه، پسې جوخت مرواه هم خوشحاله غټې غټې پاکې سپينې او تورې سترګې دروازه کې پسې راودرېده، په اننګي ئې د ويښتو لام ټال وهلو، د لمر په وړاندې يې د ټيکري د څنډو زرينې پټې همغه شان سپرغۍ پاشلې، په ما يې د سترګو لګېدو سره سم، ما زر خپلې سترګې تر مخ غځېدلې لارې ته ښکته کړې، ځان مې جيب کې په لاس وهلو مصروف کړو.

مرواء د قسيم په انا غږ وکړو:

- تروري خداى ج دې مل شه؛ خپه نشې، اې وخته دې لکه چې دروازه ډېره ټکولې وه، وبښه اطاقونه مو لري دي، زر نه پرې خبرېږو، په خوا به مې د ورځې ښېخى نه ځينځيره وله، اوس وېرېږم، بې حيا خلک پيداکېږي !

- نه؛ نه؛ لورې! ښه کړې دروازه دې ځينځيروه، پيغله نجلۍ يې هسې نه کوم سپى مو دروازې ته متيازې وروکړي !

ددې خبرې په آورېدو سره مرواء ښه په کړس وخندل، زړې انا بيا ورغبرګه کړه:

- خانده مه لورې ټوکه نکړم، وخت خراب دى، بيا د پيغلو نجينو په لمن خو ډېر آسانه تور داغ لګېږي !

- ربښتیا وایې ترورې! پښې دې وچې نشي، ځه خدای ج دې مل شه، ملالۍ او بصیره ته مې سلام وایه!

- وعلیکوم سلام ښاده شې !

انا په همدې سره روانه شوه، زه هم نور قریب د دوئ د دروازې مخ ته ورسېدم؛ سترګې مې ښکته اچولې وې، نه پوهېږم چې مرواء به ماته کتل کنه، لا به هم قهرجنه وه؟ او که به مې د قسیم د انا دخبرو تر اثر لاندې سره شوي دمخ رنګ ته موسکۍ وه؟ ځکه چې زما وضعیت خو هسې هم په څڅېدو و، د زړې انا دې جملې چې: (دروازه دې ځنځیره وه، کوم سپی متیازې ورونکړي ) یو بل ډېر دروند ګزار و، فقط لکه له مچو چې خبره وي او دا خبره یې مستقیماً ماته کړې وي.

خو په هر صورت د انا له رخصتولو وروسته په داسې حال کې چې زه یې هم تر مخ د تېرېدو په حال کې وم، درب دروازه یې راپورې کړه، زه هم خپل کور ته ننوتلم، خلاصه دا ورځ تېره شوه؛ سبا مې ایله څه ناڅه رنګ ځای ته ورغلو، بل سبا لا پسې ښه وم او همدسې...

البته، له یاده مه اوباسئ، چون سره خفه شولو، له دې هاخوا کیسه څو قدمه، د مینې او حیا تر منځ په غلا، غلا او خورا بارک انداز وړاندې ځي، هیله ده، حوصیله مو وساتئ، هاخوا ډېر زر بیا سره چراغونه پکې لګي، بلا نادرې به درواوروم، تاسو راځئ کیسه راسره تقیب کړئ .

د اوس لپاره واپس ورځم مخکنۍ خبرې ته مې، بلاخېره دهفتې په تېرېدلو سره تقریباً خپل عادي حالت ته راوګرځېدم، د زړه دربار، د ښنو لړزه مړزه مې ورک شول، خو بیا هم د هغه سندرغاړي خبره چې وایي: مینه اور دی عالم...

ربښتیا هم سره ددې چې یوه مچو یې دومره قېمته راته تمامه شوه، پوره یوه هفته یې پښې راولړزولې، هوش او خیال مې تږول هوایي و، ولې بیا هم په خوږو ملهم، ملهم خبرو اورېدو او د هر رنځ دوا پاکو پاکو چلاکه ښایسته سترګو په لیدو، همدارنګه د اننګي له پاسه د ویښتو د لام د ټال وهلو، په تماشه پسې مې یې هره لحظه سترګې وتلې، خو له بدمرغه روحیات مې یې په وړاندې کاملاً له لاسه ورکړي و، هېڅ مې یې سترګو

ته سترګې نشوی ورپورته کولی، کني که څه هم له څو میاشتې مرورتیا وروسته به د مرواء وخت ناوخت غیرې مستقیم ځینو کړنو او خبرو داسې پیام له ځان سره لرلو، چې ګویا غواړي زر تر زره مې ورسره پخولا کړي، د بلګې په بڼه: یوه ورځ مې خاله راغلې وه، مرواء یې دخپل کور له خوا زموږ حویلۍ ته د دېوال په کنډو کې راولاړه وه، د خاله سره مې یې مجلس کولو، زه هاخوا په برنډه ناست وم، د برق ملیت مو خراب و، په هغې مې پېچکش را اخیستي و، همدې وخت کې مې د خاله زوی چې تقریباً شپږ، یا اووه کلن و، د حاویلۍ په دروازه رانوتلو، لرې مو له مخې پوزه یې دومره راوتلې وه، چې له خولې یې هم تېره وه، تر زنې یې ښکته زنګېده، د خاله خو مې لمړی ورپام نه و، چې ښه ورلنډ شو، ورپام یې شو، لمړی یې په لوړ آواز نارې کړې وی‌ی‌ی‌ی ...خدای ج دې ورک کړه، دا ګړنګو ته دې ګوره! بیا پرې ورټیټه شوه، د پوزې ورپاک کولو سره سم یې په شاه کې یو کلک سوق هم ورکړو، هلک په زړا شو، خاله مې چې له مرواء نه پرې وشرمېده کړل یې:

- چې قران ورته ونیسم بېرون (بهر) ته مه وځه، خبره مې نه پرې لګي، اوس وګوره ځان یې په یخ داسې کړی په خپلو ګړنګو نه خبرېږي !

مرواء ورته کړل:

- خیر وهه یې مه ورکی دی، په وړکتوب کې د ډېرو ماشومانو پوزې ګړنګنې وي، چې غټ شی دا یې بیا تر ټولو هسکه وراچوي، زموږ کلي کې یو هلک و، اوس ځوان دی، چې په وړوکوالي کې دې لیدلی وی؛ خدای که دې اوس هم ټکله (ډوډۍ) زړه ته شوې وی، مګر نن سبا چې دده کیسې او کارونه ووینې بووو ...

په دې خبرې سره یې ماته هم خندا راوستله، اما کوشش مې کولو چې دا پوه نشي، خو هر څو مې چې ځان هاخوا دې خوا کولو پوه شوه، خپله خبره یې همدلته پرېښوده، لمړی شاه ته په ملا ماته شوه واپس راسمه شوه جوړه څپړې یې ددېوال له پاس په شړک کېښودې، یوه شیبه یې ښه په کړس، کړس وخندل،

که څه هم ظاهراً یې زما خاله ته ډاډ ورکولو؛ خو په عین حال کې یې له ما نه دوړې وځنډلې، ځکه چې په ماشومتوب کې زما د پوزې وضعیت هم ډېر خراب و، حتا تر دې چې یوه ورځ زه او مرواء دواړه د کوټه ګیو جوړولو په لوبو مصروف و، پوزه مې بار بار راوتله، خو لاس مې په ختیو ککړ و، پاکولی مې نشوی، واپس به مې پورته کش کړه، بل ځل بېخي ډېره را اوږده شوه، چې کش مې کړه، ټوله کش نشوه، نیمی مواد یې د مرواء په لاس ور وځښېدل، دځښېدو سره سم ما ترې منډه کړې، دا هم راپسې شوه لاس یې له ځان نه لرې نیولی و، منډې منډې غوښتل یې چې راګیر مې کړي، لاس یې واپس زما په کالیو را وموښي، خو ښه وه، سترې شوه، نور یې دمنډې وس نه وو، ودرېده، لاس یې د کاظم کاکا په دېوال ور ومښلو، بیا یې دفاروق دوئ له ډېران نه یو کاغذ راپورته کړو، پرې پاک یې کړو، واپس ور وګرځېده، ټوله غوسه یې زما په کوټه ګۍ سرړه کړه، په لغت یې ووهله، رنګه بنګه یې کړه، ددې علاوه پټکې یې کولې:

- ته دې بله ورځ دا مرداره پوزه ما ته رانژدې کړه، پلانکیه، بستانکیه ...

همداسې دې مثال ته ورته، هغه د مچو له موضوع نه دوې درئ میاشتې وروسته، چې لا هم نه سره غږېدلو، یوه ورځ مې مور ډوډۍ پخوله مرواء د سپاچې په څنډه ور ناسته وه، خدایزده چې کیسه یې په څه کې وه؟ خو کله یې چې زه تر څنګ راتېردم مرواء کړل:

-هو خاله! ځینې نوي ځوانان همداسې دي لمړی په ځان پوه نشي، لکه لیوه حمله وکړي، خو لږ دې چې وه وېره و، ته به وایې چې ساه یې وخته، لکه پاڼې داسې به لړزېږي، یو کال یې رنګ ځای ته نه ورځي!

همدارنګه یوه ورځ یې د زردالیو خستکې ماتولې، چې په ما یې سترګې ولګې دې، یو دم یې دچیغې په کولو سره خېز کړل، جګه شوه، سوټک یې هاخوا وغورځولو، دچپ لاس ټولې ګوتې یې په خوله ننیستلې، بل لاس یې په ګېډه ونیولو، څه په ملا را کوفه، څه یې ګونډې قات کړې، ځان یې کږ وږه کړو، په جفته، پښو یې پورته ،پورته خېزونه وهل، ځای په ځای ځرخېده، په زوره، زوره سسوېدله.

خدايي چې شي په دې سره يې هم ډېره سخته خندا راوستله، چون دا هم دګوتې ټوکلو په وخت زما دماشومتوب له عادتونو نه و، عين تمسيل يې وکړو.

خو ځان مې کلک کړو، دلته مې ونه خندل؛ شکوريه حيرانه ورته ولاړه وه، بار بار يې غږ پرې وکړو:

- ته لرې کړه! ته لرې کړه! کوم ځای دې خوږ شو؟ زه ترې تېر شوم، ددهلېزه په وره ننوتلم؛ دننه مې په ستوني کې حصاره کړې زوروره خندا ها دکندهاريانو خبره رايله کړه، ښه مې ورته وخندل، په عين خندا کې مې ددې دخندا غږ هم تر غوږه کېدلو؛ شکريه ته به يې نو خدايزده چې بيا څه بهانه کړې وي؟

خلاصه، تل به يې وخت ناوخت له مناسبې موقع نه په استفاده پورته مثالونو ته ورته نامستقيم ګوزارونه کول، هڅه يې کوله چې ومې خندوي بلاخيره ورپخولا مې کړي، شايد دا به په دې نه پوهېده چې هلک مې په وړاندې روحيات له لاسه ورکړي، کني په زړه کې يې راپسې زيړی دی، يا به پوهېدله، په دې کړنو به يې ماته جرئت راکولو، تر څو ور وغږېږم، دپخوا په څېر عادي اوسو.

ولې ما به چې هر څو ډاډ ځان ته ورکړو، يا به مرواء بار بار چانس راکړو، مستقماً به يې دخبرو کولو موقع راته برابره کړه، متاسفانه زه به دتل په څېر خوبو وړی ابو وړی پاتې شوم، چانس به مې له لاسه ورکړو، په داسې حال کې چې د بل هر چا په وړاندې ښه دلاوره وم، خو اصلاً دلته راز بل څه و، څنګه چې لمخه مې ووېل، يو خوا نوي دعشق په دنيا راګډ شوي و، نور څه حتا له يو بل نه به هم حيا راتلله، نو طبعاً په داسې باريک وخت کې، يو ناڅاڅه زما دومره لوی او له تصوره لرې اقدام، هغه هم په داسې نامناسب وخت کې چې دې بېچاره يې د خپلې مهربانۍ لمخې جيب کې ميوه رااچوله او زه ظالم ناګاهانه پرې ورټيټ شوم، مچو مې ترې واخيسته، بناءً يو مې په خپله دې کړنه ډېر ترې خجالت وم، بلخوا په هغې ورځ دې کافرې مرواګۍ، ډېر سخت ووېرولم، د همغې ورځې وهم مې په وجود کې داسې ژورې ريښې کړې وې، چې سل زړونه به مې سره وتړل بيا مې هم جرئت نشوی کولی چې، سترګې ورپورته کړم. ولې ما به بيا هم

هخه کوله، ترڅو مرواء پوه نشي، چې ګویا راته شرمینده دی، په وړاندې مې یې روحیات له لاسه ورکړي. بلکې کوشش به مې کولو، څو ځان داسې ورته وښایم، چې ګواکې سخت درنه خپه یم.

خو عین حال کې، زما او مرواء تر منځ که هر حال و، بیا هم ددک به مې یې چې چېرته ولیدو، پوښتنه به مې ترې وکړه، که کوم کار او خدمت به یې و، ورته کولو به مې، یوه ورځ مرواء زما د مور او خویندو سره د شاته کونډیانو کره، واده ته ولاړه، زه ورغلم د مور پوښتنه مې یې وکړه، همداسې هر کله به مې چې موقع پیداکړه، ورتللم پوښتنه مې یې کوله.

لنډه یې دا چې دې حالت تر ډېره دوام وکړو، بل ورځ ژمی وو، دشپې واوره شوې وه؛ سهار مې چې لمونځ وکړو، ورجګ شوم لمړی مې خپل بامونه تور کړل، بیا د کلا د شاه له طرفه د دوئ بامونو ته ور وختلم، د واورې په پاکولو ولو مې شروع وکړه، یو دوه بامه پاتې و، چې ځنبو، پښ مې تر غوږه شو، ترڅو مې ورکتل غبرږ یې وکړو:

- دا درواخله !

چې مخ مې ورواړولو، مرواء د حاوېلۍ له طرفه د زینې په نیمایي کې راولاړه وه، د سینې تر منځنۍ برخې نیمه تنه یې د بام له څنډې راښکاریده، لاس کې قاب یې زما په لور رانیولی و، د لیدلو سره سم مې مخ ترې راواړولو، صرف دومره مې وویل:

- همدغلته یې کېږده!

- یخېږي زر یې وخور!

غبرږ مې ونکړو، قاب یې کېښودو، ددې چې څنګه سر دبام له څنډې پناه شو، پارو (واوره پاکون) مې وغورځو، ورمنډه مې کړل، چې کتل مې دوې ښې ښایسته او ګرمې پراټې یې راپخ کړې وې، لا هم غوړ پرې چونېدل، زه نو له یو خوا سم سترړی بلخوا وږی او یخ نیولی وم، په دې وخت کې به نو له ګرمو پراټو

ښه خواږه څه و؟ پرې ور بسم الله مې کړل، دا یوه خو مې په دوه ګولو کې نوشیجان کړه، په دوهمه مې چې شروع کوله وړاندې د دالان په دربچه (کړکۍ) کې مې یوه سایه تر سترګو شوه، لکه دالان کې چې څوک وي، فکر مې وکړو شاید مرواء ګۍ وي، ما به څاري چې پراټې خوري کنه؟ ددې کیسې په لیدو که څه هم د لمړۍ پراټې په دوې ګولې کولو، یا نادیده او وږي انسان په شان خوړلو وشرمېدم، خو هغه اوبه تر ورخ تېرې وې، ددې دوهمې په خوړلو مې ډېر ادبانه پیل وکړو؛ د یوې خرما په اندازه به مې ترې رابېله کړه، دوې درې دقیقې به مې خوله کې ژوله، تر څو مې یوه اندازه خوړله، نور یخه کرخه شو؛ ولې بیا هم تر دې نیمایي مې ورتېره کړه، نور مې ګوتې په قاب کې تر پراټو لاندې اخبار ( کاغذ ) په څنډو پاکې کړې، قاب مې واپس سره دپاټې نیمې پراټې دبام په ژۍ ورکېښودو، اګر چې موړ نه شوم، دا نیمه څه که دوې نورې هم وی، نوشجان کولې مې.

خو په هر راز مقصد پس له آته، نهه میاشتو لمړی ځل و، چې دا دوې، درې کلمې خبرې مو مستقماً سره وکړې، تر پسرلیه مو دا لړۍ همدسې وساتله، چې ډېر ضرورت به شو، په لنډو کې به مو یوه دوې خبرې سره وکړې، که څه هم دې به هڅه کوله چې دا ریکاټ مات کړي، خو په ما کې لا هم دا توانایي نه وه، د ټولو خبرو ځواب به مې یې صرف د یو هو، یا نه، په وېلو ورلنډ کړو.

بلاخېره پسرلی فکر کړم د ثور دمیاشتې پنځلسم، که شپاړسم وه؛ چې طارق له کابل نه زنګ ووهلو کړل یې:

- د کانکور نتایج اعلان شوي، زیری مې دربانـدې، د مزار کمپیوتر ساینس پوهنځۍ تـه کامیاب یې، پسې زیاته یې کړه: په پنځه ویشتم د ثور درسونه شروع کېږي باید ځان ور ورسوې!

ددې خبرې پـه آورېـدو ډېـر زیـات خوشـحاله شـوم، طـارق تـه مـې د مننـې سربېـره د زیـري ورکـول وعـده ورکـره، نـور تلیفـون قطعـه شـو؛ رامنـډه مـې کـړل، پـه مـور او خوینـدو مـې زیـری وکـړو، دوی هـم بـلا خوشـحاله شـوې، حتـا مـور مـې پـه ژړاه شـوه، ددې عـادت و، اکـثره وخـت بـه چـې ډېـره

خوشحاله شوه، په ځای ددې چې وخاندي، اوښکې به يې راتويې شوې، څو لحظې نه وې وتلې، چې مرواء منډه را اخيستې وه، د فريښتې له خولې خبره شوې وه، لمړی مې يې مور ته په خندا او خوشحالۍ سره کړل:

-خاله، مبارک! فريښتې ويل لالا مې پوهنتون ته کامياب شوی!

-خير يوسې لورې، ښاده شې، تاسو ته دې هم مبارک وي اکبر خو تنها زموږ نه دی، ستاسو هم دی!

بيا يې ماته مخ راواړو:

-اکبره! مبارک، ما ته خو دومره تکړه نه ښکارېدې!

-خير يوسې!

-بختوره انجينر به شې! فريښتې خو ويل: انجينرۍ ته کامياب دی؟

-تقريباً همداسې يې وګڼه!

-څه فکر کړې چې زه، به ډېره خوشحاله يم، که ته؟

زړه مې و، يوه تشکوري ترې وکړم؛ خو له بدمرغه جرئت ياري ونکړه، يوازې په لږ موسکا مې ځان تېر کړو.

بيا مې يې مور ته مخ ورواړولو:

-هو رښتيا، مور مې هم مبارکي ويله ډېره خوشحاله شوه!

-خير يوسې لورې مورکې ته دې خدای ج جوړ وجود ورکړه!

ربنتیا هم د مراوء په دې خوړو او پستو الفاظو بار، بار مبارکي وېل، تمثیلي نه و، یا هم یوازې زموږ خوشحاله کول یې هدف نه و، بلکې له هر حرکت، ناستې ولاړې، همدارنګه لحظه په لحظه، زموږ او تر خپله کوره یې په خندا او مستانه تلو راتلو صداقت او ریښتنولي له ورایه ښودله، واقعاً خورا زیاته خوشحاله وه، حتا که ووایم چې له ما او زموږ د فامیل له نورو غړو ډېره خوشحاله وه، ممکن دروغ مې نه وي ویلي.

خو په هر صورت دڅو ورځو شپو په تېردلو سره هغه ورځ راورسېده، چې سبا باید زه خپل پوهنتون او درسونو ته ورشم؛ ان له سهار نه مې په تیاري نیولو پیل وکړو، جامې په بیک کې کېږده، بوټونه رنګ کړه؛ زموږ په اصتلاح خلیفه (سلمان) ته ورغلم ویښته مې اصلاح کړل، همداسې نور، ورځ په همدې منډو ترړو تېره شوه، د ماښام آذان ته څو دقیقې پاتې وې، د دروازې کړپار شو، کړکۍ ته ورسم شوم، مرواء وه، د پیچکې لام یې په اننګي ټال وهلو، یوه سپینه نوې، غټه پلاستکي خلته یې لاس کې رانیولې وه سرې غټې غټې انګلسي- لیکنې پرې شوې وې، تقریبا د دریو کیلو په اندازه څه پکې و، تر څو مې له سترګو پناه کېده، د نرۍ، نرۍ ښکلا ډکو سترګو په دیدن مې یې ښې سترګې خوږې کړې، چون تر شیشه دننه څوک نه ښکارېدل، زه یې نه لیدم، په برنډه راتېره شوه، دهلېزه کې مې د مور سره مخامخ شوه، له سلام او سترې مشي وروسته یې کړل:

-دغه واخله اکبر ته مې څه وچه مېوه، یو څو روغنځوښۍ (بوسراغې) راوړې، خور مې راوړې وې، زموږ یې څوک نه خوري، په مسافرۍ کې ښې دي، که چېر ته یې ټکلې ته لاس ونه رسېږي، وبه یې خوري!

-نه لورې! خیر یوسې دا بېرته یوسه کوم میلمه به درته راشي، اکبر خو څه بیابان ته نه ځي مزار لکه کابل غټ ښار دی، هلته هر شی پیداکېږي!

نجلۍ موسکۍ شوه کړل یې:

-د میلمانو برخه مې پرېښې، ټول خو مې نه دي راوړي واخله!

-په دې کار خو دې په خدای ج خپه کړمه!

-نه مه خپه کېږه، خوشې خرابېدل!

په همدې سره د خلتې کړپار شو، مور مې ترې راواخیسته، د مننې تر څنګ دعاګانې یې ورته کولې.

مرواء دخلتې تر تسلیمېدو وروسته کړل:

-د خدای پامان لاړم!

-پاپې شه، زموږ سره!

-خیر یوسې مابښام دی، اوس به مې ددک هم راشي، د شلغمو شکنه ) پیاوه ) یې غوښتې ترخو رارسېږي، چې ورته تیاره یې کړم!

-موږ تور بانجان پخ کړي، یو قاب درکړم؟

-نه هسې مې د غرمې کتغ هم پاتې دی، خو ددک مې په غوړو کې سره کړي شی نه خوري، په معده یې ښه نه لګېږي!

-ښا، ځه خدای ج دې مل شه، مور ته مې دې سلام وایه!

د وعلیکوم سلام په وېلو سره یې، د دهلېزه د وره غنګ شو ووتله، زه بیا کړکۍ ته ورسم شوم، په حویلۍ کې لکه د ګلابو ونه، ځانګې، ځانګې روانه وه، قدرتي سرې نازکې شونډې یې ورو، ورو پسېدې، پسې موسکه شوه ویې خندل، خدایزده په کوم خیال پلو کې تللې وه؟ دروازې ته

پـه رسـېدو سره يـې قـدم ونيولـو، لمـړی يـې پيکـي تـه څـنګ ورکـړو، پـه سره سـپين اننګـي پـوروت لام يـې، د غـوږ حـريم تـه ورتېـر کـړو، بيـا يـې غـبرګ لاسـونه ورجـګ کـړل، د سر لـه پاسـه د جګـري نازک ټيکري ژی يې په دوه، دوه ګوتو ونيـوې څـه يـې مـخ تـه راتېـر کـړو، خـرف دسـتګر تـه يـې تـاو ورکړو ووتله، ښـه و، زمـا دهيلـې سره سـم، تـر څـو بيـا راځـم وينمـه يـې ددې وروسـتي ديـدن خـوراه ښايسته انځورونـه يـې پـه سـترګو کـې راپـاتې شـو، د مـرواء د وتلـو سره سـم، مـا لـه حـاوېلۍ سـترګې راټولې کړې، مـخ مـې راوړو، چـې ګـورم مـور مـې د اطـاق پـه نـيم کښ وره کـې زمـا پـه تماشـه ولاړه ده، که څه هم ډېر سخت خجالت شوم، زر مې کړل:

-دروازه خلاصـه شـوه، ماوېـل چـې څـوک دي؟ مـرواء لکـه چـې راغلـې وه؟ هسـې يـوه نجلـۍ خـو مې لږ تر سترګو شوه!

مور مې کړل:

-ښـا ماوېـل چـې څنګـه کړکـۍ تـه ور پـه ګونـډو يـې، هـو مـرواء راغلـې وه، داخلتـه واخلـه څـه يـې درته راوړي، چې پوهنتون ته يې درسره يو سې!

-څه دي؟

-خپله يې وګوره!

لاس مـې ورتېـر کـړو، خلتـه مـې تـرې راواخيسـته، چـې راومـې سـپړله يـوه پاوکـت کـې يـې د يـوې کېلـو پـه انـدازه چـارمغر، پسـته، بـادام، شـنه کشـمش پاوکـت کـړي و، بـل پاوکـت کـې روغنځوښـۍ وې.

غوښتل مې ددې مېوې له پاوکـت نـه يـو مـوټی راوخلـم، زه او مـور بـه مـې يـې وخـورو؛ چـې راپورتـه مې کړو، خوله يې ډېره کلکه ور چسپولې وه، په شکولو مې يې زړه ونشو.

مور ته مې سترګې ورواړولې:

-ویې شکوم اشتیا یې لرې؟

-نه، نه پرېږده بیا دې بیک کې بادېږي!

-ولا مورې! له مورۍ نه دوئ ښه دي، مورۍ خو هغه دچا خبره دا شیان لا پېژنو نه؛ په اختر کې مو هم یو، یو پاو سپېره ناخود؛ سیمیان؛ پوچک کشمش رانیولي وي، د اختر په پنځمه دومره نه وي، ترې پاتې چې ملا یې دم کړي!

-هو زویه! دا شیان یې مشره خور (سارا) ورته راوړي، کنې ددک بېچاره خو یې چې صرف هغه ډوډۍ هم راپیدا کوي افرین پرې!

څه سر مو ګرځوم؟ لنډه دا چې کالي مالي مې بسته کړل، شپه تېره شوه، تراب استاز ته مې مازیګر زنګ کړی و، چې موټر کې یې د یوه نفر ځای راته پرېږدي، سهار وختي ان له آذانونه مخکې یې زنګ وکړو وېل یې:

-راؤځه!

زر، زر مې جمفر واغوستلو، بیک مې اوږې ته کړو، په وېښتو مې ګوتې کش کړې، یوازې مور مې ویښه شوه، تر دروازې راپسې وه، په دروازه کې مو خدای پاماني وکړه، زه ترې راووتلم، موټر حرکت وکړو، ترڅو چې سترګو کار کولو، له شیشې مې لیدله مور مې په نیم کښه دروازه کې راپسې ولاړه وه، پاخه سرک ته چې راووتلو لا هم توره تیاره وه، له یونیم موټر هاخوا چې په مخه به راغلو چیراغونه به یې ښکاره شول، نور هېڅ نه معلومیدل او همداسې یوازې د موټر دماشین غږ، او شاه سیټ کې دیاسین کاکا خراری چې سره هماهنګ و، نور

خاموشه خاموشي وه، پس له يو ساعت مزل وروسته د آسمان لمنې راسپينې شوې، کرار کرار رڼا شوه، د دوراني بازار ته نارسيده موټر يو دتيلو پمپ ته ورتاو شو، ډرېور کړل:

-دا لمانځونه به وکړو!

موږ هم ورسره امين کړه، ښکته شولو د پمپ په وړکي مسجد کې مو لمانځونه وکړل، واپس مو حرکت وکړو، شاوخوا لس بجې وې کابل ته ورسېدو، خدايي چې شي سخت وږی وم، خو ډوډۍ مې ونه خوړله، وېرېدلم چې ناوخته نه شي، بيا به د مزار موټر نه پيداکېږي، په ګړندي قدم ښکته راغلم کوټسنګي کې د هوايي پله هغه خوا ټيکسيـ وانانو نارې وهلې: - - - کارت مامورين، بادم باغ، سرای شمالي...

د يوې کرولا يو نفر کم و، پکې ورکېناستم، حرکت يې وکړو؛ څو دقيقې وروسته سرای شمالي ته ورسېدو؛ بيک مې غاړه کې واچو د مزار اډې ته ور روان شوم، په لاره کې مې له يوې کراچۍ نه دوه پيرکي ( بولاني ) هم په اخبار کې راسره ونغاړل، چې اډې ته ورسېدم، يو مارسديس مخ کې ولاړ و، ډرېور يې نارې وهلې دو نفر، دو نفر...

همدې ته ور وختلم تر څو زه کېناستم بل نفر هم راپيدا شو، موټر چلاند شو، دمخ په سېټ کې ناست ډنگر سپينږيري کړل:

دعا د خير!

-لاس مو پسې پورته کړل، ډرېور يې په برګ دسمال چلتار ووهلو، حرکت يې وکړو، د کوتل تر سره ډېره لاربندي وه، د ډرېور مو د نور ډرېورانو سره څو ځل چغ پورته شو، يو بل ته يې کنځلې کولې، تر کوتل هاخوا لار خلاصه وه، طبعيت يې جوړ شو سګريت ته يې اور ورکړو، ما مې هم غلي دګونډو تر منځ د بولانيو اخبار راخلاص کړو، د ځنګ ملګری ته مې هم د سر

په ښورولو سره ساعت وکړو، خوله یې جنګه کړه، ګونګیانو غونډې یې لاس خولې ته جګ کړو، چې ګواګي ما ډوډۍ خوړلې، خیر یوسې!

وړی وم، نور مې نو ددې سر له بولاني نه یوه غټ ګوله راپېل کړو؛ چې خولې ته مې کړو داسې تریخ وه، لکه زهر هغه د چا خبره په دوه پښو یې ودروم، له پوزو او سترګو مې اوښکې رارواني شوې، لمړی مې قصد وکړو، چې واپس یې اخبار کې راتف کړم، بیا مې څنګ کې ناست نفر نه وشرمېدم، زر زر مې یو دوه ځله غاښ پرې تخته کړل، غوړوت تېر مې کړو، نور مې بېرته په اخبار کې وپېچلو، د خوړلو نه و، د ماشین او مخې چوکۍ تر منځ قات کې مې ورتخته کړو؛ خوله خو هسې هم تر ډېره ویده وه، نه پرې پوهېدم، باور وکړئ له معدې مې هم لکه له تناره نه همداسې سور تاو راختلو، ان تر چهاریکارو مې وضیعت ښه نه و، پس له هغې څه ښه شوم، اګر چې معده مې سوزېدله، زړه مې و، ډرېور ته ووایم: د یوه دوکان مخ ته دڅو ثانیو لپاره راته ودرېږه یو بیسکوټ، میسکوټ را اخلم، خو ښه و تر څو مې ورته وېل بیک ته مې پام شو، د مرواء روغنځوښۍ رایادې شوې، زر پرې ورټیټ شوم، بیک مې خلاص کړو، په خلته کې مې لاس ورواچولو د پاوکت خوله یې ډېره کلکه ورچسپولې وه، مجبور شوم، له څنګ نه مې وشکولو، یو ښه موشت مې ترې راوخیستې له یوې خوا زه ډېر وږی وم، بلخوا فکر کړم په شیدو کې یې پخ کړې وې، بل قسم خوشخوره، پستې بوسراغې وې، په جبل سراج کې مې بیا لاس ور وغځولوو، یو ښه موټی نورې مې راواخیستې، د سالنګ ښایسته منځیره، او د مرواء خوندورې روغنځوښۍ د مشرقیانو خبره بل رقم چک یې لګولو، ان تر پلخمریه مې خوړلې، لنډه دا چې د شپې اوه نیمې بجې وې مزار ته ورسېدلو، شپه مې همدا د اډې په هوټلو کې وکړه، سهار سرک ته راووتلم، پوهنتون نه و رامعلوم، یوه ټیکسۍ مې راودروله، ډرېور شیشه ټیټه کړه:

-کجا؟

-تا پوهنتون چند میري؟

-صد افغانی!

-نه چه میگه، یک قدم راء است شست بتم؟

-بیا هشتاد بتی!

ورسره کېناسم، حرکت مو وکړو، پنځه، شپږ دقیقې وروسته یې موټر ودرولو کړل یې:

-اینه پوهنتون!

بیک مې راوخیستلو، راښکته شوم؛ اتیاه روپۍ مې تر شیشه ورته ونیولې ټیکسي‐ مې روخصت کړه، لړ لړ مې په ویښتو ګوتې ووهلې، د اوږې دسمال مې راوخیستلو له جامو مې د سفر دوړې څنډ وهلې، پرې ور روان شوم، د پوهنتون مخ کې لس ګونه محصلین هاخوا دېخوا ټولی، ټولی ولاړ و، څوک ناست و. دروازې ته نژدې یو ځوان د ګلدان په څنډه ځان تکیه کړی و، دوه نور یې مخې ته ورولاړ و، افغاني جامې یې په تن وې، ښایسته ویښتان غځې، غټې سترګې، نوراني څېرې یې لرلې، میده میده یې سره خندل، زړه کې راولوېده شاید پښتانه وي، لړ پښه نیولی شوم، چې د دوئ هم راپام شو، ور روان شوم، سلام مې وراچولو، د وعلیک سره سم لمړی مخکني هلک لاس راته ونیولو، بیا مې دې نورو سره ستړي مشي‐ وکړه، شک مې په یقین بدل شو، هلکان پښتانه و، ورته خوشحاله شوم؛ ګلدان ته تکیه هلک کړل:

-پوهنتون ته راکامیاب شوی یې؟

-هو!

-ښا، ډېر ښه، الله ج دې راوله!

-مننه ژوندی اوسې!

-د کوم ځای نه راغلې؟

-له وردګو نه!

مخامخ هلک ته موسکی شو، ورته کړل یې:

-امممم آصفه! بچېشه کار دې جوړ شو، نور ولاکه موږ بېخي ووینې!

بیا یې ماته مخ رواړو د سترګو په واسطه یې دچپ لاس ملګري ته اشاره وکړه:

-آصف هم د وردګو دی، زه د ننګرهار یم، نوم مې فرید احمد دی، دریم ملګري ته یې لاس ونیولو زیاته یې کړه: ضیاء لوګری دی!

-ښا ډېر ښه خوشحاله شوم ولا!

- مننه، تل خوشحاله اوسې، کومې پوهنځۍ ته راکامیاب شوی یې؟

- کمپیوتر ساینس ته!

- ښه خانګه ده، خدای ج دې ورته تکړه کړه!

- ژوند ستاسو سره!

- ته به سترې یې ځئ لیلیه ته ولاړ شو، دمه به جوړه کړې، بیا به راشو ثبت نام به وکړې!

ضیاء غږ وکړو:

- هسې لا سترې کېږي، چې اوس یې تر لیلیې بیایې، یو ساعت وروسته یې راولې، معاون صیب شته ځی ثبت نام به وکړو، مخ به مو یوه شي!

-هو ولا بد دې ونه وېل راځئ!

فريد احمد مو تر مخ شو معاونيت ته ورننوتلو يوازې معاون صيب ناست و، سلام يې وروا چو سترې مشي مو وکړه. معاون صيب کړل:

-فريد خيرت است؟

-آ معاون صيب! خيرت است، اين جوان قومي ام است، نو به پوهنځي کمپيوتر ساينس کامياب شده!

معاون صيب ماته مخ را واړولو:

-ای ډي نمبر پيشت است؟

-بلې!

-ماره، همرای تذکره تان بتې!

ای ډي نمبر او تذکره مې ورکړل، په راغلو ليستو کې مې يې نوم پيدا کړو، حاضرۍ ته يې ورسولو، فريد احمد ته يې سترګې ونيولې:

-اينه فريدجان! ديګه چه خدمت؟

-قربانت شوم معاون صيب! به اجازه شما، باش که امي کارهای ليليه ايشان هم خلاص کنم!

-برو پنايتان به خدا!

له معاونيت نه راووتلو، د ليليه د مدير شبه ته ورغلو، تر اوليه سلام کلام وروسته فريد احمد زما په اړه خبرې ورسره شروع کړې، مدير صيب کړل:

-په لمړي منزل دوهم اطاق کې پنځم چپرکټ خالي دی!

فريد احمد په خندا کې ورغبرګه کړه:

-د دريم منزل نوي چپرکټ او بسترې چاته ساتې؟

-تر څو لاندې منزل ډک نشي برسېره څوک نشو لیږلی!

-لاندې به هم ډک شي مدير صيب! دا زما ملګری ډېر ښه سړی دی، په خندا يې پسې زياته کړه: ته به ګورې چې اوړی څنګه د وردګو منې درته راوړي!

په دې خبره يې مدير هم موسکی کړو؛ بلاخير خبره يې پرې ومنله، د ليليه په تحويل دار باندې يې يو کوچنی خط راکړو، نور مو خدای پاماني ترې راوخيستله را روان شو، تقريبا شل پنځه ويشت دقيقې لاره وه، ليليه ته له رسېدو سره سم، په مخه کې دې تحويل دار شبه ته ورننوتلو دمدير خط مو ورښکاره کړو، تحويل دار دخط متابق ښه نوې بستره راکړه او په دريم منزل کې لمړی څپرکټ يې راپسې ورسولو، لاړو بستره مو په چپرکټ کې آواره کړه، آصف ماته مخ راوړولو کړل يې:

-تنها د زړه تنګېږې، تر څو دې نور اطاقيان راځي ته به له موږ سره واوسې، يو ملګری مو له ډېره وخته نشته چپرکت يې خالي دی!

-ژوندی اوسې، نه انشاءالله نه تنګېږم!

-ته هم ژوندی اوسې، راځه خو که بيا دې موږ سره زړه تنګ شو، واپس به راشې!

ورسره روان شوم اته شپې مې د آصف دوئ سره وکړې کور يې ودان څومره چې له څېرو ښکلي و، همغومره يې زړونه هم ښکلي و، په ټول توان يې زما دخوشحاله ساتلو هڅه کوله. پس له اتو شپو مې خپل اطاق ته راغم، ملګري مې راپوره شوي و، د څو شپو ورځو په تېرېدو

سره بلد شو، یو بل مو وپېژندل، همدرنګه د پوهنتون او لیلیه د ماحول او اصولو سره مې هم ځان جوړ کړو، نور مې په نورمال ډول دخپلو درسونو وېلو ته ادامه ورکړه، ان تر دې چې اوړی شو، د ټول پوهنتون امتحانونه شروع شول، یوازې زموږ دلړیو ټولګیو یې وځنډول استاذانو ویل: ستاسو پروګرامونه پس پاتې دي، پسرلی دکانکو دنتایجو ځنډېدو له کبله درسونه مو په خپل وخت شروع نکړل، خلاصه تر څو زموږ امتحانونه شروع کېدل دنور پوهنتون محصلین ټول د اوړي په روخصتۍ کورونو ته ولاړل، تر څو زموږ امتحانونه خلاصېدل دوئ واپس راغلل، زموږ رخصتي پکې مدغم شوه، ومې نشوای کولی چې کورته ولاړ شم، که څه هم نوې مسافري وه، کورته مې زړه ختلی و، روخصتۍ ته به مې شپې ورځې شمارلې، خو له بدمرغه نصیب نه و، په دوام دار ډول مې دوهم سمستر ته ډډې ورکړه؛ لمړۍ شپې ورځې وې اطاق کې مې د نوکرۍ نوبت و، د دهلېزه په دست شویۍ کې مې ګیلاسونه مینځل، یوه ملګري مې له اتاقه غږ راوکړو:

-راشه زنګ درته راغلو!

ګیلاسونه مې ځای په ځای پرېښودل، ورغلم زنګ مې مور وهلی و، مبایل مې راسره راوخیستلو واپس دهلېزه ته راووتلم، اوکې مې کړو!

-سلام علیکوم مورې ښه یې؟

-شکر دی زویه! ټول ښه یو، ته ښه یې، ملګري دې ښه دي، سبق دې زده کېږي؟

-هو شکر ښه دي، د درسونو سره هم ښه یم، دغلته مدینه، فرینښته ښې دي؟

-ښه دي شکر موږ ښه یو؛ خو پرون نه، هغه بله ورځ خدای ج دې وبښې د مرواء مور مړه شوه؛ مشره خور یې سارا هم له پاکستان راغله، دواړو خویند داسې چیغې پسې وکړې اګر چې تر اوسه پورې ژړي، خو ښې دي هغه ډېرې چیغې نه وهي!

-نځه، نځه، خدای ج دې وبښي!

-آمين ښه ښځه وه، خدای ج به بښلې وي.

-ددک يې څنګه دی؟

-د هغه بېچاره هم مزه نشته لوېدلی و، ګونډه يې ختلې، دا ډېر وخت ځای په ځای دی، سږ کال يې دچا ځمکه هم ونشوی کړلی، څه پيسې يې چې لرلې په دواو ترې لاړې، وضعه يې هم ډېره خرابه شوې، د مور له مرګ نه يې مخکې ډاکتر سميع يوه بوجۍ اوړه يو ټيم غوړ لږ چای او صابون ورته اخيستې و، يوه بوجۍ وريجې دقاضي فضل الحق زوی ورته راوړلې، خور او آښي يې هم ډېر لاس ورسره وکړو؛ د مور په مرګ کې يې پنځه زره افغانۍ حاجي فتاح ورکړې څلور زره مسليم ورکړې، ښه و هغه دمړي دسقواط او د کفن کار يې پرې وشو، خدای ج دې رويا نه کوي ميلمانه يې د غرمې او بيګاه ډوډۍ ته موږ راوستل د سهار چای مو هلته ورولېږلو، روزي خان او جلال دين هم څو تنه ميلمانه ترې بوتلل، څو ډېر زور يې موږ واخيستلو؛ کني دومره ميلمانه يې هم نه وه، ټول نر او ښځې پنځلس نفره نه و!

-ښا، ښه مو کړي، په دې بېچاره ګانو خو مې ولا سخت زړه بد شو!

-هو، په حال يې دمرغانو ژړا وه!

-مرواء خو يو ناسکه کاکا هم لري، دمړي مصارف ولې هغه ونکړل؟

-نه زويه! دهغو هندو له کيسې خبر نشوې؟

-نه څنګه؟

-دوې مياشتې مخکې راغلی و، د مرواء دې ددک نه يې مرواء وغوښته زوی ته يې، ددک يې ځواب کړو ورته وويل:

-ستا زوی خو گونګی دی، له عصابو نه هم جوړ نه دی، دا به ظلم نه وي؟

ده بې ښه او بده ورغبرګه کړه:

-نو ته وایې زما له زوی نه به ښه سړی ورته پیداکړې؟ ټول ولس ستا په لور کې غړېږي، موږ یې هم پکې ورګډ کړو، خدای دې وبښي ستا د آغا جان (پلار) نوم یې واخیستلو کړل یې: ستاسو ددې ګونډې مستري روستم د زوی سره یې بوی ولګېدو، له دې هاخوا مو نوم مه پرې سپکه وه، صرف ددې لپاره راغلی یم، چې دا خپله مرداري په خپله پټه کړو، کني ښځې کمې نه دي!

نور هم ډېر وګرځېدو اخېر دمرواء ددک هم ورته په قهر شو، ښه څه یې ور وکړل، سپي غونډې یې تر دروازه ویستلو!

په همدې خاطر مړي ته دخلکو له شرمه راغلی و؛ خو لکه پردی سړی لرې، لرې به ولاړو!

-بووو دا څه خر سړی دی، زوی یې زه پېژنم یو ګړنګن لېونی دی، پرتوګ په ځټ اغوندي!

-ما لیدلی چې وړکی و؛ د مور سره به یې ډېر راتللو!

-ښا، مورې زموږ چای تیار دی، په خدای ج دې سپارم، دوئ ته دې خدای ج صبر ورکړي، مور یې دې خدای ج وبښي، ولا سخت زړه مې پرې وسو!

-آمین! ځه خدای ج دې مل شه!

-ستاسره!

تلیفون قطعه شو، واپس فکر خرابی په ګیلاسو مینځلو لګیاه شوم له مینځلو وروسته مې اطاق ته ننه ایستل، صفي الله له چپرکټ نه پښې را زنګولې موسکی؛ موسکی کېدلو کړل یې:

-ښه يې چې ښځه نه يې، کني ميړه بيچاره دې په شنه آسمان غرق و!

ټول هلکان په خندا شول، ما هم په خندا سره ورغبرگه کړه:

-هو ولا وبښئ، رښتيا هم ځنډ مې وکړو، يو زنگ راغلو دهغو سره مصروف شوم!

لنډه دا چې، بلاخېره دا سمستر مو هم ختم کړو، امتحانونه شروع شول، شل پنځه ويشت، ورځې يې ونيولې، عمومي نتايج نه و اعلان شوي، خو موږ به تر هر امتحان وروسته له مربوطه استاز نه دخپلو نمرو معلومات کول، په همدې باب تر اخېر امتحان وروسته ډېر خوشحاله وم، له يوې خوا مې تقريباً اتيه سلنه فيصدي پوره کړې وه، بل خوا د ژمي په روخصتۍ سبا کور ته روان وم، ليليه ته ولاړم، جامې مامې مې راټولې کړې، ټوله شپه مې زړه له خوښۍ هواوې کولې، سهار وختي اډې ته راغلم، د کابل په سفري سه صدو چهار ( ۳۳۴ ) موټر کې راوختلم، قريب دولس بجې وې دخيرخانې کوتل ښخ کې يې بريک ووهلو، کلنډر غږ وکړ:

-بيايی بخير پاين شو، استادگاه اخير است!

راښکته شوم، وارنډې سرای شمالي خوا راغلم د کوتسنگي په موټرو کې وختلمه، گوټسنگي ته له رارسېدلو سره سم د گمپنۍ يوه مارسديس موټر ته ورپورته شوم، حرکت يې وکړو، د کمپنۍ چوک ته لا نه و رسېدلي زموږ د کلي اډې ته مخامخ مې غږ پرې وکړو:

-پاين ميشم!

بريک يې ووهلو راښکته شوم؛ په دې مخه کې مې لږ مالټې ترکارۍ مرکارۍ راسره واخيستلې اډې ته چې ورسېدم صادق استاز يې د موټر تر څنگه ولاړ و، هاخوا دې خوا يې په سوارۍ پسې سترگې اړوې، سترې مشې مې ورسره وکړه، کړل يې:

-لکه چې کور ته دې ځې پخير؟

-هو:

-کينه حاجي فقير او ښځه يې ډاکتر ته تللي زنګ يې وهلی و، اوس راځي، ځو به لخيره!

ور وختلم په موټر کې له ناستو کليوالو سره مې ستړي مشې وکړه، ترڅو مو د حال احوال پوښتنه سره کوله، حاجی فقير او ښځه يې هم راورسېدل، صادق استاز جلب ته کېناستلو، د دعا دخير په ويلو سره يې حرکت وکړو، ماښام آذان ته لا څو شېبې پاتې وې، دخپل کور مخ کې يې ښکته کړم، تر دروازه ورننوتلو سره سم خوشحالۍ شوې، مور مې په کړکۍ کې خوشحاله خوله رانيولې و، په عين حال کې يې موټی په سترګو رغړولو اوښکې يې وچولې؛ خويندو مې دروازې ته رامنډه کړل، ستړي مشي- يې وکړه، بيک او د سودا خلته يې رانه وخيستله، بلاخېره کوټې ته ورسېدم د مور سره مې هم ستړي مشي- پوښتنه موښتنه وکړه، له لمانځونو کولو وروسته مدينې چای راوړو، لمړی مو د مور او خويندو دپوښتنو اړوند د مسافرۍ، پوهنتون؛ مزار شريف؛ درسونو کيسې وکړې، د چاي په اخېر کې مې مور ته سترګې ور واړولې:

-د مرواء دوئ څه حال دی، ددک يې څنګه دی؟

-ښه دي خواران د ددک يې خونده نه وه؛ سارا پسې راغله، پنځه شپږ شپې کېږي کوټې ته يې ورسره بيولی، دواه پرې کوي، مرواء هم ورسره تللې، د روازه يې قلف ده!

خدايی چې شي ددې خبرې په آورېدو ډېر سخت خپه شوم، مرواګۍ مې سخته يادېده، بل خوا مې سودا وه، چې له پرې تېرو طوفانونو نه به څنګه وتلې وي لږ به يې خرابه کړې وي، که ډېره؟ خو ظاهراً مې خپل سور او تال نرمال وساتل تر څو دوئ مې په خفګان پوه نشي.

مور مې بيا د مرواء د مور دمرگ کيسه راواچوله، دا کيسه يې تليفون کې هم راته کړې وه، خو دلته يې چې راته وکړه، واقعاً بېخي ډېر سخت احتياجونه، خفگانونه، سختۍ په خوارانو تېرې شوې وې، ماته په اسانه ژړاه نه راځي، مگر دې راخوړين کړم؛ د مرواء ماشومتوب راياد شو، که څه هم دې به چې هر څه خوړل، ما به ترې غوښتل، تنها زما نه بلکې دا د ټولو هلکانو او نجينو عادت و، يوه به چې مزې خوله وښورېده، بل به ورته ويل: څه شی خورې ته راکړه لږ!

بيا به يې نو که ورکړل، خوشحاله به و، غنمت يې گڼل، که به يې ورنه کړل هم هېڅ خبره نه وه، کوم د شرم يا خفگان احساس به يې هم نه کولو، اما مرواء مې يوه ورځ ونه ليده چې له ما يا کوم بل ماشوم يې څه غوښتي وي، يعني ان په همغه ماشومتوب کې يې ډېر ښه اصيل خوی لرلو، طبعيي يو قسم غيرت او غرور، خدای ج ورکړی و، هيڅ يې نشوای زغملی چې چا ته دې کمه شي، چا ته دې د احتياج لاس وغځوي او همداسې يوه ورځ زما او مرواء په شمول څلور، پنځه ماشومان و، د پټ پټوني لوبه مو کوله، منډې مو وهلې د مرواه د پرتوگ کشک وشکېدو؛ زر يې لاس ورواچو، پرتوگ يې يو سانتی ښوېدو ته پرې نه ښود، خو بيا هم صرف ددې کشک له شکېدو سره لمړی له شرمه داسې تکه سره شوه، لکه سره منه، بيا پړينگ په ژړا شو، د پرتوگ گنډه يې د لمن له پاسه کش پورته ورنيولی و، په سلگيو سلگيو يې کور ته روانه شوه، په داسې حال کې چې زما په شمول د نورو هلکانو او نجينو به هر ورځ شکېدل ترخو به مو د منډې سرعت راکمولو، پرتوگ به مو له پښو راپورته کولو، څو قدمه به په لوڅ ځان تللي و، ټول شيان به مو خلکو وليدل، خو بيا يې هم کيسه کې نه و، د خلکو سره به موږ هم خندل، پس دې ټولو ته په کتو، د مور د کيسې په کولو سره، زړه کې راتېره شوه: هغه شرمناکې، هغه د احتياج او له چا نه څه غوښتلو په وړاندې اساسې، ننگيالۍ مرواء به د مور دغم سربېره، دا احتياجونه، د ميلمانو لپاره د ډوډۍ د انتظام بې وسي، حتا د کفن لپاره پيسې نه لرلو دردونه څنگ زغملي وي؟

همدا و چې نه یوازې زما تر سترګو یې اوښکې وبهولې، مور مې هم پس له نیمایي پاتې کیسه په ژړا ژړا پای ته ورسوله.

نور مو دمجلس پیغکې را ونغاړلې، موټرو خسته کړی وم، ویده شوم، شپه تېره شوه، سهار وختي مې حمام وکړو، جامې مې بدلې کړې دا ورځ مې میلمه غونډې تېره کړه، سر له سبا مې په خپلو کورنیو کارونو لاس پورې کړو، چارچاپېر محیط کې د هر ګام په اخیستلو سره د هغه ځای اړوند د مرواء خاطرې او یادګارونه ذهن ته راتلل، ځینې به جالبې وې لکه لیونی ځان سره به موسک شوم وبه مې خندل؛ ځینې به خواشنونکې وې، تر ټوله بده صحنه به بیا هغه وه چې په دروازه پراته ستر قلپ به مې یې سترګې ولګېدې، خو په هر صورت شپې ورځې وې تېرېدې، هره ورځ به مې یې د راتلو په هیله پیلوله، کلي ته به چې موټر راغلو ورځک به شوم، ان تر دې چې پسرلی شو، مرواګۍ رامعلومه نشوه، زما واپس پوهنتون ته دتلو وخت شو، د تېر په څېر جامې مامې بیک کې واچولې روان شوم، څنګه چې تېر ځل په خوشحالۍ او پوره انرژۍ سره روان وم دا ځل برعکس ډېر په مات زړه مې حرکت وکړو، بار بار به مې ځان ته ډاډ ورکړو: چې سړیه! نه دې کور څه مشکیل و، نه دې پوهنتون او درسو کې کومه ستونزه شته، بیا نو دا خفګان په څه معنا؟ ګوشکې به مې غوږو ته کړلې مبایل کې به مې یوه ښه مسته سندره پلې کړه، اما دڅو شیبو په تېرېدو به دا هم رابانډې بوج شوه؛ دتبلې دربار به مې په سر کې داسې غږ خپل کړو، لکه جنګي راکېټونو، واپس به مې لرې کړې.

بلاخېره په همدې پور خون زړه پوهنتون ته ورسېدم، د پخوا په شان مې خپلو درسونو ته دوام ورکړو، نه پوهېږم چې پنځلسمه؛ که شپاړسمه ورځ وه؛ کور ته مې زنګ وکړو، موبایل مدینې جګ کړو، پوښتنه موښتنه مو سره وکړه، د خبرو اترو اخېر کې یې کړل:

-پرون مرواء او ددک یې هم راغلل!

-ښا، ددک يې څنګ دی پښې يې نه دي ښې شوې؟

-تر هغه وخت نه لږ ښه دی اوس په لکڼه تر برنډې راوتلی شي!

-ځه ښه دی، خدای ج دې نور هم ښه کړي!

-آمين

-که کوم خدمت نه وي، سلامونه کوه، نور دې په خدای ج سپارم صرف احوال مې اخيستلو!

-ژوندی اوسې وعليکوم سلام؛ خدای ج دې مل شه!

تليفون قطعه شو، خو دقعطه کېدو سره سم آرمان راغلو چې ناکي مې دمرواء پوښتنه هم ترې ونکړه، بيا زړه کې راتېره شوه: ځه ښه و چې ترې ومې نکړه، ممکن تر پامه يې ښه نه وی ورغلی، چې ګويا څه ضرورت دی چې د يوې پېغلې ګاونډۍ داسې ګرمه پوښتنه کوې؟ تش په پوښتنه هم څه نه کېږي، خيره دا ځل چې په رخصتۍ ولاړ شم پخير، په خپلو سترګو به يې ووينم، په همدې انتظار مې شپې ورځې تېرولې، بلاخېره امتحانونه راورسېدل، حتا نور لا تېر وو، يوازې دری امتحانونه پاتې و، ماسښين و موبايل ته مې زنګ راغلو، له جيب نه مې راويستلو مور مې وه، د اوکې سره سم مې سلام ور واچو، پوښتنه مو وکړه لږ هاخوا دې خوا وغږېدو اخېر کې مې د مرواء د ددک پوښتنه ترې وکړه، کړل يې:

-مزه يې نشته د خوارکی، مشره لور يې سارا او ميره يې هم راغلي، د جمعې په ورځ يې ددک او مرواء بيا ورسره بيايي، وايي: دوا يې خلاصه ده، ډاکتر ويلي و، چې دری مياشتې وروسته يې بيا راولئ!

افففففف دا خبره نه وه، سم د تبر ګوزار يې وکړو، چون راتلونکې جمعې ته زموږ هم امتحانونه خلاصېدل، کور ته راتلم، د مور د باقي خبرو ځوابونه مې په لنډو، لنډو الفاظو ورکړل، بلاخېره

د خدای پامانۍ په کولو سره مو موبایل قطعه کړو، حیران وم چې اوس څنګه وکړم؟ یو ځل مې تصمیم ونیولو چې تر وروستي امتحان تېر شم، خو له بدمرغه وروستی امتحان مو د استاذ رسول و، دا داسې یو عجیب جدي انسان و، که له نن ورځې خطا وی، پس له وخته یې بیا هېڅ عذر معذر نه منلو، له همدې کبله مې دوهم تصمیم دا شو، چې د پنجشنبې په ورځ د وروستي امتحان له ورکولو وروسته د کابل اډې ته راغلم، د هغه موټرو ټیکټ مې وکړو چې د شپې په دوه بجو به راوتل، تر څو مخکې له دې چې زموږ دکلي موټر کابل ته راورسېږي، زه هم باید ور ورسېږم خدای ج مهربان دی که اډه کې یې یو ځل ووینم، ځکه چې مرواء دوئ هم لمړی کابل ته راتلل له کابل نه بیا د کندهار په سه صدچهار (۳۰۴) د وخت تېز رفتاره سفري موټرو کې تلل، ورته وامې ړول، شپه مې اډه کې شوه، یوه نیمه بجه مې ساعت زنګ وکړو، پسې ورجګ شوم، موټر کې د ټیکټ اړوند په خپله چوکۍ کېناستم، د وعدې سره سم په دوه بجو یې حرکت راوکړو، لنډه دا چې تقریباً سهار په اوه نیمو بجو یې د کابل سرای شمالي کې ښکته کړو، سم دم ټیکسي- کې راوختلم کمپنۍ کې خپلې محلي اډې ته راغلم، هاخوا دېخوا مې پسې وکتل له وحید استاذ پرته نور کلیوال ډرېور مې تر سترګو نشول، موبایل مې راویستلو، مور ته مې زنګ وکړو له کورنۍ پوښتنې وروسته مې ووېل:

-بیګاه مې د مرواء ددک په خوب لیدو، خدای ناخواسته مړ خو به نه وي؟

-نه زویه! خدای ج به یې جوړ کړي، سهار لاړل د رفعي تونس ورته راغلو اوس به کابل ته رسېدلي وي!

د رفعي شماره تیاره راسره وه، د مور سره تر تماس قطعه کېدو وروسته مې رفعي ته زنګ ووهلو: رفعي مې همزولی و، یوه نیمه ټوکه مو هم سره لرله، همدا و چې د اوکې سره سم یې د سلام په ځای یوه پوچه خبره وکړه، یادول یې مناسب نه دي خو په هر راز سره ومو خندل اخیر کې مې ورته کړل:

-وړکیه! چېرته یې؟ که کابل ته راځې چې درته منتظر شم، له دې خوا مې درسره یوسه!

-تر چوک ارغندۍ درتېر شوم، فقط لس دولس دقیقې صبر وکړه در رسېږم!

رښتیا هم لس پنځلس دقیقې پس راوسېدو موټر یې په اډه کې وړاندې گوښې ته تېر کړو، سواري یې ښکته کړه، یوازې مرواء، ددک، او مشره خور یې په شاه سېټ کې ناست و، اوښی یې هم راښکته شو، په ټیکسي- راوستلو پسې سرک ته ووتلو، ترڅو د کندهار اډې ته پکې لاړ شي، له همدې موقع نه په استفاده، زه هم لنډ ورغلم، لمړی مې د موټر تر څنگ یې ولاړ رفعي سره ستړي مشي- وکړه تر یوه لحظه ورسره تم کېدو وروسته را تاو شوم د تونس د دېډې دروازه مې راکش کړه، موټر ته د سر ور دننه کولو سره جوخت مې سلام واچولو، دسلام ځواب راکولو سره هم محال د مرواء مشرې خور چې ما به هم د مرواء په خوله خورکه ورته ویل دا هم تقریبا ځوانه نجلۍ وه، ډېره ښه ځواني یې درلوده، په عین حال کې خورا شریفه ښځه هم وه، دې لاس راته ونیولو ستړي مشي- مو وکړه، بیا لږ ور وځغېدم د ددک لاس مې راونیولو ددې سره تر ستړي مشي- وروسته، مرواء چې له دوی ټولو وړاندې ناسته وه، د تور عربي حجاب له پاسه یو لوی ټیکری یې هم له ځان نه تاو کړی و، خوله او پوزه یې په گلابي رنگه سره ماسک کې پټ و، یوازې دوې سترگې یې ښکارېدې، وخوځېد، راوخوځېده زړه یې وو، چې لاسونه سره ورکړو، خو له بده مرغه امکان نه و، ممکن تر منځ مو د ددک پښه خوږ کړې وی، مجبور شوم له همدې ځای نه مې ورته کړل:

-مرواء ته هم ستړې مشې!

ماسک یې له خولې او پوزې راښکته کړو، کړل یې:

-خیر یوسې!

بیا مې د ددک نه پوښتنه وکړه:

-ددکه! څنګه يې؟

-په جږ ورږ غږ يې کړل:

-ښه يم!

-الله ج دې کامل صحت درکړي، انشاءالله جوړېږې، په دې خبره پسې مسلسل مې د مرواء مشرې خور ته سترګې را واړولې:

-خورکې! ددک دې لکه چې بيا کوټې ته درسره روان کړی؟

-هو، ډاکتر راته ووېل چې دا دوا يې خلاصه شوه، بيا يې راولئ، اوس يې دوا خلاصه شوې د پښې درد يې هم زيات شوی!

-نځه، نځه الله ج د عاجله شېفاء ورکړي!

-خير يوسې اکبرجانه! امين، ته ښه يې؟ له خاله خو مې دې پوښتنه کوله!

-مننه، خير يوسې، ښه يم الحمدالله په دې ساعت شکر دی!

په همدې سره مې مرواء ته سترګې ور واړولې:

-مرواء! ددک خو اوس شکر تر مخکې نه ښه دی، ما خو نه و ليدلی، اما چې کورته به مې زنګ راوکړو، پوښتنه مې يې کوله، مخکې ډېر تکليف و!

-هو شکر له هغه وخت نه اوس ښه دی!

-ځه! انشاءالله دا ځل چې دواه وکړي، بېخي به ورسره روغ او جوړ شي!

غلې شوه، په خوله یې څه ونه ویل، یوازې پاکې پاکې اوږدو باڼو لرونکې ښایسته غټې سترګې یې ارامې راپورته کړې، د څو ثانیو لپاره مو مسلسل سترګې یو د بل سترګو سره وتړلې، د همدې څو ثانیو په لړ کې یې د سترګو په ژبه پرې تېرو شو، ټولو مشکلاتو، احتیاجونو، دردونو، غمونو کیسه وکړه، د زرې زرې ماته زړه انځور یې راته وښودو.

په دې سره نه یوازې ددې بلکې زما سترګې یې هم غیرې ارادي راډکې کړې، خو زر مې ځان کابو کړو، مشرې خورته مې یې مخ وروګرځولو:

-خورکې! څه شی درته راواخلم، چې په لارو یې وخورئ؟

-تر مرعاده شې اکبر جانه! هر څه راسره شته، خیر یوسې!

څو مې دوهم ځلي ټینګار کولو تر شاه مې ټکسي- ودرېده، د مرواء اوښی ترې راښکته شو، ورسره کمک شوم ددک مې په ټکسي- کې ورسره کېنولو، د خدای پامانۍ په محال مې د مرواء خور ته بیا کړل:

-خورکې! زما د مور نمبر به درسره وي؟ د ددک د صحت په اړه یو نیم حوال ورکوه، ددې طرف نه زنګ ډېر په مشکېل روخ کېږي!

-ښا، په سترګو، هو هو د خاله نمبر شته راسره، دوئ هم انشاءالله زر رالېږم!

په همدې سره ټیکسي- حرکت وکړو، د حرکت سره سم، مرواء د شاه سیټ تر شیشې له یو جهان ښکلا ډکې خماري سترګې راواړولې، عین حال کې ترڅو څوک پوه نشي-، د خدای پامانۍ په پار یې یوازې دوې ګوتې په شیشه کېښودې، ګواکي بای بای!

ما هم د رفعي له خاطره دتندي گرولو، په بهانه لاس ورته جگ کړو، څو ټیکسي- نه وه، پناه، گوتې یې په شیشه ښکارېدې، د ټیکسي- تر پنا کېدو وروسته، رفعي د شاه له خوانه په اوږه لاس راکېښود مسوکی، مسوکی کېدو کړل یې:

-د تره زویه! گاونډیانې دې لکه چې ډېرې دربانډې گرانې دي؟ خورکه، خورکه غبږ دې راتلو، نور له خندا شین شو، د څو شیبو لپاره یې ښه په کړس وخندل.

خدایي چې شي ما ته یې هم خندا راوستله، خو د راپارېدلو احساساتو برعکس په تونده مې ورغبرگه کړه:

-ورک شه لوده! بېکاره سړی هر چا ته دغان فکر کوي!

په دې خبر مې لا پسې له خندا شنه تبی شو.

خو په هر حال، چې کیسه اوږده نشي-، که څه هم د مرواء په سفر تللو د صحنې لیدو، همدارنگه په سترگو کې بلها خبرې او پرې تېرې شوې ستونزې، درونه راسره شرکولو، ډېر خپه کړم، ان سترگې یې راډکې کړې، ولې بیا هم خوشحاله په دې وم، چې د مزار د اډې په کرغړن هوټل کې شپې کولو او تلواري راتللو مې ځای ونیولو، مرواء مې ولیده، اگر چې ډنگره شوې وه، هغه تته موسکا، د سترگو ادبانه شوخي او مستي یې ترې لوټ کړي و، د مخ سرو او سپینو یې څه زېړوالی هم خپل کړی و، اما په ټول کې نوې درې رنگه ښکلاء یې دغلیتوب سره په همغږۍ لا مزه کوله، خو په هر صورت، ترڅو کیسه په فرعیاتو لاړه نشي- راځم دې ته چې د رفعي د موټر له را ډکېدو وروسته دکور په لور راروان شوو قضاء ماسښین و، رفعي مو د دروازې سره بریک ووهلو، راښکته شوم، په موټر کې سوارۍ ته مې ساعت وکړو، مننه یې وکړه، موټر روان شو، زه په خپله دروازه ورننوتلم مور او خویندو مې د نورو ځلونو په څېر خوشحالۍ راته وکړې، خو په هر راز ستاسو په اجازه دلته بیا هم د کیسې د لنډوالي په پار

کور کې د رابانـدې تېـرو شـپو ورځـو پـه جریـان کـې د هسـکو ټیټـو لـه یـادونو تېرېـږم، البتـه یـو څـه باید ووایم هغـه دا چـې د مـرواء د خـور خـبرې تـه پـه کتـو چـې (زر يـې رالېـږم ) درې څلـور ورځـې وروسته به مـې يـې راتلـو تـه سـترګې وې، خـو لـه بـده مرغـه رامعلـوم نشـول، رخصـتي خلاصـه شـوه، بیا پوهنتون ته روان شوم، زمـا لـه بختـه دوې شـپې مـې نـه وې وتلـې، چـې کـور تـه مـې زنـګ وکـړو، خـبر شـوم مـرواء دوی راغـلي. څـه بـه مـې کـړي و؟ یـوازې تنـدي لـه مـې ټـس ورکـړو، لـه خپـل نصیب نه مې ګیلـه وشـوه، تـر ډېـره مـې فکـر خـراب و، وروسـته مـې ځـان تـه تسـلې ورکـړه، چـې پـه خفګـان څـه نـه کېـږي، څـه چـې شـوي، شـوي واپـس مـې فکـر خپلـو درسـونو تـه راوګرځولـو، پـه نرمـال ډول هـره ورځ د سـهار پـه اوه بجـو، پوهنتـون تـه تللـم، پـه یـوه بجـه واپـس لیلیـې تـه راتلـم، شاوخوا یوه نیمه میاشـت بـه مـې وتلـې وه، چـې د نـورو ورځـو پـه شـان یـوه ورځ مـې مـور بیـا زنـګ راوکړو، خو دا ځل کیسه نوې وه، له سلام کلام وروسته يې کړل:

-الـه زویـه! پـرون د مـامور تورګـل د زوی واده و، پـه وراه تللـې وم، مـدین خیلـو کـې مـې یـوه نجلـۍ ولیده، نـیم زړه مـې يـې وړی، پـه پېغلـو کـې لکـه د پنځلسـمې سـپوږمۍ غونـدې ځلېـده، یـوه ځـواني خـدای ج ورکـړې وه، یـو سـترګې یـې وې، یـوه هوښـیاره، حیاناکـه نجلـۍ وه، د بختـور پـه کـور بـه ننوځي، پسـې زیاتـه یـې کـړه، د کـوزې کـلا د شـکور لالا د اننګـور وربـره ده، پـرون دشـکور لالا کـره ورغلې وم، له اینګور نه مـې يـې پوښـتنه وکـړه، کـړل یـې :ورور مـې دکـلي پـه لیسـه کـې سرمعلـم دی، دوه دوکانونـه لـري، ځمکـې باغونـه یـې هـم ډېـر دي، یـو کـورولا مـوټر یـې هـم شـته، فقـط د خپلـې کـورنۍ چکـر او د دوسـتانو سره مـړی، ژونـدی پـرې پـالي .ډېـره درنـده کـورنۍ ده، کنـې خـدای ج شـته زمـا زړه کـې و، چـې پوهنتـون دې پخیـر خـلاص شي، مـرواء ښـه نجلـۍ ده، همـدا بـه درتـه وکـړم، ددک یـې هـم راکـوي، پـه دې هـم ګـران يـې، د خپلـې خـولې مېـوه او بـوسراغې یـې تاتـه راوړې، که خلک هر څـه پسـې وایـي مـوږ تـه خـو يـې پـاک لمنـي، هوښـیاري، انسـانیت، پـاکیزه ګـي

هر څه ښه معلوم دي، زمونږ کلي کې څه، خدای که یې په ټوله دره کې هم جوړه وي، خو پرون مې چې دا نجلۍ ولیده مرواء یې په دوړه پسې نشي رسېدلی!

موسکی شوم ورته کړل مې:

-ښا نو اوس زړه دې څه دی، اصلي خبره وکړه؟

-زړه خو مې داسې دی چې راتلونکې جمعې ته دې خاله هم راسره بیایم، ورځو درته غواړم یې، که یې راکړه هغه نجلۍ مې خدای ج اینګور کړه، د ډېرو دوښمنو به مو ذره وچوي!

-ولا مورې څه درته ووایم؟ خو څه اوس دې په خدای ج سپارم صنف ته مو استاذ ننوتلو، وروسته بیا زنګ درته کوم!

تلفون قطعه شو، ورمنډه مې کړل، د اجازې اخیستلو په پار مې د صنف ور ټک کړو، استاذ غږ وکړو:

-راځه!

سلام مې واچو دوهم کتار کې په خپله چوکۍ کېناستم، استاذ درس ته دوام ورکړو، که څه هم په ډېره اړینه موضع یې خبرې کولې، ولې ما به چې هر څو کشش وکړو فکري تمرکز مې د استاذ په خبرو نه راټولېدو، همغه د مور نه په لمړي ځل آورېدلې عجیب او غریبه کیسه کې ورجړ و، لکه بنګ مې چې څکولي وي، یا زنګو کې ناست وم؛ چوکۍ کې به مې ټال ووهلو، لنډه دا چې درسي ساعت خلاص شو، لیلیه ته راغلم ډوډۍ مې زر زر وخوړله؛ د پردې په راخورولو سره مې چپرکت ته له نورو اطاقیانو پنایي ورکړه، اوږد پکې وغځېدم د مور خبرې مې په دېر د قت تر غور لاندې ونیولې، تقریباً دوه ساعته مې ځې په ټولو اړخونو فکر وکړو، له

بدمرغه هېڅ نتیجه ته ونه سېدم، لا هم زړه نازړه وم، چې ګویا د مور سره مې د مدین خیلی جلی خبره اوکې کړم کنه؟

ځکه چې له یوې خوا مې مرواګۍ رګ رګ کې خوره وه؛ د لاسه په ورکولو مې یې هېڅ زړه نه کېدو، بل خوا مې دمور له خولې دمدین خیلی د ښکلاء ،اخلاقو، شرافت او همداسې سترې کورنۍ بې ساري صفتونو د زړه مراندې ولړزولې، دریم دا چې خدایي شي، زه هم هغه پخوانی اکبر نه وم پاتې شوی، په تول ددې یونیم کال پوهنتون ویلو کې مې شخصیت، فکر، خوی او خواصو ډېر تغیر کړی و، هغه خړ پړ اکبر نه وم، سویه مې جګه شوې وه، چون مسافري مې وکړه، د بېلو، بېلو ولایاتو د ځوانانو سره مې شناخت پیداکړی و، د داسې ځوانانو سره چې سترې سترې، کورنۍ یې لرلې، ځانوتو ته یې یو څه وېل، له همداسې کورنیو نه یې وادونه هم کړي و، یا یې کول؛ خو ما هم ځان کم نه ترې ګڼلو، اما برعکس که څه هم خپله په مرواء کې د یوې ذرې کمی نه و، ولې د کورنۍ له خوا بېخي خواره وه، خصوصاً په دې وروستیو کې خو یې بیا اقتصادي وضعیت هم بېخي پسې خراب شوی و، ان تر دې چې زموږ د هغو کلیوالو هلکانو کورنیو هم خپل عشر۔ او زکات دوئ ته ورکړی و، کوم چې ما ان له ماشومتوبه ددې هلکانو سره ډېر کلک رقابت او سیالي لرل.

ددې سربېره، څو متاهلو د اطاق ملګرو به مو هم تل په خپل مینځ کې دګپ شپ په لباس کې، دخوابنې، ښمینو له خوا نازونو، خسرګنۍ کې له مهمانیو، مزو چړچونه ژبه شرپوله، چې د وخت په تېرو سره یې موږ هم له اثره ګوښه پاتې نشو، زما په شمول هغه ملګري مو چې وادونه یې نه لرل، له داسې کورنیو یې وادونه کولو ته زړونه موسېدل، چې شتمنې وي، خوابنې او ښې ډېرې ښمینې ولري، کش او پش یې زیات وي! په ښه او بد کې دې راتول شي، غولی دې پرې ښایسته شي.

بدبختانه دې ټولو مواردو ته په کتو، تر ډېره د مور سره د مدین خیلې نجلۍ سره کوژدې کولو ته مایل شوم، ولې د مرواګۍ د مینې رېښې مې هم په زړه کې ډېرې ژورې تللې وې، دومره آسانه مې نشوی کولی چې تېره پرې راواړوم، همدا وجه وه چې پس له دومره وخت فکر کولو لا هم ونتوانیدم، ترڅو یوه قاطع پرېکړه وکړم. شپه مې هم په همدې فکر د پاڼ او پړانګ ترمنځ، کله ویښ کله ویده، هیجاني حال کې تېره کړه، سهار شاوخوا اوه بجې مې بیا مور زنګ راته وکړو، له اوکې سره سم مې سلام ورواچوه، د حال احوال پوښتنه مو وکړه، له پوښتنې وروسته یې کړل:

-ستا زنګ خو رامعلوم نشو، زما پرونۍ خبره دې لکه چې هېره شوه؟

-نه مورې! هېره مې نه ده، ولاکه پوهېږم څه درته ووایم؟

مور مې بیا د مدین خیلې نجلۍ د پرونیو صفتونو په تکرار سربېره دومره نور صفتونه وکړل:

یو عجیب ویښته خدای ج ورکړي و، یو غټې غټې ښایسته سترګې یې وې، نرۍ نازکه پوزه، غونډه منډه خوله نازکې نازکې شونډې؛ میانه جګ قد لکه د ګلو ونه او...

خلاصه دومره ستاینې یې وکړې، د نوځوانۍ جوش و، بې ادبي دې معاف وي؛ نژدې و، چې په ولاړو یې د شیطان د بازۍ ښکار کړی وم.

لنډه دا چې په نالیدلې مدین خیلۍ نجلۍ (صدف) پسې مې یې د زړه ستنې بل شان ور ړنګې بنګې کړې، د ځمکې په سر د یوازني ښکلي بشر- په حیث مې یې په سترګو او تصور کې بې انتها ښایسته تصویرونه تاوېدل راتاوېدل، ممکن نصیب به مې همداسې و، کنې دومره ساده هم نه وم او داسې مې هم اورېدلي چې په نجینو کې د انتخاب په اړه، د نوځوانۍ دوره کې د ډېری هلکانو په عقل جنسي- غریزه غالبه وي، سالمه پرېکړه نشي- کولی، ددې په ځای

چې هر اړخیزه ښه غور پرې وکړي، په دې هځه کې وي، چې زر تر زره اوس یوې ته لاس رسی پیداکړي.

خو هر څه چې و، مقصد د مور دخبرو په اخېر کې مې ور غبرگه کړه:

-خوښه دې مورې! هر څنگه چې کوې، د نرمې تمثیلي خندا په کولو سره مې، زیاته کړه: کني ما خو وېل چې زه به ټول عمر واده نه کوم، اما ته چې وایې...

نور مې خبره همدلته نیمگړې پرېښوده، له ساه اخیستلو وروسته مې پسې زیاته کړه: خو ډېر احتیات کوه!

مور مې په خبره خوشحاله شوه، لمړی یې د خندا غږ راغلو، بیا یې کړل:

-مور دې در ځار شي زویه! نه، نه بېغمه اوسه که دا نجلۍ مې درته وکړه، په ډېرو به اور بل شي ته غوږ نیسه!

-سمده مورې! توکل په خدای ج ورشۀ!

-راتلونکې جمعې ته دې زه او خاله ورځو، ترې غواړم یې که راضې مو کړل، بله جمعه به پخیر یو څو نفره ورشو گل به ترې راوړو!

له دې خبرې وروسته یې تلیفون قطعه شو، زنگ مې پسې ووهلو، شبکې جواب راکړو مبایل خاموش و؛ د دوهم ځل لپاره مې هځه وکړ، بیا هم همغه ځواب و؛ فکر کړم تلیفون یې چارج خلاص کړو، په دې سره، ما هم خپل مبایل جیب ته واچولو، چې ساعت ته مې وکتل آتو ته څو دقیقې پاتې وې زر زر مې تقسیم اوقات وکتلو ددې ورځې درسي مضامین مې برابر کړل، پتلون او یخنکاک مې واغوستل، ویښته مې غوړ کړل، تدرسۍ ته روان شوم، صنف ته له رسېدو سره سم مې په همصنفیانو سلام واچولو، تر څو په چوکۍ کېناستم استاذ هم راورسېدو،

درس مو پیل کړو؛ که څه هم هوش او فکر مې لا هم هوايي و؛ ولې بیا هم نظر پرون ورځې ته ښه وم، یوه شیبه به مې پام صنف کې و، بلـه بـه د کـوژدې پـه معامله کې سرگردانه آوښتم، راوښتم، لنډه دا چې دا څو ورځې شپې هم تېرې شوې جمعه راورسېده؛ مور او خاله مې مدین خېلو ته روانې شوې، شپه یې وکړه، سبا ماسښین په دریو بجو مې مور ته زنگ وکړو، مبایل یې اوکې کړو، په سلام پسې پیوست مې پوښتنه ترې وکړه:

-چیرته یئ؟

-دغه دي زویه! همدا اوس کورته راورسېدو!

-خاله هم درسره ده؟

-هو؛ دبیچاره سر موټر نیولی، دلته یې خنگ وهلی سلام درته وایي!

-وعلیکوم سلام؛ ښا ځنگه مو وکړل؟

-الا زویه! دومره درانه خلک و؛ داسې قدرونه عذتونه مو یې وکړل، ماخستن له ډوډۍ وروسته مو خبره ور یاده کړه اول خو یې ویل:

-موږ به خوښه وکړو؛ بیا احوال درکوو، چې خاله دې ورته وویل:

-وراره مې په مزار کې فنتون (پوهنتون) وایي کېتېر سایس دی که څه شی دي؟ زما یې نوم نه زده کېږي هغه وایي!

ددې خبره سره ښځې میره، میره ښځې ته خوشحاله، خوشحاله سترگې ور واړولې، خو نور یې غږ ونکړو؛ لږ وروسته دې خسر ویل:

-ماما ناوې! خپه نشئ، نن ټوله ورځ وګرځېدم خسته یم، یو ساعت ویده کېږم، تاسو مو خپل مجلس کوی، خیره، خدای ج دې خیر پېښ کړي!

په همدې سره جګ شو، مور هم یو ساعت وروسته ویدې شو؛ د شپې په بستره کې مېړه او ښځې مصلحت کړی و، سهار چې رارواندلو، مېړه یې کړل:

-ماما ناوې! ستاسو له کلي نه بر په ډنډکلا کې مې یوه خور واده ده، ته به یې خدایزده پېژنې کنه؟ د نورګل کډه، اوس مې زنګ ورته وهلی و، تاسو یې پېژندلی، ډاډ یې راکړو؛ توکل په خدای ج هر وخت چې راځي راشئ، څه چې زمونږ رواج دی، زه به یې په یو کاغذ کې درته ولیکم؛ که مو خوښه و؛ په دواړو سترګو دعا به سره وکړو!

-ښا، نجلۍ دې ولیده؟

-نه مشر ورور یې په هرات کې، اوسي اوس یې زوی شوی و، ښځې یې کار نشوای کولی، نجلۍ دهغه کره تللې وه، لیدلو ته یې حاجت هم نشته، هغه ورځ مې ټوله ورځ سترګې په دې کې وې، نجلۍ کې دیوې ستنې عیب نشته؛ نغمه دې ځان وخوري زویه! ته به وایې په ګوتو دې جوړه کړې!

-سمه ده مورې! خو کاشکې نن هم وی، چې خاله څه پکې وېل؟

-نه، نه بېغمه اوسه!

-ښا، نو اوس څنګه کړې، بیا ورځې کنه؟

-راتلونکې جمعې ته دې ماما هم راغواړم، خاله خو دې تیاره راغلې، ټول ورځو، که په ولور او د واده په خرڅ کې سره جوړ شو، دعا ورسره کوو، خو زه یې په خوله پوه شوم، که خدای ج

کـول راسره جـوړېږي، گومـان کـړم ننـدکلا خـور يـې زمـوږ صـفتونه ورتـه کـړي، ډېـر راتـه خوشـحاله شول!

-سـمه ده مـورې! پوښـتنه مـې کوله چـې راغلـئ کنـه؟ نـور دې وخـت نـه نيسـم، زمـا لـږ نـوټ پـاتې دی دا رسوم، خاله ته مې سلام وايه!

-وعليکوم سلام؛ څه خدای ج دې مل شه!

موبايـل مـې ورقطعـه کـړو، کتـابچې متـابچې مـې راخـورې کـړې پـه نـوټ ليکلـو مـې پيـل وکـړو، بلاخېره مازيگر شو، پـه اوداسـه او لمانځـه پسـې جـگ شـوم؛ پـس لـه لمانځـه د مصوير سره دليليـه تـر مـخ بـاغچې تـه ووتلـم، مصوير لـه هـاخوا او دې خـوا غږېـدو؛ ټـوکې يـې وهلـې خنـدل يـې؛ مـا هـم خوله جينگه ورته نيـولې وه؛ نـور مـې د فکـر ډېـره برخـه پـه واده او د مـور پـه روانـه کـړې کيسـه کـې محشـوش و، ان تـر دې چـې د ماښـام لمانځونـه مـو هـم پـه همـدې باغچـه کـې وکـړل؛ لـه لمانځـه وروسته مصـوير سـگريت تـازه کـړو؛ يـو دوه کشـه لا پـاتې و، چـې د طعـام خـورۍ پـه لاوډسـپيکر کـې غږ وشو:

-بيايي نان تيار است!

زر زر يـې يـو دوه غـټ غـټ کشـونه نـور هـم ورکـړل، بـاقي سـيگريت يـې وغورځـو؛ ور روان شـو؛ طعـام خـورۍ تـه ننوتلـو ډوډۍ مـو راوخيسـتله، د ډوډۍ اخيـر و، يـوه دوې گـولې لوبيـا مـې لا پـه قاب کې پاتې وه، مبايل ته مـې زنـگ راغلـو، چـې ومـې کتلـو شـماره نابلـده وه؛ پـه طعـام خـورۍ کـې چغو پوغ و، غږ نه آورېدل کېـدو، تـر پـاتې يـوه گولـه لوبيـا مـې تېـر شـوم، لـه طعـام خـورۍ راووتلـم، پـه همـدې راوتلـو کـې مـې مبايـل اوکـې کـړو، واپـس د بـاغچې پـه لـور ورسره روان شـوم، غـږ مـې پرې وکړو:

-سلام عليکوم!

لـه مقابـل لـوري تـر يـوه لـوی اوسـلي وروسـته، پـه ښـځينه خـورا مايوسـانه او دردمـن آواز ځـواب راکړل شو:

-وعليکوم سلام؛ اکبره! ښه يې؟

که څه هم په لمړي قدم کې مې وپېژنده چې مرواء ده، خو ځان مې واچوو ورغبگه مې کړه:

-شکر دی ښه يم، وبښه ومې نه پېژندې؟

-مرواء يمه!

-ښا، څنگه يې، ددک دې ښه دی، د خور نه دې حوال لرې ښه ده؟

-شکر دی ښه يو؛ ته څنگه يې؛ د درسو سره دې څه حال دی؟

-په دې حال شکر دی ښه يم، خيرت خو به وي غږ دې ولې لوېدلی؟

-هو! خيرت دی، مـازيگر مدينـه راغلـې وه، وېـل يـې: پـرون مـې مـور او خالـه مـدين خيلـو تـه تللـې وې، کومه نجلۍ يې کتلې، لالا ته مو يې کوو، دا رښتيا ده، که دروغ ته خبر يې؟

-هو، رښتيا ده، څنگه؟

لـه همـدې سره پـه جـگ آواز يـو کـرس راغلـو لکـه څـه شـی چـې ولـوېږي، فکـر کـړم مبايـل يـې لـه لاسـه وغورځـو، خـو لا هـم قطعـه نـه و، تـر ډېـره ورتـه غـوږ وم، لـه دې کـړس وروسـته يـو قسـم د ستړې ستړا او په خـف آواز د غتو غتو زنـدۍ شـو سـلگيو سره گـډ يـو غـږ راتللـو، عينـي لکـه څـوک چې په خولـه لاس ونيسي، پـه چيغـو چيغـو ژړا او درد سـتوني کـې حصـاره کـړي، نـور هـيڅ آواز نـه راتلو؛ بيا مې غږ پرې وکړو:

-آورې؟

دا ځل هم چا جواب رانکړو؛ مبایل کې همغه د زندۍ سلګیو او ستړیا، آواز راځي، تر څو مې بیا غږ پرې کولو، تماس قطعه شو، له دې خوا مې زنګ پسې وکړو؛ تر اخېره یې زنګونه تېر کړل، ولې ګوشي یې پورته نکړه؛ بیا مې زنګ ورته وکړو، دا ځل یې هم پورته نکړه.

څو لحظې ورته منظر شوم؛ دې هم بیا زنګ ونکړو؛ مبایل مې جیب ته کړو، اطاق ته راوختلم، ملګرو مې چای راکړی و، ټوکې ټکالې یې وهلې زما په راتلو سره امیرخان کړل:

-هغه دی، ملګری مې راغلو، تاسو اوس په ما ټوکې وکړئ!

هلکان په خندا شول، فهیم له خندا سره یو ځای کړل:

-د ملګري دې هم دا څو شپې خونده نشته طوطي یې مړ دی؛ لکه چې خیرالله خان ستاذ ته په کومه ګوښه؛ موښه کې تر ګوتو ورغلی!

ددې خبرې په اورېدو سره دخندا غږ دومره جګ شو، چې په ټوله لیلیه کې یې انګازه ولګېده؛ قاري نصیر خو چې په خندا کې یې شهرت لرلو په ګېډه لاس نیولي و؛ له خندا بېران په غولي رغړېدو؛ چون خیرالله خان استاز زموږ پوهنتون کې یو پوخته ساله، له رنګه سور چاغ استاز و، خدای ج یې دې غیبت نه کوي، خپله مې څه نه دي پکې لیدلي، خو هلکانو به ویل: ډېر سخت بچباز دی؛ په لیلیه کې یو شبرغانی هلک و، کمه کمه ګیره یې اوس راغلې و؛ واقعاً ډېره ښه ځواني یې لرله؛ خو دا ګنګوسه هم پسې پرته و؛ چې تېر کال امتحانو کې خیرالله خان استاذ د یوې نمرې په کمولو سره ناکام کړی و، تاو سر، تاو سر؛ بلاخېره دیوې مچو په مقابل کې یې هغه یوه نمره ورپوره کړه. همداسې دې ته ورته نورې حتا له دې نه ورانې نورې کیسې به هم د خیرالله خان استاذ په تړاو کېدلې، نو ځکه زما تغیر شوي رنګ او نارامۍ ته په کتو دفهیم خبره دومره جالبه تمامه شو. خو په هر حال، که څه هم زما هوش او فکر ټول له مرواء سره و، ظاهراً مې د دوئ سره هم څه رښتیا، څه په زور خوله جینګه نیولې وه، خندل مې،

چای مې راواچو د چپرکټ په خنډه کېناستم، هلکانو د انتظار شيبې شمارلې چې له فهيم نه به اوس خپل وار اخلم، ځکه زه دوئ پېژندم چې په ټوکو کې په ټوله ليليه کې څوک راته دټينګې نه و، اما بدبختانه دلته هېڅ ټوکه ذهن ته نه راتله چې دفهيم نه مې خپل وار اخيستی وی؛ که وار هم نه وی اکلً چې ددې نورو هلکانو توجه خو مې له ځان اړولې وی، خولې ته مې يې نغې نغې سترګې نه وی نيولې، له همدې مجبوريته لا هم د يوې ټوکې د راجوړولو په هڅه کې وم؛ چې کتل مو د ليلېه مدير ډېر تېز او په قهر اطاق ته راننوتلو، مخامخ ودرېدو، ټول يې مخاطب کړو کړل يې:

-دا ليليه ده که د شغالانو ځنګل دی؟ انسانان يئ که څه بلاوې يئ؟ خدای ج مو ووهه، د پوهنتون او ليليه بلا دې درواوړي... همداسې ډېرې نورې سپکې سپورې يې وويلې، اخېري جمله يې دا وه: که دا ځل مو د خندا غږ راغلو، ولا که په ټول عمر بيا ليليه کې پل رانه کېږدئ!

نور ښه شو ووتلو. که څه هم مدير صيب سخت خپه او خجالت کړو؛ مګر يوه ګټه مې وکړه؛ مخکنی مجلس رنګ شو، دفهيم په وړاندې له هغه مکلفيته په پرده کې خلاص شوم چې زما دټېرو عمر ټوکمارۍ ته په کتو ملګرو يې دقوي ځواب هيله رانه لرله؛ په داسې حال کې چې ذهن ته مې هېڅ نه راتلل؛ بلخوا چوفه خوله هم نشوی پاتې کېدلی، ولې چې په تېر کې چاته چوپ نه وم پاتې شوی، نن که چوپ پاتې وی، څنګه چې فهيم ووېل: (دا څو شپې دې دملګري خوند نشته رنګ يې الوتی) طبعاً ټول ملګري به شکي شوي و، چې رښتيا سړي ته څو څه کيسه ورشوې؟ له همدې کبله اړ وم يو څه مې ويلي وی، خو ښه و، د مدير له بې ابابۍ سره هلکان مړه، مړه خپلو چپرکټو ته جګ شول، ما هم خپل پاتې چای يو غوړپ کړو؛ پرده مې راخوشې کړه، په چپرکټ کې وغځېدم، ګوشکې مې په غوږو کې ورکړې؛ دهغه تاجکۍ نجلۍ سندره مې پلې کړه چې وايي:

رنجیده ای، رنجیده ای، عزیزم جان جان از من گنا چی شده؟[۱]»

سندره چالانده وه، زما فکر د مرواء د تماس په وروستیو زندۍ سلگیو او ورک آواز کې محشوش و، قصد مې وکړو یو ځل بیا زنگ ورته وکړم، ساعت ته مې وکتل نهه بجې وې ناوخته وه، واپس پښېمانه شوم؛ چې ممکن ویده وي، وطن کې خلک وختي ویده کېږي، گوشکې مې له غوږو لرې کړې، راکیناستم کمیس مې ویستلو ایاته کرسي مې وویله، زما عادت دی ډیری وخت پړمخې څملم، همداسې مې ښه دمه جوړېږي، خوب راځي، دلته هم دخپل عادت له مخې پړمخې پرېوتم، تر ډېره ویښوم، یو خوا مې څه د خوشحالۍ احساس کولو، هر څنگه شي په یو مجرد ځوان د واده غږ ښه لگېږي، بیا د مور ستاینو ته په کتو چې نجلۍ هم داسې یوه بې جوړې نجلۍ وي. بلخوا لکه څنگه مې چې وړاندې وویل، د مرواء مینې هم ډېرې ژورې ریښې راکې کړې وې، په هېڅ صورت مې روح او زړه نه راسره منله چې له لاسه یې دې ورکړم، که څه هم ما کوشش کولو چې نور دمرواء له اثره ځان راوباسم، خو زما هڅې ناکامې وې، پوره یې نارامه کړی وم، خصوصاً د ماښام زنگ راوهلو، بیا یې غږ ورکېدو او په ځای یې یو قسم د ستړي ستړا، زندۍ سلگیو اواز راتللو خو یې بېخي اندېښمن کړم.

په همدې خوشبنۍ، اصطراب او تشویش کې ویده شوی وم. د شپې مې خوب لیدو؛ دکلي په خوړ کې مو ډېر ستر او خطرناک سیلاب راغلی وي، لکه اوښان داسې آوښتو، اوبه یې له زیات خړولي تکې تورې ښکارېدې، دربار یې لگېدو غټ غټ دغره شنه کمر یې له ځان سره رغړول؛ مرواء دیوه پاڼ له پاسه ورته ولاړه وه، سیل یې کولو، غلی، غلی دشاه له خوا ورغلم په ولیو مې یې لاس ورکېښودل، څو یې مخ را اړولو د سېلاب منځ ته مې ورتېله کړه، د ټیلوهلو سره سم یې د چیغه سره گډ کړل: ای ظالمه ولې؟

لـه همـدې سره د سـيلاب زورروره څپـه پـرې راواوښـته، لـه ځـان سره يـې د تـورو ابـو تـل تـه ښـکته کړه، زه يـې پـه تماشـه د همـدې پـاڼ پـه خنـډه پسـې ولاړ وم، لاس مـې د پيـک پـه شـان د سـترګو لـه پاسـه نيـولی و، پـه خـوږ کـې مـې ښـکته د سـيلاب غرونـه، غرونـه څپـو تـه کتـل چـې مـرواء سره تـه راوړي کنه؟

ډېر وخت ووتلو تـر سـترګو مـې نشـوه، زړه کـې مـې راتـاو شـول: شـايد دکمـرو تـر مـنځ ورغلـې وي، ذره ذره به يـې کـړې وي، هغـه و نـور را روانيـدم، چـې ډېـر کـوز دسـيلاب مـنځ کـې يـو ډېـر ښايسـته تخت مـې تـر سـترګو شـو، قـالينې پکـې اوارې وې، پـه خنـډو يـې رنګـا رنـګ سرې او شـنې اشـارې ډېم او فول کېـدلو، سربېـره غنچـه غنچـه ګلونـه پـرې کتـار و، لکـه د وخـت پـه ټولـه تکنـالوجۍ ايـاره کويکـه (کنبـتۍ) پـه مـزه، مـزه دسـيلاب دغرونـه غرونـه څپـو لـه پاسـه روان وه، مـرواء پـه ښـکلو رنګينو جامو کې بـلا سـينګار کـړې، د يـو ښـکلي ځـوان سره چـې سـپينې جـامې او تـور واسـکټ يـې په تن و، د ايرانيانو پـه اصـتلاح (پـيش بلنـد) شـاته تـه پرېښـي تـور مـزدار ويښـتته يـې پـه وليـو پـرات و، دواړه جوړه پـه کـوچ ناسـت و، پـه نازکـه سـپينه غـاړه يـې د زيـړو ځنځـير پـړک وهلـو، مـخ تـه يـې دميـز پـه سر قسـم، قسـم مېـوې پـه قـابونو کـې ايښـې وې، سـېلاب کـه هـر څـومره وحشـتناک و، څپې، څپې اوښتو يـا يـې غوړمبـار کولـو، خـو د دوئ پـه تخـت يـې کـوم اثـر نـه لرلـو، همغـه شـان پـه آرام او خونـد خونـد روان و، زه ددې عجيـب او غريبـې صـحنې پـه تماشـه لا هـم لاس پـه تنـدي ولاړ وم، پـام مـې نـه و، تـر پښـو لانـدې پـاڼ مـې د سـيلاب څپـو وهلـی و؛ حرکـت يـې وکـړو دجګـې چيغـې پـه کولـو سره مـې راټـوپ کـړل، خـو لـه بـده مرغـه بريـالی نشـوم روان پـاڼ د مست سـيلاب د وحشي څپو په خولـه ورکـړم، چيغـې مـې وهلـې هـاخوا دې خـوا مـې منګـولې اچـولې، يـوې څپـې بـه تر انبار انبار خـړو ګيلاونـو لانـدې کـړم؛ بلـې بـه واپـس د اوبـو سر تـه راجـګ کـړم؛ ددې تـر څنـګ يـو قسـم وحشـت نـاکو غټـو غټـو داړو لرونکـو بـلاو څېـرې مـې تـر سـترګو کېـدې، زمـا لـور تـه يـې خولې را اچولې، ما تـه يـوازې چيغـې راپـاتې وې، نـور بـه مـې څـه کـړي وی؟ بلاخېـره تـر ډېـرو غپـو

مېو وروسته چې نور له چيغو هم لويدلی وم، ساه مې پاکه ولاړه وه، يوې خپې د ابوه سر ته راپورته کړم، د راپورته کېدو سره سم مې دمرواء دوئ په تخت سترګې ولګېدې، ترې د تېردو په حال کې وم؛ که څه هم د مرواء سيلاب ته راغورځولو ورسره کړي ظلم له وجې مې د مرستې اميد نه ترې لرلو، خو هغه متل ده چې وايي: بد ساعت سرې هر څه ته مجبور وي، همدا و، چې ما هم په ټوله سپين سترګۍ او بې شرمۍ د مرستې غوښتلو په پار دوې بدريغه چيغې پرې وکړې، د دوئ چې راپام شو، تخت يې زما لور ته رانږدې کړو، مرواء او ورسره ځوان دتخت له څنډې جوړه لاسونه د مرستې لپاره را وغځول، ما هم د دوئ لور ته منګولې غورځولې، څنګه مو چې د ګوتو سرونه سره ولګېدل.

د اطاق ملګري مې فيصل تر مټ ونيولم ټکان يې راکړو په لوړ غږ يې کړل:

-اکبره! اکبره! جګ شه ولې چيغې وهې؟

چې سترګې مې رالوځي کړې دليليه په چپرکټ آرامه پروت وم، نه سيلاب و، نه مرواء وه، نه تخت، په خپلو خولو کې لوند خوشت وم، زړه مې لکه د وېرېدلې مرغۍ په يوه ذربه غورځېدو؛ کلمه مې ووېله راکيناستم، فيصل ته مې کړل:

-مننه وروره چې راويښ دې کړم، ډېر يو وحشت ناک خواب مې ليدو!

-داسې چيغې دې وکړې چې زما دې نږدې ذره چاودلې وه، د همدې خبرې په کولو سره فيصل رانه راون شو!

دسمال ته مې لاس کړو دمخ او غاړې خولې مې وچې کړې، د خولو وچوالي سره سم څو لحظې د ليدلي خوب په فکر کې لاړم، اخبر کې موسک شوم زړه کې مې کړل: خوب هم عجيب شي وي، نور پسې ونه ګرځېدم.

مبایل ته مې لاس ورتېر کړو ساعت مې وکتلو پنځه بجې وې تقریباً سهار و، واپس پرې نه وتم؛ کمیس مې واغوستلو جګ شوم، د آذانو ګړنګو پړونګ و، اودس او لمونځ مې وکړل، واپس مې چپرکټ کې وغځېدم مبایل کې مې ګوتې وهلې، د اطاق نوکري د کریم وه، یو وخت یې غږ وکړو: راځئ چای تیار دی! چې پرده مې پورته کړه، دسترخوان په غولي اوار و، ډوډۍ پرې اېښې وه، کریم په ګیلاسونو کې بوره اچوي، ملګري راځي له دسترخوان هاخوا دې خوا کیني، زه هم ورجګ شوم، دفیصل ترڅنګ کیناستم، فهیم چې د دسترخوان له هاخوا مخامخ راته ناست و، کړل یې:

-د شپې دې څنګه چیغې وهلې؟ خوب اخیستی وم، د وسه مې نه کېدل چې درجګ شم، کنې تر ښنه مې نیولې له دې کړکۍ مې د لیلیه د تعمیر شاه ته غورځولې.

هلکان په خندا شول، جاوېد پسې زیاته کړه:

-خوب کې به خیرالله خان استاذ بیا په کومه ګوښه موښه کې راحصار کړی و!

ددې سره د خندا غږ لا جګ شو؛ قاري نصیر خو له ډېر په ملا ماتېدو، راماتېدونه ګیلاسه هم وراړولو.

دهلکانو خولې لا له خندا نه وې راټولې چې د دسترخوان له بر کونج نه د اطاق دمشرـ فرهاد په تونده لهجه غږ راپورته شو، هلکان چپ شول، فرهاد کړل:

-هغه بېګانی عزت مو بس نه دی، چې مدیر صیب راکړو؟ اخیر شرم دی، رښتیا یې وېل شغال خانه خو نه ده؟ پسې اوږده یې کړه...

اخېـر کـې يـې وېـل: کـه دا ځـل مـې پـه اطـاق کـې د چـا لـه خـولې ټوکـه او داسـې خنـداګانې واورېـدې، زه لـه دې اطـاق نـه تبـديلي اخلـم، تاسـو بـه نـه شرمېـږئ، د مـدير بېګـاني بـد رد وېـل بـه اثر نه دربانديې لري، مگر زه يې نشم برداشت کولی!

د مشر له خبرو وروسته مې په ټيټ آواز فهيم او جاويد ته صرف دومره ووېل:

-زه به په تدريسۍ کې ستاسو سره ګورم!

نـور خـاموشي خـوره شـوه، چـای مـای مـو وخوړلـو جـګ شـوم درشي مـې وغوسـتله تقسـيم اوقـات مې برابر کړو، روان شوم، کريم غږ وکړو:

-تر اوسه وخت دی، صبر لږ وروسته به ولاړ شو!

-تاسـو راپسـې راځـئ، پـه بـازار کـې مې د يـوه هنصـنفي دوکـان دی زه هلتـه ځـم لـږ کـار مـې دی ورسره!

په همدې بهانـه لـه اطـاق نـه راووتلـم، د ليليـه تـر عمـومي دروازه وتلـو وروسـته مـې مـرواء تـه زنـګ وکړو، څو زنګونه يـې تېـر کـړل، اخېـر کـې يـې اوکـې کـړو، لـه دردمنـې لـوې سـاه اخيسـتلو پـس پـه ټيټ او لوېدلی دمرواء دغږ سره کاملاً په متفاوت غږ يې کړل:

-سلام اکبره ښه يې!؟

-شکر ښه يم، مرواء يې؟

-هو!

-غږ دې څنګه بدل شوی؟

-خدايزده ستونی مې لوېدلی ددې تاثير به وي!

-ښا، ددک دې څنگ دی؟

-شکر دی ښه دی!

-پرون دې زنگ ووهلو له هغه یو څو خبرو وروسته دې غږ ورک شو، سودا مې شوه څه دې وېل؟

-زړه کې مې ډېرې خبرې وې او دي، خو یوه د سوز چیغه مې مرۍ ته راغله په خوله مې لاس کېښود همغه مې تربت کړه نور هر څه ولاړل!

-ولې؟

-د ولې په ځواب دې خپله ښه پوهېږې، مگر دومره درته وایم؛ منم، مدین خیلې نجلۍ به له ما ښکلې وي، مگر څومره مینه چې زه ستا سره لرم، څومره چې ته ماته گران او قدردان یې او کومه مینه چې له ماشومتوب نه تر دې دمه ما تاته د راتلونکي یا جوړیي ژوند لپاره زړه کې ساتلې وه، که دټولې دنیا نجینې ستا مینه شي، له سلو نه به یې یوازې یوه برخه هم پوره نکړي! بلخوا ته پوهېږې چې زما مور ناروغه وه، پلار مې سپینږیری و، ورور یا د کور کوم بل دستیار مو نه لرلو، مجبوره وم، چې وخت ناوخت په تاسو غږ وکړم، مرسته درنه وغواړم، خصوصا د مور لپاره مې دوا راوړلو یا له دوکانونونه د کوم بل ضروري سواد راغوښتلو په وخت، اما د کور کلي خلکو ته دې خدای ج انصاف ورکړي، څه، څه یې راپسې ونه وېل؟ تر کومې اندازې یې ستا په نوم توره بدنامه نکړم؟ کني ما او تاته خو له هر چانه ښه معلومه ده چې یوازې له دې عادي خبرو او هغه یوه مچو چې په هغو کې هم زه درسر همغږې نه وم، حتا زیاته خپه شوم، تر ډېره وخته وجدان ځورولم، داسې احساس راته کېدو چې گواکي یوه غیرتي پاکه پښتنه نجلۍ نه یم، د پلار د عزت، غیرت او شملې سره مې لوبې وکړې، ځکه ددک مې موږ په ډېر ناز او نزاکت رالوې کړو، که تنها هم و، خو ډېر غیرتي سړی و، پس یوه نجلۍ

چې احساس ولري، طبعاً د داسې کار په کولو سره به يې د خپل غيرتي پلار په حق کې وجدان کړوي، خو دا چې ستا خاطر ډېر راباندې گران و، خوله مې پټه ونيوله.

نور ما او تا له دې هاخوا کومې نامشروع اړيکې نه دي سره لرلې؛ اما د خلکو خولې به څوک وربندي کړي؟ خو تر پرونه ددې خلکو د خبرو او ستا په نوم د بدنامۍ کيسه کې هم نه وم، چون ما ته ان له ماشومتوبه، خپل ځان او ځيگر، د خپل ټول ژوند ملگرى، خپل هر څه گڼلى وې، ستا په نوم له دې تور او تهمت نه مې خوند اخيستلو، ترڅو بل هېڅ ځوان، هېڅ هلک له مانه د يوې ذره مينې هيله او توقع ونه لري، نه مې په لور راوگوري، د هر درد او ستونزې په وړاندې مې ستا په لرلو زړه ته تسلې ورکولې، خصوصاً په دې وروستي د قيامت په شان دردمن او له عذابونو ډک دور کې چې يو خوا د مور دمرگ او ابد لپاره دبلتانه دروند غم و، بلخوا د پلار مريضي، ځاى په ځاى کېدل، او همداسې د غربت انتها، ان تر دې چې د خلکو عشر او ذکات اخيستلو ته اړ شو، گام په گام زړه چاودونکې صحنې وې، لا هم جريان لري، خو ددې ټولو په وړاندې بيا هم وايم زما د زړه يوازنۍ تکيه، لمړى په الله ج وه؛ بيا ستاسره په راتلونکې کې له مينې مالامال او سکن نه ډکې ملگرتيا په خوشبينۍ وه، واړه هيلې اميدونه مې په تا پورې تړلي و، يقين وکړه ددغه ټولو درنو غمونو او دردونو سره سره مې يوه ورځ له ياده ونه وتلې، له هر لمانځه وروسته مې اول تاته د سر دسلامتيا؛ خوشحالۍ او صحت دعا کوله، بيا د ځان لپاره، په ژړاغوني غږ يې پسې زياته کړه: هى افسوز نن به مې ولې بې اختياره سوې چيغې خولې ته نه راځي...

په همدې سره يې ژړا زور واخيستلو خبرې ترې ولاړې، بلاخېره آواز يې ورک شو.

بار بار مې غږ پرې وکړو:

-بلې، بلې غږ مې آورې؟

یوازې دتېرې ورځې په څېر دخښنو پښې سره یو ځای د سترګې ستړا او زندۍ سلګیو آواز مې تر غوږه کېدو، څو شیبې وروسته مبایل پسې راقطعه شو.

بیا مې زنګ پسې وکړو، شبکې جواب راکړو: کومه شماره مو چې داېره کړې، په دست راس کې نشته!

مسیج پاڼه مې را خلاصه کړه، د سلام په پیلولو سره مې ورته ولیکل:

-ښنګه چې تاویلې؛ همداسې مې د خپل راتلونکي ژوند مینه، د زړه سکن، راز او نیاز ګڼلې اما هغه د اختر په ورځ دې چې د یوې مچو په مقابل کې کوم ترېخ عکسل عمل راسره وکړو، دومره دې ووېرولم چې تر میاشتو میاشتو مې د خپل زړه دربار آورېدو .له همغې ورځې په دې باور شوم چې ته مینه نه راسره لرې، زه هسې خطا وتلی یم. مګر اوس خو تر ورخ اوبه تېرې دي، ددې خلکو سره غږېدلې یو کیدی شي راتلونکې جمعې ته دعا سره وکړې.

نور تاته هم ښه بخت او راتلونکي کې ښه ژوند غواړم. په همدې خبره مې لیکنې ته د پای ټکی کېښود، مسیج مې ور واستولو.

البته له یادولو دې پاتې نه وي. چې مرواء هېڅ د مکتب دروازه نه وه لیدلې او نه زموږ سیمه کې د نجینو مکتب و، پرته له دې چې په ماشومتوب یې مسجد کې له ملا نه (الف او ب) سپاره ویلې وه، او را وروسته یې بیا په کور کې له ددک نه قرانکریم زده کړی و؛ نور یې هېڅ زده کړې نه وې کړې؛ بس هسې خدای ج ډېر ښه استعداد ورکړی و؛ یعني که ووایم چې د دولسم د فارغینو له اکثریتو یې روان لیک او لوست کولو، دروغ به مې نه وي ویلي.

خو په هر حال د مسیج له ور استولو وروسته مې ساعت ته وکتل، صرف څو دقیقې پس درس شروع کېدو ته پاتې وې، که څه هم د مرواء سره د خبرو په محال قدم، قدم کې تر ډېره راغلی وم، ولې لا هم څه لاره پاتې و، حرکت مې ګړندی کړو. کافي وخت مې صنف ته ځان ورسو،

دوه ساعته درس مو ووېلو، دريم ساعت خالي و، راووتلم مرواء ته د لېږلي مسيج ځواب ته مې سودا وه، له دوهم منزل نه راښکته شوم، زينو کې د راښکته کېدو په حال کې مې مبايل راويستلو، صفحه مې وکتله کوم مسېج نه و، راغلی واپس مې جيب ته کړو، ليليه ته له رسېدو سره سم مې بيا وکتلو لا هم کوم مسيج نه و، له ډوډۍ خوړلو اودس او لمونځ کولو وروروسته مې بيا وکتلو څه مې ونه ليدل، بلاخېره هر ساعت، يونيم ساعت وروسته مې کتلو، تر دې چې د شپې يولس بجې شوې، مسيج رامعلوم نه شو، نور مې مبايل دبالښت تر څنګ کېښود ويده شوم، سهار مې چې مبايل راجګ کړو د صفحه له پاسه د نوي مسيج علامې ټوپونه وهل، کليک مې کړو، مرواء ځواب را استولی وو؛ خو د لوستلو وخت يې نه و، بېخي ناوخته وه، لمونځ قضاء کېدو، جګ شوم زر زر مې اودس او لمونځ وکړل، خدای ج يې دې قبول کړي فکر او پام مې ټول مسېج کې و، لنډه دا چې مسيج مې راوسپړلو، زما دسلام په جواب راکولو پسې يې، لمړی يو د تمسخوري موسکا ستيکر لګولی و، وروسته يې پسې ليکلي و:

-زه ماشومه نه يم، په هر څه مې ډېر ښه سر خلاص دی، پوهېږم چې ته نن ولې د ټول عمر په مينه او خاطرو مو خاورې اړوې لار جلا کوې، ددې چيټياتو په ليکلو دې هسې وخت ضايعه کړی، بل دا چې هغه ورځ هم ما کوم داسې عکسل عمل نه دی کړی چې تاته يا ستا شخصيت ته مې ذره تاوان اړولی وي، نه مې خپل مور او پلار ته ووېل، نه مې ستا کورنۍ خبره کړه، صرف له دې وېرې چې سبا تر دې زيات جرئت ونکړې د لوړو نفسيـ خوهشاتو لپاره زړه راښه نکړې، دروغجن قهر او عذب مې په څېره راخور کړو، تمثلي ژړا او تورې ترپې مې وکړې، هغه هم ديوې لحظې لپاره يوازې ستا مخکې. خو اصلاً دا خبره نه وه، ستا چې په مياشتو، مياشتو رنګ الوتی و، يا دې زړه درېېدو، سترګې دې نشوی پورته کولی، زما د راستۍ او ښه نيت په وړاندې د خپلې آب نمک حرامۍ او بې شرمۍ تر اثر لاندې دې راغلی وې، له خجالته دې سترګې نشوی راپورته کولی، کنې له همغې صحنې راوروسته ان تر دې

څه مودې وړاندې چې زما مورکه ژوندۍ وه، ښکلی ژوند مو لرلو، ما ستا سترګو کې زما د مینې مستې څپې لیدلې اما بدبختانه دې آخېرو کې چې په موږ کوم، غربت، ستونزې کړاونه راغلل، نه یوازې دا چې جسمي؛ روحي، مالي تاوانونه یې راوړول، یا هم د کلي کور، سیالانو دوست او دښمن په وړاندې یې حیثیت رانه لوټ کړو، ان ستا په وړاندې یې هم دومره بې ارزښته کړم، هغه مرواء چې لاس به دې کار کې و، په سترګو کې به دې غلي، غلي زما له سترګو او ننګیو نه غلاه کوله، خو نن زما په ځای یوې بلې ناآشنا نجلۍ ته ترجیح ورکوې، په ما شرمېږې، ستا وړ او سیاله نه درته ښکارم، هی افسوز ☒☒☒ خو بیا هم، سره ددې چې نه مې یادېږي تر دې دمه مې چاته اوزر، زارۍ کړې وي، اما نن د لمړي ځل لپاره او وروستۍ خبرې په بڼه، تاته اوزر هم کوم، زارۍ هم کوم، زنه دې هم نیسم، زما روح او جسم ستاسره تړلي، داسې د ظلم په چاړه یې مه راپرې کوه.

.................          درنښت................!

مسیج همدومره وه، که څه هم داسې واقعات یې وېلي و، لکه زما زړه چې ویني، خو بیا هم ما هڅه کوله د رد الفاظ یې ورته راپیدا کړم، تر ماښامه مې ذهن ښه پرې سترې کړو، ولې له بدمرغه بیا هم منطقي یا تر یوې اندازې قناعت بخش کلیمات ذهن ته رانه غلل، بلخوا ددې فکر هم ډېر تېز و، په وړاندې یې ښه فولادي دلیل ته اړتیا وه، همدا وجه و، چې ناکام شوم بلاخېره بېخي مې یې په ځواب ورکولو خاشه واچوله، څو شپې ورځې تېرې شوې، ددې هم همدا وروستی مسېج شو، بیا یې ځان پوه نکړو، نه یې زنګ ووهلو.

بلاخېره د پنجشنبې ورځ راوسېده، مازدیګر و، د دریشۍ په منځلو اخته وم، ګرنګار شو، موبایل ته مې زنګ راغلو زر زر مې لاس په ځنګ کې پرته خیرنه زېرپېرانۍ وچ کړو، موبایل مې راویستلو، زنګ مې مور وهلی و، د اوکې سره سم مې سلام ورواچو له لمړنیو پوښتنو، موښتنو وروسته یې کړل:

-زویه! ماما دې راورسېدو، خاله خو مې دې پرې نښوده تیاره دا یوه هفته  همدلته ده، سبا پخیر مو زړه دی چې مدین خیلو ته ولاړ شو، دعا کوه!

-صحیح ده مورې، خدای ج دې خیر درپېښ کړي، کالي مینځم اوبه مې  یخېږي بیا مو احوال اخلم ماما او خاله ته مې سلام وایه!

-وعلیکوم سلام؛ ځار زویه! کاشکې څوک درتللی دغه خیرن کالي به دې رالېږلي و، پاک به مو درلېږلي و!

-نه مورې! د یخنکاک غاړه مې لړ خیرنه شوې وه، اسانه پاکېږي!

-ښا زویه! ځه خدای ج دې مل شه!

مبایل قطعه شو؛ د خوشحالۍ تر خنګ د حیرانتیا او وېرې کچه مې هم ساعت په ساعت زیاتې ده، ان تر دې چې شپه راغله دشپې هم کله به مې د خوشحالۍ احساس وکړو، کله به اندیښنو په مخه کړم، هسې نه مور مې پرې غلطه شوې وي، په داسې چا واوړم، ها د مشرانو خبره: چې پرتوګ په غاړه راوړم.

په همدې چورتونو، فکرونو کې تر دوه بجو بستره کې اړخ په اړخ اوښتم، خوب نه راتلو پس له دوه بجو ویده شوی وم، سهار داود غږ وکړو:

-جګ شه وخت دې لمانځه دی!

-ښا درجګېږم!

داود ولاړو زه بیا خوب وړی وم، یو وخت مې چې سترګې رارڼې کړې آته بجې وې یو دوه هلکان نور هم ویده و، مصویر په غولي کړوپ و، خط یې لیکلو نور هلکان وتلي و، د جمعه ورځ وه، چا په چا کار نه لرلو، چېرته چکر ته تلل که استراحت یې کولو، د جمعې ورځ به

دایم همداسې معاف وه، راکېناستم کمیس مې واغوستلو، ببر وېښته مې په ګوتو خلال کړل؛ نور مې له چپرکټ نه پښې راوځړولې، د مخ او لاس مینځلو په پار تشناب ته روان شوم، په عینې روانېدو کې مې د مور شماره هم ور اوکې کړه، تر اطاق له وتلو سره سم یې زنګ تېر کړو، دهلېزه کې د دېوال خواته مې قدم ورسره ونیولو، ترڅو زنګونو تېرولو وروسته ئې اوکې کړو، مبایل کې یې ډېر غور او بر و، څو ځل مې غږ پرې وکړو:

-سلام علیکوم! بلې! بلې! هېلو! له ډېر ځنډ پس مې دمور غږ راغلو کړل یې:

-غږ دې نه اورم زویه! موټر کې یم، مرجان کلا ته رارسېدلي یو!

-ښا ځئ خدای ج مو مل شه!

تماس مې ورقطعه کړو، تشناب ته ننوتلم مخ او لاس مې پرې مینځل ویښتوته مې د نم مساج ورکړو، واپس راووتلم.

څه سر مو خوړوم، ورځ د تېرې شپې غونډې د دوزخ او جنت تر منځ د خوشحالۍ او اندېښنو په کربه توب تېره شوه، مازیګر مې مور ته بیا زنګ وکړو مبایل یې خاموش و، د ماما نمبر مې ونیولو دې هم زنګ تېر نکړو، همدلته مې راپام شو، چې هاخوا خو یوازې له سلام نورې مخابراتي شبکې کار نه کوي.

د شپې مې بیا زنګ ورته وکړو، زنګ ورنه غلو، پوه شوم چې شپه یې شوه، سهار اوه بجې مې هم دواړه شمارې داېرې کړې لا یې هم زنګ تېر نکړو. تقریباً نهه بجې وې مور مې زنګ وکړو، د اوکې سره سم مې سلام ور واچو، د سلام ځواب راکول سره ګډ یې په خوشحاله آواز کړل:

-مبارک دې شه زویه! خدای ج دې بختور کړي، داسې نجلۍ مې درته وکړه لکه د کوچو غونډاری، خاله دوی دې هم مبارکي وایي!

-خیر یوسئ، مننه!

نور مې ورسره اوږده نه کړه څه دشرم احساس راته وشو، دخبرو سور او تال مې ولاړو.

مور مې راغبرګه کړه:

-موټر کې یو چې کور ته ورسېدو بیا به غږېږو، اوس دې غږ هم سم نه آورم!

-ښا ځئ خدای ج مو مل شه!

تلفیون قطعه شو، خو ددې زیري په اورېدو یو عجیب او عریب حالت راباندې راغلو، هېڅ داسې الفاظ ذهن ته نه راځي چې راټول یې کړم د هغه وضعیت انځورګري مې درته پرې وکړم، نه پوهېږم خوشحالي وه؟ خفګان و؟ لکه خوب چې وینم یا لکه د ټولې دنیا بنګ مې چې څکولي وي، دباقر صیب خبره ښځي په پنځم موسم کې ګرځېدم، خو خیر د وخت په تېرېدو سره کرار کرار خپل نرمال حالت ته راوګرځېدم، برقونه خراب و، مبایل چارچ خلاص کړو، مازیګر او د شپې ونه تاونېدم، چې د کور سره تماس ونیسم. سهار وختي ښه و، برقونه راغلل مبایل مې چارچ ته کېښود چای مای مو چې وخوړلو، له لیلیه راوتلم کورته مې زنګ وکړو، ګوشي مدینې پورته کړه، له سلام سره جوخت یې کړل:

-لالا واده دې مبارک، په دې مبایل کې پیسې خلاصې دي کنی مخکې مې زنګ درته کولو!

-خیر یوسې خورې ژوند! ستا دې هم مبارک وي، څه غورې دي کور؛ مور چېرته ده؟

-خیر یوسې، کور خیرو خیرت دی مور په وړه کوټه کې ویده ده!

-لکه چې دشپې يې ځان په دريالونو (دريا) او آتڼونو ښه له پښو غوځولی؟

-نـه دريـال مـو بېخـي وهلـی نـه دی، پـرون چـې دوئ راورسـېدل، زه ورغلـم پـه مـرواء مـې زېـری وکـړو، دا د برنـډې پـه څنـډه ناسـته وه، ګيلاسـونه يـې مينځـل، زمـا د زيـري پـه کولـو سره يـې چيغـه وکړه، لانـدې راولوېـده، رامېـده مـې کـړل، مـور مـې خـبره کـړه، واپـس ټولـو ورمنـډه کـړل برنـډې تـه مو پورته کړه اوبـه مـو پـرې واچـوې، سـترګې يـې را رڼـې نکـړې، ډېـر وخـت ووتلـو جـوړه نشـوه، بيـا مو دا نور همسايګان هـم پـرې خـبر کـړل سـليم کاکـا يـې مـوټر راويسـتلو مـور مـې هـم ورسره ولاړه د حيدرخېلو کلنيک تـه يـې يـوړه، هلتـه ډاکترانـو ورتـه وېـلي و، چـې عاجـل يـې کابـل کـې جمهوريـت شيفاخانې ته ورسـوئ. سـليم کاکـا دمـرواء تـره او ښـځه يـې کلينيـک تـه ورتـه راغوښـتي و؛ مـور مـې وېل: چـې راغلـل داسـې غوړمبـدل کنځلـې يـې ورتـه کـولې مـوټر تـه يـې واچـوه يـويې وړه، اوس نـه يو ترې خبر چې څنګه به شوې وي؟!

-نځه، نځه، خـدای ج دې ښـه کـړي، بېچـاره، ښـه مـو کـړي چـې دريـال مـو نـه دی وهلـی، بـد کـار دی، تر څو نه ده ښه شوې ويې نه وهئ!

-نه چېرې زموږ هم داسې زړونه پرې بد دي، د واده په خوشحالۍ يې بېخي پوه نکړو!

-ددک يې څنګه دی؟

-د بېګـاه ډوډۍ او سـهار چـای مـوږ ور وړل، ډوډۍ هـم نشيـ خـوړلی، خـو وروړو يـې، وخـت ناوخت پرې راګرځو، څه يـې چـې پکـار وي کمـک ورسره کـوو؛ بېچـاره يـو خـو لـه ځـای نـه مـريض و؛ بل اوس د مرواء غم داسې کړی چې هسې خدای ج ساه پکې چلوي!

-نځه، نځه الله ج يې دې مرسته وکړي، سړی څه ووايي؟

-آمين

-ښا مقصد چې جوړ وئ، پوښتنه مې کوله، هو رښتیا خاله دوئ شته که ولاړل؟

-شته بالا خانه کې چاى خوري، زه آشپز خانه کې یم!

-چې ورغلې سلام مې ورته وایه، ځه نور دې په خداى ج سپارم!

تماس مې ورقطعه کړو، راتـاو شـوم لـه پنجـرې مـې لمـر تـه غـوړولی پتلون او یخنکـاک راټـول کـړل، اطاق تـه راغلـم، د اطـاق ملگـري مې لا د کـوژدې پـه موضـوع نـه و خـبر، او مـا هـم کوشـش کولـو تر څو کور ته نـه یـم تللی پیسـې مـې نـه وي راوړې، بایـد خـبر نشيـ، ځکـه هـر چـا بـه چـې کـوژده وکـړه، هلکـانو بـه ډېـر تـاواني کولـو سـاز بـه یـې پـرې راوسـتلو، یـوه ښـه درنـه مـیهماني بـه یـې پـرې کوله، ددې سربېره ځینـو نـازولو بـه پـه انفـرادي ډول شـیرني غوښـته سـړی بـه یـې لـه حلالـو خـلاص کـړو! دا خـو خیـر خـبر نـه و، امـا زمـا د هیلـې بـرخلاف د کـلي لـه خـوا هـم هـېڅ، کلیـوال، دوسـت، ملگـري زنـگ راتـه ونکـړو مبـارکي یـې رانـه کـړه، کـه څـه هـم تـر ډېـره مـې سـترگې وې، خـو دوې، درى ورځې تېرې شوې لا مـې هـم د چـا زنـگ، مسـیج ونـه لیـدو، پـه څلورمـه ورځ چـې لـه پوهنتـون نه لیلیه ته راغلم، مـور تـه مـې زنـگ وکـړو، د لمـړي زنـگ سره یـې اوکـې کـړو، سـلام مـې ور واچولـو پسـې پیوسـت مـې دکـورنۍ د فـرد فـرد پوښـتنه وکـړه، بلمقابـل دې هـم د خپـل صـحت او آرامتیـا د ډاډ راکولو، همداسې ما هم دځـان لـه حـال او احـوال نـه ډاډمنـه کـړه، بیـا مـې د مـرواء پوښـتنه تـرې وکړه؛ مور مې فکر کولـو چـې دى بـه د مـرواء لـه کیسـې بېخـي خـبر نـه وي، د مـدینې د هغـې ورځـې خبرو په تکرار یې شروع وکړه خبره کې یې ورولویدم:

-پرون مدینې کیسه راته وکړه، اوس خبر ترې لرئ چې څنگه شوه؟

-کاکا او د کاکا ښـځه یـې سـهار خپـل کـور تـه تـرې راغـلي، مـرواء یـې خـدایزده څـه کـړې؟ څـوک وایـي مـړه شـوې چېرتـه یـې غورځـولې، څـوک وایـي ضـعف یـې کـړی و، پـه لارو ښـه شـوې وه، د کډو په کوچیانو یې خرڅه کړې دوئ ترې راغلي، څوک څه وایي، څوک څه وایي!

ورغبرگه مې کړه:

-هغه مشره خور يې سارا به له کوټې ورته راغلې وي؟

-نه د هغو نمبر راسره دی، پرون ماښام مې زنګ ورته کړی و، ښځې پرې خبره نه وه، ما هم خبره نکړه؛ ستا د کوژدې مې ورته ووېل ډېره خوشحاله شوه، وېل يې: چې درغلم له نژدې يې مبارکي کوم، خو اوس دې هم ډېره ډېره درته مبارک وي، خدای ج دې بختوره کړي!

ولا عجيب دی، دا به يې نو څه کړې وي؟ کاکا يې رښتيا ډېر بې عقل سړی دی که يې وژلې وي، چېرته يې غورځولې وي، يا يې خرڅه کړې هم وي شک نشته!

-هو، مور چې کلينک ته راوغښتلو هم لکه سپی داسې غورمبېدو، هغه بېچاره ضعف وه په هېڅ هم نه خبرېده، کاشکې پلار يې جوړ وی، يا يې ورونه لرلی دې سپي ته په لاس نه وی ورغلې، خو اوس دې خدای ج خير ورته پېښ کړي، په مور يې خپله ښادي پورې نه کړه!

ـ امين، ميلمانه څوک نشته!

نه څوک نشته، ما خو هغه ورځ درته ووېل که دا نجلۍ مې درته وکړه خلک به له ډېره زوره وچوي، ودې ليدل تر اوسه هېڅوک مبارکۍ ته نه دي راغلي حتا دا نژدې همسايګان مو هم ځان نه پوهوي!

ـ ماته هم هېچا زنګ ونکړو!

بلا دې پسې زوی به يې هلته مړ شي چې منی يې راناوې کړم دکور سپوږمۍ مې شي، زور به ولې نه ورکوي؟ دټول کلي ناوې او پېغلې چې راغونډې کړې زما د اينګور د يوه نوک په ښايست او انسانيت پسې نشي رسېدلی!

-خدایزده څه مې وېل خبره مې هېره شوه، هو ربښتیا دا ځل چې ورغلي وئ، څنګه رویش یې درسره وکړو، خفه کړي خو به یې نه وئ!؟

-نه داسې قدردانه خلک دي؛ دومره خدمتونه مو یې بیا وکړل؛ په هر څه کې مو یې ډېر لحاظ وکړو، یاد کې مې نه پاتې کېږي، دواده څه مصارف یې چې رابانددې ایښي کاغذ کې نوشته دي، چې راغلې پخیر بیا به یې وګورې!

-نجلۍ دې ولیده؟

-نه بېچاره بېخي خبره نشوه، له هرات نه، نه وه راغلې، زموږ تر راتلو وروسته به یې مور او پلار زنګ ورته کړی وي!

-ښا مورې! مقصد چې ښه وئ، حال مې دې اخیستلو، که کوم خدمت نه وي؟ په الله ج دې سپارم!

-خیر یوسې زویه! په دې حال شکر دی، تا دې هم خدای ج جوړ لري، ځه خدای ج دې مل شه!

په همدې سره مو تماس قطعه کړو؛ دا ورځ او شپه هم تېر شول، مرواء ته مې سودا وه، سهار مې بیا کور ته زنګ وکړو، د مرواء برخلیک لا همغه سې نامعلوم و، مبایل کې مې څه ستونزه رامنځ ته شوه، دوې شپې مې ونشوی کولی ترڅو احوال یې واخلم، په دریم سهار مې بیا زنګ وکړو، لمړی ګوشي فریښتې پورته کړه، بیا یې مدینې ته ورکړه، له سلام کلام وروسته مې د مور پوښتنه ترې وکړه، کړل یې:

-سر یې خوږېدو بلاخانې ته وختله وېل یې: یو څو دقیقې مې آرام پرېږدئ!

-سر یې ولې خوږېدو؟

-پرون د مرواء پلار مړ و، کليوالو تر مينځلو وروسته؛ د مسجد سپاچې ته يوړو، ورور يې (د مرواء کاکا) هم ورته راغلی و، جنازه يې وکړه، سم دلاسه يې خښ کړو، نن سهار وختي يې هغه لېونی وراره راغلی و، دکور ټول کالي او سامانونه يې يوړل، په همدې يې زړه خوړين و، ځکه يې سر خوږېدو!

-افف په دې خو ولا زما هم سخت زړه درد وکړو، خدای ج دې وبښي، خو دې ليوني ته مې بل شان قهر راغلو، اقلاً يو دری شپې خو به يې صبر کړی و!

-لالا هغه د مرواء چرګانې دې ليدلې وې؟

-هو!

-په هغه وخت کې چې د کاکا زوی يې کالي وړل دواړه زموږ کره وې، اوس هم شته ترې پاتې شوې!

-ښا، ښي دي چاته مه وايئ، کني که خبر شو، دا حرامونی په دې پسې هم راځي، هر وخت چې مرواء خدای ج راپيد کړه بيا به يې پخپل لاس ورته وسپارئ!

-ښا!

-څه احوال يې نه دی معلوم شوی؟

-خلک هر، هر څه وايي خو صحيح حال يې نه دی معلوم!

-څوک څه نه وايي چې ولې داسې شوه؟

-ډېر وايي ملتين (زهـر) يـې ښکـلي، ځينـې وايـي عصـبي حملـه پـرې راغلـې، ملتـين خـو يـې نـه دي ښنـلي چـې ولوېـده، زه ورتـه ولاړه وم، عصـبي حملـه کـه پـرې راغلـې وي، وي بـه، دمـور لـه مـرگ راهسې يې ډېره خپه وه!

-ښـا خـورې! خـدای ج يـې دې کمـک وکـړي، مـوږ بـه څـه وکـړو؟ مـور تـه مـې سـلام کـوه، زمـوږ چای لکه چې تيار دی، نوکري وال خو چيغې وهي!

-ښا، ښا ځه خدای دې مل شه!

-ستاسره!

موبايل مـې راقطعـه کـړو، د مـرواء دوئ پـه داسـې لـه پلـوه دسر او مـال ورکـه مـې واقعـاً ډېـر زيـات طبعـت خـراب شـو، مـور او پـلار يـې هـم پـه هـر صـورت، وخـت پـرې تېـر و، ضـعيفه او مريضـان و، مگـر د مـرواء پيښـه او نامعلومـه سرنويشـت رښـتيا زيـات خواشـينونکی و، هـېڅ مـې لـه ذهـن نـه، نـه وتله.

لنډه يې دا چې يوه يونيمه مياشت تېره شوه، لا يې هم درک معلوم نشو.

د مور له گفتې مې چې کيسه يـې راتـه کولـه، مشره خـور يـې سـارا ددې عـلاوه چـې پـه مـرواء نـه وه خـبره، د پـلار پـه مـرگ يـې هـم چـا احـوال نـه و، ورکـړی، د پـلار لـه مـرگ نـه يـې پـنځلس ورځـې وروسـته، خـدايزده لـه کـومې خـوا خـبره شـوې وه، سـم د خبرېـدو سره يـې مخـه راخيسـتې وه، دلتـه په راتلو سره لـه مـرواء هـم خـبره شـوې وه، د کاکـا پـه دروازه کـې يـې ځـان پورتـه کولـو، لـه ځمکـې يې ويشتلو، په چيغو چيغو يې ژړل، خاورې يې په سر بادولې کړل يې:

-ظالمه! زه خو به دې خبره کړې وم؛ اوس یې راوښیه مرواء دې څه کړه؟ مړه ده که ژوندۍ؟ کاکا یې له دوه دریو څپړو وهلو سربېره ډېرې سپکې سپورې ورته وغړولې، اخیر کې یې ورته کړل:

-رنډۍ شی وه، چېرته به مرداره وي، خدایزده څه...... یې خوړلي و، اوس دې هم موږ خیر یوسو چې تر جمهوریت شیفاخانې مو ورسوله، شیفاخانه کې تر یو وخته ډاکتران ترې تاو و، په هوش رانغله، وروسته یې امبولانس کې واچوله دوې ډاکترې ورسره وختلې، خدایزده چېرته یې یوړه؟ موږ ته یې وېل: تاسو همدلته منتظر اوسئ، چې معاینات یې وشي، واپس یې راوړو، موږ یو څه وخت ورته معطل و، اخیر مې د فاروق مور (ښځې) ته وېل:

-راځه چې ځو، ولا له ځان نه شرمېږم، چې ددې فاحشې سره شیفاخانې ته راغلي یو، سبا به ددې له رویه په موږ آسمان راولوېږي، همدا و چې په مخه ترې راغلو.

د همدې ځواب په ورکولو سره یې سارا د حېرو، بد دعاییو کولو سربېره په ژړا او سلګیو، نامیده له خپلې دروازې رخصت کړه، هغه هم ترڅو یې چې له سترګو نه وه پناه بد، رد یې پسې غږول. په داسې حال کې چې امنیتي شرایط هم خراب و، هېڅ کومه حکومتي یا بله داسې مسوله مرجع نه وه، ترڅو عرض یې ورته کړی وی.

خو په هر حال که څه هم نور یې موږ له احوال نه خبر نشو، چې څه یې وکړل؟ اما داسې انګازه وه: چېدتره له دروازې نه یې مستقیماً کابل ته پسې تللې وه، د ښار ټول روغتونونه یې پسې وکتلي و، حتا وېل کېدل، جمهوریت شفاخانه کې د بار، بار پوښتنو په کولو سره، ډاکترانو هم بې آبه کړې وه، چې ګواکې تاسو څه رنګه انسانان یاست؟ په کوما کې ناروغ مو روغتون کې یوازې پرېښی، تاسو ترې تللي یئ، یوه میاشت وروسته راغلې یې پوښتنه یې

کـوې؟ دلتـه هـره ورځ لـه بېلابېلـو ولایتونونـه سـلګونه ناروغـان راوړل کـې، لسـګونه مـري، لسـګونه جوړېږي، موړ کوم، کوم په یاد ولرو چې مړ شو، ژوندی شو، په کومه لاړو؟

خلاصه اخیر یې هم نه وه پیداکړې، له کابل نه هم داغلی زړه نامید واپس کوټې ته تللې وه.

خـو پـه هـر راز چـې کیسـه اوږده نشي- راځـم خپلـې مخکنـۍ خـبرې تـه، امتحـانونو تـه کـم وخـت پاتې و، بلاخېـر د څـو ورځـو پـه تېـردو سره شروع شـول، تدرسـۍ تـه بـه پـه اتـه بجـو ورتللـو، امـا تـر څو به استاذ راتلو امتحـان بـه یـې اخیسـتو نهـه نیمـې، لـس بجـې بـه شـوې، پـه همـدې ترتیـب دریـم امتحـان و، پـه اتـو بجـو تدریسـۍ تـه ورسـېدم، اسـتاذ نـه و، راغلـی واپـس راووتلـم، اسـتاذ تـه پـه انتظار دپوهنتو تر مـخ پـارک کـې دې یـوې نـاجو تـر ونـه لانـدې پـه چـوکۍ کیناسـتم، یـوه پښـه مـې پـه بلـه واړولـه، یـو لاس کـې مـې دخپـل دیمـې عـادت سره سـم سرې غتـې غټـې تـذبیح اړولـې، بـل لاس مـې پکـې د کلولـه کـړې چپـتر سره د ګونـډې پـه سر ایښـی و، خـدایزده پـه کـوم فکـر کـې تللـی وم؟ تقریبـاً لـس دقیقـې بـه مـې وتلـې وې، چـې یـو ناشـناخته ډنګـر لـه قـده جـګ ښایسـتوکی؛ نـرۍ ګیرې، غتـو غټـو سـترګو، تـورو ښـکلو ویښـتانو لرونکـی ځـوان مـې پـه طـرف راروان و، لـه را رسـېدو سره جوخـت یـې سـلام وچـو؛ د سـلام ځـواب ورکولـو سره جـګ شـوم دسـتړې مشي- پـه پـار مـو لاسـونه سره ورکـړل، لـه لهجـې یـې پـوه شـوم چـې وردګ خـو دی، دپښـتانو دودیـزه دوهـم ځـلي ښـه یې؟ جوړ یې؟ پخیر یې؟ مو سره وکړل، پسې پیوست یې کړل:

-خدای ج دې وکړي چې غلط شوی نه وم، اکبر یې د...... کلي؟

-هو، وروره همداسې ده، او ته؟

زما دپوښتنې په ځواب یې ځان تېر کړو خپل نوم یې ونه وېلو زیاته یې کړه:

-باور وکړه دا مې ځلورمه شپه ده چې مزار کې مسافرانه شپې کوم، او هره ورځ پوهنتون ته راځم نه دې شم پیداکولی، خوشبختانه نن مې چې پوښتنه وکړه هغه دروازه کې له غونډو هلکانو یوه ویل: هاا تر ونه لاندې چې ناست دی، همغه وردګ اکبر دی!

-ښا ډېر ښه کینه په دې چوکۍ!

هلک مې راسته لاس ته په چوکۍ کېناستو د زنګانونو په تاوېدو یو بل ته سره مخامخ شو. هلک پوښتنه وکړه:

-درسو سره دې څه حال دی؟

-شکر دی ښه دي!

سړی تعلیم یافته معلومېدو، دمجلس په حیث یې د مزار شریف د پوهنتون، استاذانو، دپښتانو او فارسي زبانو تر منځ دتوپیري چلند په اړه یې ښې په ځای څو پوښتنې وکړې.

خو دا چې ما نه پېژندو، هغه د چا خبره دومره پې مې نشوی ور سره پرېښولی، په لنډو، لنډو ځوابیه الفاظو مې یې پوښتنې ورځوابولې.

له خبرو مې پوه شو چې هسې ځان رانه خلاصوي، غواړي لمړی مې وپېژني.

بلاخېره کړل یې:

-ښا وروره! رابه شو اصلي خبرې ته، اما خبره مې شاید ظاهراً ډېر بد رنګ ولري، خو تر اوسه سرې وخت دی پرې غږېدل د دواړو په پایده دي، که همداسې یې پرېږدو تر بدو بتر کېږي، همدا وجه ده چې تر دې ځایه راغلی یم، ستا دپیداکولو په لټه دا ځلور شپې هوټلو کې پروت یم، دیو هوښیار باتعلیمه ښکلي ځوان په حیث هیله درنه کوم چې درک مې کړې،

دخبرې په مقابل کې مې احساساتي برخورد راسره ونکړې، خیر که اوس نه وي، وروسته له دوه، دریو ورځو په هر اړخ يې تر ښه فکر کولو په آرام ذهن ځواب راکړه!

-خيرت دی؟

-تقريباً يوه نيمه میاشت مخکې دې چې مدين خیلو کې دکومې نجلۍ سره کوژده وکړه، هغه زما کلیواله ده، له کالونو راهسې زه ددې او دا زما مینه ده، کومه ورځ چې تاسو جوړ جاړي ته ورغلي وئ، دا کور کې نه وه، کنې هرو مرو يې ددې کار مخه نیوله، جیب ته يې لاس کړو، يو غټ موبایل يې راویستلو دیوې ډېرې ښایسته سترګورې نجلۍ تصویرونه يې په صفحه راوستل کړل يې: دغه يې تصویرونه دي، که باور دې نه کېږي زنګ به ورته ووهم خپله ورسره وغږېږه، زه تنها نه بلکې ددې سره په مشوره راغلی یم، له دې سربېره مدين خيلو کې چې له هر چا پوښتنه وکړې زموږ په مینه خبر دي، حتا زموږ او نجلۍ تر کورنۍ پورې، خو له بدمرغه ان دنیکونو وخت کې مو دکورنیو تر منځ کوم مخالفت رامنځ ته شوی و، پلار يې نن همغو ته په کتو دا کار زما او نجلۍ تر خبرېدو پرته کړی و، زه خپله د کندهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځۍ د اخېر کال محصیل یم؛ همدې ته منتظر و، له فراغت وروسته مو د واده کولو پریکړه کړې وه، پسې اوږده يې کړه: ستاسو هم امتحانونه دي، کوشش کوم ترڅو ډېر وخت دې ونه نیسم، په اخېر کې به صرف دومره درته ووایم، چې جنګ ته نیم راغلی اوزر درته کوم، له همدې شېبې د هغې نجلې نوم او یاد بېخي له ذهن نه وباسه، فکر وکړه چې ګویا صرف یو خوب دې لیدلی، تر دې دمه مو چې هر څومره مصارف پرې شوي، په سر سترګو ټول درکوم، نور خو نجینې کمې نه دي بیا ستا په شان ځوان لپاره که اختیار راکړې ولاهې په ضرب دیوه هفته کې داسې نجلۍ درته وکړم چې زړه دې غوړي، حتا خپله هم یوه‌خور لرم دقرانکریم حافظه ده، نور به هم انشاءالله تر هېڅ نجلۍ کمه نه وي، کولی شې څوک راولېږې که مو خوښه وشوه، په سر سترګو، البته دا په دې معنا نه ده، چې ګویا زه مې خور د خپلې مینې قرباني کوم، نه اسغفرالله

په هېڅ صورت نه، چون په موږ د خپل انسانیت له مخې ډېره ګرانه ده، اما واده کولو ته دهر ځوان هلک او نجلۍ مخه ده او یو الهایي امر دی، پس د یوې نجلۍ لپاره ستا غونډې ښایسته او باتعلیمه ځوان په برخه کېدل، هم طلایي چانس دی، باوري یم خور به مې هم په ما د خپل باور او عتماد لرلو له مخې څه پکې ونه وایي. تر دې هاخوا هم که زما په سر دې ښه کېږي؟ زه مو د حکم منتظر یم!

له دې خبرې وروسته هلک ماته د نوبت راکولو په پار دمه ونیوله، خو دا چې یو ناڅافه ددې عجیب او حیرانونکې کیسې په اورېدو زما حال یو خدای ج لیدلو؛ لکه لاس او پښو کې مې چې ساه نه وي، یو قسم ساړه او مړه پړه شول، دخبرو کولو تاب خو بلکل نه و راپاتې او بل دا چې ویلی مې ښا نو څه به مې ویل؟ خو په هر حال صرف دومره مې ورته وویل:

-ته له دې عکسو یو دوه زما موبایل ته راولېږه چې همدا نجلۍ ده کنه؟ نور به بیا غږېږو!

-په سترګو، زاپیا لرې؟

-هو!

عکسونه یې راولېږل، بیا یې کړل:

-د موبایل شماره دې راکوې؟

شماره مې ورکړه، په همدې وخت کې مې موبایل ته زنګ راغلو، چې کتل مې پروان و، کړل یې:

-چېرته یې؟ راځه استاذ راغلو نور یې موبایل ورقطعه کړو، له چوکۍ دجګېدو په حال کې هلک بیا مخ راوړو:

-ښـنه غـواړم، خپـه نشـې پـوهېږم چـې دا وخـت ددې خـبرې نـه و، ځکـه ستا امتحانونـه دي، خـو زما هـم کلـک مجبوريـت و، قسـم ده کـه ځمکـه ځـای راکـوي، بـل خـوا کېـدی شي ستاسـو مصـارف هم ورځ تر بلې زيات شـوی وی، ولـې اخېـر کـې بيـا هـم درتـه وايـم فکـر دې مـه بېځايـه کـوه، خپلـو امتحانو ته دې متـوجې اوسـه خـدای ج بـه هـر څـه سـم کـړي ځينـې وخـت پـه شر کـې دسـړي خيـر وي. نور دې وخت نـه نيسـم وروړکـه! ځـه ورشـه د امتحـان صـحنې تـه دې، د خـدای پامـانی پـه پـار يـې لاس راتـه ونيولـو؛ لاس مـې ورکـړو دلاس ورکولـو پـه جريـان کـې مـې ورتـه کـړل: کـه زنـګ دې کولو پنځلس ورځې وروسته يې وکړه چې زه کور ته ولاړ شم!

-ښا، ښا سمه ده!

نـور هلـک هسـې او زه داسـې د امتحـان صـحنې تـه روان شـوم، پـه چمـن کـې د قـدمونو اېښـودلو سره مـې داسـې احسـاس کولـو لکـه پـه ختـه کـې چـې روان يـم، تـر ګونـډو ګونـډو مـې پښـې پکـې ننـوځي، وزن مـې بېخـي زيـات راتـه ښـکارېدو، د سـترګو تـر مـخ مـې يـو قسـم هفـت رنـګ سـپرغي تاوېدل، راتاوېـدل. لنډه دا چـې د امتحـان صـحنې تـه مـې ځـان ورسـوه، د دسـمال لـه پاسـه د اوږدې برنډې په څنډه کېناستم، کاغـذي پارچـه کـې مـې خپـل نـوم او ولـد وليکـل، د مضـمون نـوم رانـه هېـر شـو، ترڅـو پارچـه کـې مـې ليکلـی و، پـه داسـې حـال کـې چـې ټولـه شـپه مـې مطالعـه کـړی هـم و، بلاخيـره ځـای مـې يـې سـپين پرېښـود، اسـتاذ د سـوالونو پـه وېلـو شروع وکـړه، نـيم او نيمکلـه مـې ونيول، د اسـتاذ د امـر سره سـم مـو يـې پـه حلولـو پيـل وکـړو، سر مـې بېخـي کـار نـه کولـو خـدايزده څـه شـی مـې پکـې ور وليکـل کـوم سـوال بـه مـې سـم حـل کـړی وي، کنـه؟ دوهـم نفـر زه وم چـې استاذ تـه مـې پارچـه ورکـړه، لکـه پـوډري ړنګـو بنـک د ليليـه پـه لـور راروان شـوم، پـه لارو مـې بـار بـار زړه کـې راتېـردل: کاشـکې ځمکـه چـاودلې وی، زه پـرې ننـوتلی وی، ليليـه تـه لـه رارسـېدو سره، تر طعام خوری همداسې تېـر شـوم، ډوډۍ مـې زړه تـه نـه کېـده، امـا لـه بدمرغـه مخکـې لـه دې چـې د دريم منـزل زينـو تـه ځـان برابـر کـړم، لمـړي منـزل کـې لـه مخـامخ اطـاق نـه هلکـانو وليـدم، طالـب

رامنده کړل، تر مټ یې ونیولم دخپل اطاق په لور یې کېکارږم، چې کتل مې باچا رباب په غېږ کې اېښی و، هلکان ور تاو و، په نوبت یې ټپې سره وېلې، طالب ته مې هر څو ووېل:

-خوشې مې کړه مریض یم، خو وایې نه منله، باچا ته ور تاو هلکانو ته یې ور وستلم، الهام او میراحمد تر خپل منځ ځای راکړو، په کې کېناستم، که څه هم ډېر ښه بندار و، باچا خوندور رباب غږولو خو زما له ننې خورا خراب طبعت سره یې هېڅ نه خوړل، ولې دوئ زما له زړه څه خبر و؟ مجبور وم یو څه ووایم، په لمړي نوبت کې لاندې ټپې خولې ته راغله:

ښې شوې چې خاورې مې خوراک شوې

ما د شیدو پیالې په ډاګ ویشتلې دینه

دوهم نوبت کې:

پرېږده چې خړ سیلاب مې یوسي

زه د اشنا روغې راستۍ وهلی یمه

نور مې ترې رامنده کړل، طالبي ډېرې منګولې راپسې راواچولې، ښه و ګیر یې نکړم خپل اطاق ته راغلم دچپرکټ پرده مې راپسې راټیټه کړه اوږد وغځېدم، کوشش مې کولو چې ویده شم، که دا عصاب مې لږ آرام شي، خو خوب له کومه شو؟ یو ساعت اړخ په اړخ شوم، خوب

رانغلـو، لاس مـې ورتېـر کـړو موبايـل مـې راواخيسـت، پوهنتـون کـې هلـک رالېـږلي د کـوژدنې مـې (صدف) تصويرونه مې په صـفحه راوسـتل، ښـه پـه ځـير ځـير مـې وکتـل، رښـتيا هـم لکـه، څنګـه مـې چې مور ويلي و، د ظاهري ښکلا له لحاظه تا به ويل چې د کوم هندي فلم نجلۍ ده.

خـو پـه هـر راز موبايـل مـې واپـس دبالښـت تـر څنـګ کېښـودو؛ د سبا ورځـې د امتحـان چپـتر مـې راکـش کـړو، څـو لحظـې مـې يـې پـاڼې هـاخوا دې خـوا واړولـې، ولـې فکـر مـې نـه پـرې کېناسـتلو، هيسته مې دکتابو سر ته ورخطـا کـړو، لنـډه دا چـې تـر ډېـرو شـپو، ورځـو مـې ښخـي وضـعيت خـراب و، پـس لـه څـه وخـت ښـه و، کـرار کـرار څـه ښـه شـوم، اقـلاً ځمکـه او اسـمان مـې وپېژنـدل، کنـي خاصه خونده مـې لا هـم نـه وه، ان تـر دې چـې سبا تـه مـو اخيـري امتحـان و، مـازيګر يـې لـه کـوره زنګ راته وکړو، مور مې وه، له سلام کلام وروسته يې کړل:

-دا څو شپې مې سر په سر داسې بـد خوبونـه ليـدل، موبايـل کـې مـې پيسـې نـه وې تـا هـم زنـګ نـه وهلو مړ، مړ مې تر سترګو کېدې!

-نه مورې ژوندی يم کاشکې مړ وی!

-څه دې ووېل؟

-شکر دی ماوېل ښه يم، سبا مو اخير امتحان دی بله ورځ پخير که ژوند و، درځم!

-ښا زويه! پخير راشې څومره ښه زېری دې وکړو!

-مننه مورې آمين! څه غورې دي اينګور ته دې کوم زنګ مګ نه دی وهلی؟

-نـه زويـه! اوس يـې موبايـل د څنـه کـړو؟ چـې تـه راغلـې پخيـر پـوښ (جـوړه) مـو اخيسـتله يـو د برابرې بيعه موبايل به هم ورتـه واخلـو، خنـدا کـې يـې پسـې زياتـه کـړه، بيـا بـه دې زه پـه يـاد هـم نـه يم، ساعت به دې ورسره تېر وي!

ماته یې هم خندا راوستله ورته کړل مې:

-نه مورې ته مې له یاده نه وځې، خو خبر شوم اینگور دې ډېره ټوکي ده، که ژوند و، تنها زما نه ستا به هم ډېر ساعت ورسر تېر شي!

کټه، کټه وخندل بیا یې کړل:

-نه زویه! چا هسې درته وېلي د ټوکو نه ده، هغه ورځ په واده کې داسې ناسته وه، لکه فرېښته، نجینې گډېدې چا دریا وهلو، دا تر اخیره درنه سنگینه دېوال ته ناسته وه!

-سمه ده مورې! نورې څه غورې دي، د مرواء څه معلومات ونه شو؟!

-نه زویه! څه وخت مخکې یې مشره خور سارا راغلې وه، هغه کیسه خو مې درته وکړه، چې د تره په دروازه کې یې ځان په ځمکه، ځمکه وهلو، ژړل یې په سر یې خاورې بادولې، تره یې ورته وېل: چې په شېفاخانه کې مو همغه شان بې حاله پرېښوده موږ ترې راغلو؟

-هو! هغه کیسه دې وکړه، نوی څه احوال یې نه دی معلوم شوی؟

-نه، نه خلک دخپلو گېډو غړېږي، څوک وایي وژلې یې ده، څوک وایي ژوندۍ ده څوک څه وایی، څوک څه وایي صحیح حال یې نه دی معلوم!

-ښا مورې! مقصد چې ښه وئ، که کوم خدمت نه وي، په خدای ج دې سپارم، نور به بیا له نژدې غږېږو!

-ستاسره ځه زویه! خدای ج دې مل شه، ښه شو چې غږ مې دې واورېدو، داسې مې درته سودا وه!

تماس مو قطعه کړو، ددې په اصتلاح د درنې سنګینې اینګور له کیسې نه مې یې خبره نکړه، ماویل هسې نه سکته وکړي، بیا به له نژدې ورسره ګورو.

خلاصه شپه تېره شوه، سبا له چای خوړلو پس د امتحان صحنې ته ولاړم، امتحان مې ورکړو، واپس لیلیه ته راغلم په کالیو مالیو ټولولو مې پیل وکړو، چپتر، کتابونه او کتابچې مې د بیک بېخ کې کېښودې له پاسه مې لباسونه پرې ور واچول، سهار وختي له لمانځه وروسته مې دملګرو سره خدای پاماني وکړه، بیک مې اوږې ته کړو، د کابل د سه صدچهار موټرو اډې ته راغلم، دمخې موټر ته وروختلم د ډرېور له چوکۍ نه درې، څلور چوکۍ وروسته یو ځوان راته تر خپل څنګ خالي چوکۍ ته په سترګو اشاره وکړه، زه هم ورغلم مننه مې ترې وکړه، ورسره کېناستم، د څو دقیقو په لړ کې موټر ډک شو ډریور کلي پکې تاو کړه چالاند یې کړو، له شاه چوکیو نه غږ راجګ شو:

-دعا دخیر!

موټر کې ناستو خلکو لاسونه پورته کړل شونډې یې وپسپدې د دعا په کولو سره موټر حرکت وکړو، د مزار له ښاره چې ووتلو ډرېور په جګ غږ د یوې ښځینه سندر غاړې په غږ یوه مسته سندره پلې کړه ( په سالنګ در واوښتمه، دمزار سپینه کفتره یم..... ) همداسې څه یې وېل، مزار او سالنګونه پکې یادېدل، که په ټول کې ووایم، یوخوا د نمورو موټرو لاډسپیکر ډېر اساس دي، چې پکې وتوخېږې هم خوند کوي، بلخوا نظر د مزار او سالنګ تر منځ زموږ سفر، او په همدې سیمو پورې تړلې سندره واقعاً چسپېده، هغه دچا خبره ددنیا غمونه مې یې لرې کړل، موټر هم داسې راتلو، تا به وېل، الوتله کې سواره یو، که څه هم ماته یې خوند راکولو خو له شانه څو ځل غږ پرې وشو:

-استاذه! احتیات کوه، خیر څو دقیقې دې پس ورسېږو!

استاذ به موسک شو، هنداره کې به یې د سر په ښورولو سره د اوکې اشاره ورکړه، مګر نور یې خپل کار کولو، همغه شان را الوتلو، لوی او واړه موټر یې لاندې کول. په هر راز، هسې نه خسته مو کړم، د سفر تر کیسه تېرېږم، مستقیماً راځم دې ته چې شاوخوا دولس، بجې یې د کابل ښار په شمالي برخه ( سرای شمالي) کې برېک ووهلو، راښکته شوم، د کوټسنګي موټرو ته راغلم، په یوه تونس کې راوختلم کوټسنګي ته له رسېدلو سره سم د کمپنۍ موټر ته وختلم، کمپنۍ ته له رسېدو سره سم زموږ سیمیزې اډې ته لاړم له لرې مې په صادق استاذ سترګې ولګېدې، څنګ ته یې ورغلم سلام مې ور واچو چې مخ یې راوړولو، هسې دوې ګوتې یې راته ونیولې، ډېره بې خونده سترې مشې یې راسره وکړه؛ خو خیر دومره یې کیسه کې نشوم ځان سره مې وویل: مشر سړی دی په څه به یې طبعیت خراب وي، بیا مې ورته کړل:

-استاذه! موټر کې ځای شته؟

-هو یو نفر کم دی ورتاو شه دروازه راخلاصه کړه هغه شاه سېټ ته واوړه!

د استاذ د رهنمایۍ سره سم د موټر له پوزې راتاو شوم دروازه مې خلاصه کړه، چې کتل مې موټر مو له کلیوالو ډک و، سلام مې ورواچو، په یو ټیټ اواز مې د سلام ځواب واورېدو بیا مې دروازې ته نږدې کسانو ته دسترې مشې- په پار لاس ونیولو، چا ته چې لاس نه رسېدو، د سر او سترګو په اشاره مې جوړ، پخیر ورسره وکړل، خو برعکس د کلیوالو برخورد ډېر بې رنګه وه، یعنې هسې مې مجبور کړل، کنې دوی شاید هېڅ سترې مشې- نه وی راسره کړې، زړه خو مې له ځای نه خوړین و، ددې خلکو دې چلند بېخي خراب کړم، او هېڅ پوهېږم هم نه چې ولې؟ خو هر څه چې و، مقصد موټر حرکت وکړو په لارو مو کلیوالو خپلو منځونو کې مجلس سره کولو له ما سره تر اخېره چا بنګ ونکړو، ان تر دې چې کلي کې له موټر نه ښکته شو، خلکو یو بل ته ساعت کولو ( راځه ماسره ولاړ شه ) (پاتې شه ډوډۍ دې چې وخوره بیا به دې رخصت کړم ) او ... ولې ماته غږ څه حتا کتل هم چانه، چې ما ساعت ورته کړی وی؛

بلاخېره ټول هاخوا، دېخوا سره تيت شول، زه هم د خپل کور په لور را روان شوم، کور ته نارسيده مې د مرواء دوئ په دروازه پراته لوی قلپ سترګې ولګېدې، فقط لکه تر زړه مې چې سل غشي- وتلي وي داسې څړيکې يې وکړې، همدې اضطراري وضعيت کې، خپل کور ته ننوتلم، فرېښته لنډه دې مخه کې د دروازې تر شاه تش (لګن) ته ناسته وه، کالي يې مينځل، راجګه شوه، ستړي مشي- مو وکړه د بيک بند يې ور ونيولو غوښتل يې رانه وايې خلي غر مې پرې وکړو:

-پرېږده دروند دی ته يې نشې ووړلی، امم دا خلته درسره واخله!

يوه کيلو غوښه، لږ ترکاري مرکاري پکې وه، خلته مې يې له لاسه واخيستله، تر مخ مې يې منډه کړل په نور کور يې زېری وکړو؛ د دهلېزه وره کې مدينه هم په مخ راغله، تر څو مې له دې سره ستړي مشي- کوله مور مې هم راورسېده سلام مې ور واچو تر ستړي مشي- وروسته اتاق ته ننوتلو ترموز تيار له چايو ډک و، فرېښتې ګيلاس ترې را ډک کړو، شيرين داني مې يې ترمخ کېښوده، چې مخامخ دېوال ته مې پام شو، زموږ د محلي دود سره سم، په سپين غټ خامکي جوړ شوي دسمال له پاسه په رنګا رنګ سرو، شنو، آبي مريو او اينو جوړه ستن (څونډې) راځوړند ده، همداسې د ستنې له پاسه يو څلور پنځه د افغانيو سديان يو څو پينجايان ټومبلي و، يو ښنګ او بل ښنګ ته يې په تار کې د پويل شو، لونګو لاړونه په داسې حال کې رازنګېدل چې د څو، څو لونګو تر منځ يوه؛ يوه غټه، غټه ککوي چاکليت هم پويل شوې وه.

تر دې مخکې مې له مشرانو ډېر اورېدلي و، چې وېل به يې: پالنکي ته، يا پالنکۍ پېښې ته مې له درده خندا راغله، ماته به يې دا خبره عجيب ښکاره شوه زړه کې به مې وېل:

چې د درده کله چاته خندا ورځي؟ باور وکړئ ددې ستنې په لیدو باندې ما ته هم د زړه د درد خندا راغله، هغه دمشرانو خبره مې نیغه سترګو ته ودرېده، خو په هر حال ځان مې هسې او داسې غلط کړو، د چایو ګلاس مې راپورته کړو یو غوړپ مې ورکړو، بیا مې مور ته سترګې ور واړولې:

-د مرواء څه حال نه دی معلوم شوی؟

-نه زویه! خدایزده بېچاره د کومو بلاو خوراک شوه؟ له دې خبرې وروسته یې سترګې را ډکې شوې په ژړاغوني آواز یې پسې زیاته کړه: دخوارانو داسې بېخ او بوټی ورک شو ډېر مې زړه پرې بد دی، چې سرای (حویلۍ) ته یې کله ور وګورم، له یو دوه سپینو کاغذونو پرته چې باد یې پکې رغړوي، رارغړوي نور هېڅ نشته، پردې یې هم ظالمانو ترې خلاصې کړې د اتاقوو منځونه یې له کړکیو تور، تور معلومېږي د سړي وهم ترې وشي!

-افف سړی څه ووایي مورې! زما خپله ډېر زړه پرې بد دی!

نور مې مور مجلس راپرېښود دخپلو اوښکو په وچولو شوه، ما مې ګیلاس را جګ کړو یو ښه غوړپ مې بیا ورکړو، د څو لحظو لپار خاموشي خوره شوه اخیري غوړپ چای مې هم په سر واړولو، خالي ګیلاس مې په ځمکه کېښودو، مور مې ترموز ته لاس کړو، دګیلاس له پاسه مې لاس ونیولو کړم مې:

-بس دی نور نه څکم!

-داسې ښه چای دی وڅښه چې دمه دې جوړه شي، موټرو به خسته کړی یې!؟

-دمه مې جوړه شوه بس دی نور نه شم څکلی!

-ښا زویه! خوښه دې، د چا موټر کې راغلې له کابله؟

-د صادق استاذ سره راغلم، خو نه پوهېږم چې څه کیسه وه په اډه کې مې چې ستړي مشي- ورسره کوله هسې دوې ګوتې یې راته ونیولې، په پوزو کې وبنګېدو، هغه اخلاق یې نه و، موټر ته چې وختلم سلیم؛ حاجي روزي خان، پشم ګل، ډاکتر وحید، معلم صبور، او واسع پکې ناست و، دې هم همداسې عمل راسره وکړو، هسې ما لاس ورته ونیولو مجبور شول زړه نا زړه ستړي مشي- یې راسره وکړه، له همغه ستړي مشي- پرته بیا تر دې ځایه یوه هم اوف راسره ونکړو!

-بلا دې پسې کیسه کې یې مه کېږه زویه! زما او خویندو سره دې هم دکلي یوه ښځه نه غږېږي، کوژدې دې زور ورکړی، ما خو مخکې درته ووېل: چې که دا نجلۍ مې درته وکړه ډېر به وچوي، داسې چیټې نجلۍ مې نه ده درته کړې ته به وایې: چې په ګوتو دې جوړه کړې!

-عجیب دی یو نه، دوه نه ټول کلی، مورې خو دچا سره بد هم نه دي کړي دا خلک بیا ولې دومره راباندې نیت بدي دي؟

-امم ته صبر ښځه به دې ووینې زور به ولې نه ورکوي؟ هغه ورځ مې هم درته ووېل: چې دټول کلي پیغلې او ناوې راټولې کړې ستا دښځې په یوه نوک پسې نشي رسېدلی!

-ته وایې: چې همدا خبره ده؟

-نور مو نو څه دچا پلار وروژلی؟ خود!

جیب ته مې لاس کړو موبایل مې راویستلو مزار کې له مدین خیلي هلک نه رالېږلي د اینګور یې (صدف) تصویرونه مې په صفحه راوستل مور ته مې کړل:

-دا پېژنې؟

د مور مې چې سترګې پرې ولګېدې په خندا شوه؛ جوړه لاسونه یې جګ کړل دګونډو له پاسه یې په شړک ووهل، وروسته یې د الاااا په لوړ آواز ناري سره مدینې ته مخ ور واړولو کړل یې:

-ما خو دومره نه پکې ګڼله بې شرمه بیا ځان ور رسولی عکسونه یې پرې اخیستي؛ توبه څه بې حیا زمانه راغله!

مدینه هم راکږه شوه د تصویر په لیدلو سره یې کړل:

-هووو شکر دا خو رښتیا داسې ښه شی ده!

مور مې ورغبرګه کړه:

-تاته لکه چې زما خبرې ټوکې ښکارېدې؟ ښه ورته وګوره د کلیوالو به دې ولې زوی نه مري؟

د مور او خور ترمنځ ددې خبرو په آورېدو سره مې داسې احساس کولو لکه د سر وزن مې چې شل منه وي، غږ مې پرې وکړو:

-تاسو اوټې بوټې پرېږدئ کیسې ته غوږ شئ!

مور مې خوشحالوکې سترګې راوړولې ددې هیله وه، چې اوس به د نجلۍ سره د تماس او لیدو کیسه وکړي، خور مې هم په همدې امید حیا کې نغښتې خامې موسکا سره راڅکه شوه، خلاصه کیسه مې ورته شروع کړه:

-داسې مزار کې دپوهنتون تر مخ پارک کې ناست وم، یو ناشناخته ځوان راغلو...

بلاخېره ټوله کیسه مې ورته وکړه، مور مې تندي ته په ټول فشار شړک ورکړو، د مخ کاسه یې تکه توره او شنه شوه، خوله یې خلاصه نیولې وه، نور یې خندا او ژړا نه معلومېدل زبون وهلې

شوه. خور هاخوا ختلې ختلې له اوښکو او وېرې ډکې سترګې هيجاني ناسته وه، څو دقيقې وروسته مې د مور له خولې په ډيم او پول جګ آواز غږ راووتلو کړل يې:

-دسمال مې راکړئ چې سر مې وچودو!

مدينه جګه شوه له اتاق نه ووتله په منډه واپس راغله له هغه پخوانيو زېړ او سرو مبارک د سمالونونه يې يو لوی دسمال لاس کې رانيولی و، کلک، کلک يې تر سر ور وپېچلو شا طرفه ته يې ور غوټه (ګنډه) کړو، د دسمال تر تړلو وروسته، په داسې حال کې چې پوښتنۍ ته ناسته وه، څنګلې يې په ګونډو تکيه کړې، د دواړو لاسو جوړه ورغوي يې په تندي کېښول، معنا سر يې په لپه کې ونيولو تر ډېره همداسې ناسته وه، د درد له زوره يې يو نيم زګېروی هم کولو.

مجلس مو د خاموشۍ جامې واغوستلې، که څه هم د کيسې مې وروستۍ څو خبرې پاتې شوې، خو مور ته يې نور د اورېدو تاب نه و ورپاتې، وضعيت يې ببخي خراب شو، ماښام و جګ شوم لمونځ مې وکړو لماخستن بيا سره راټول شو، د مور وضعيت لا هم ښه نه و، په دسمال تړلی سر لکه واو (و) په ځان راټوله پرته وه، ډبل زميستاني ځادر يې په پښو اچولی و؛ مدينه او فرينښته هم لکه ترېدلې هوسۍ يا لکه يخ يې چې کېږي، په مخونو يې د پوستکي ميده سره وېښته ببر ببر ولاړ و، رنګونه يې تک زېړ تښتي و، سترګو کې يې د وېرې، غم او خلکو نه د شرم دريابونو

څپې وهلې، خاموشي وه، لا هم د خبرو کولو، آورېدلو تاوان او حوصيله چا کې نه وه، ډوډۍ موډۍ مو، په پټو خولو سره وخوړله، له يو ګيلاس چای څښلو وروسته مې په مدينه غږ وکړو:

-زما کټ کې خو به مو کالي نه وي ټول کړي؟ ويده کېږم!

-نه کالی نشته پکې، ته صبر زه دې بستره درته اواره کړم!

څو لحظې وروسته يې غږ راوکړو:

-راځه!

په جګېدو کې مې په مور غږ وکړو:

-څنګه شو سر دې، که ښه نه وي؟ زما بیک کې پراستامول ګولۍ شته یوه وخوره!

غږ يې راته ونکړو خدايزده چې وايې نه ورېدل، که ويده وه؟

دوهم ځل ما هم غږ پرې ونکړو؛ که ويده وي، چې ويښه نشي. له اطاق نه راووتلم کټ کې مې وغځېدم، اګر چې بلا چورتونه، فکرونه راسره مل و، اما د اوږده سفر، موټرو جسمي او روحي ستړيا مې په انديښنو برلاسې شوه، د څو لحظو په تېرېدو سره ويده شوی وم، يو وخت مې چې سترګې رالوخې کړې سهار و، راجګ شوم اودس او لمونځ مې وکړل، واپس ولاړم کټ کې مې پرېوتم، موبايل کې مې ګوتې وهلې، څه وخت وروسته فرېښتې غږ راوکړو:

-لالا راځه چای تيار دی!

پسې ور روان شوم چې کتل مې مور مې مخامخ دېوال ته ناسته وه، تر مخ يې په اوار پلاستکي سور رنګه دسترخوان خپړ، خپړ ډوډۍ هاخوا دېخوا کوله، مدينې ګيلاسونو کې بوره اچوله، په ور نژدې کېدلو سره مې سلام ور واچولو، پسې کړل مې:

-څنګه دی مورې سر دې!؟

اوس خو شکر ښه دی، دروند دی، خو خوږېږي نه!

-ځه خدای ج مهربانه دی چې دومره شو نور به هم ښه شي!

په چای څښلو مو شروع وکړه، تقریباً نیمایي ته مو رسولی و، چې مور مې په خورا مظلومانه انداز سرې سرې سترګې راوړولې کړل یې:

-داسې خو هم نه کېږي چې کرار کینو، هېڅ نه پوهېږم چې اوس سړی څه ورسره وکړي؟

-ته به نن بېګا راهسې په دې فکر کې یې، زه دا دولس ورځې له مخه چې خبر شوی یم، شپه ورځ همدا فکر کوم، تر ښځه خو تېر، تېر اما داسې یوه لاره مې هم پیدا نکړه چې صرف ددې کلي کور له شرم او پېغور نه پرې ووځو!

په جګ او توند اواز یې راغبرګه کړه:

-الاااا څومره بې غیرته خبره دې تر خوله راووتله، بل کوم پښتون دې هم لیدلی چې ښځه یې کړې بیا ترې تېر وي؟

-نو څنګه وکړم ایا دا بې غیرتي نه ده چې په خپلو سترګو مې یې دهغه هلک سره تصویونه ولیدل شماره یې ورسره وه او په خپله خوله یې راته وویل: چې کالونه کېږي له ما سره یې ملګري ده، همدې ته کېنم ښځه یې کړم؟

-ترې تېدلو خبره مه کوه، بدښکارې، بې غیرته ښکارې په پښتانو کې تر اوسه نه ده تېره، ورځم دوس ته یې وایم، چې دا خریمه دې په تا مبارک وي، کور کې یې درسره وساته چې شمله دې پرې لوړه وي، ما ته به دې کشره لور راکوې، لږ وړه ده، خو د نجینو تخم دی، سبا بله ورځ پېغله کېږي، تر هغو به ستا پوهنتون هم خلاص شي!

-کراره کینه مورې! همدا یو شرم مې بس دی، نور مې ددې خلکو نه توبه ده، سبا به د هغې نتجه هم همدا شان راوتلې وي!

-ای زما بې غیرته زویه، لعنت دې زما په شیر (شیدو) شي چې تاته مې درکولې!

-بې غیرته نه یم موري! ته ولاړې په دومره نجینو کې، نه یې دې پوښتنه وکړه، نه ښه، نه بد، په رنډۍ سرېښ شوې، زه دې هم لکه ماشوم خطا کړم، اوس لا تنبه هم یې چې بله یې درته کوم، پرېږدئ اصلاً دا کورنۍ له سره خرابه ده، په دې کیسه یې مور او پلار هم خبر دي، که په دوئ کې غیرت وی په دا تندي به یې ویشتلې وه!

بلاخېره د مور خبرې ډېرې تونډې او ترخې شوې، ما تر ډېره ځان کنتولولو، احساساتي ځواب مې نه ورکولو، اخیر نشوه زما حوصیلې هم کار پرېښود ښه څه مو سره وکړل، داسې جنګ مو وکړو چې په ټېر ټول عمر کې مو نه و کړی البته لفظي جنګ، که څه هم په دې اخیر کې یې یو د چایو نه ډک ګیلاس راخوشې کړو، په دې چپه اوږه یې وویشلم، خو خیر دا به نه حسابوم. د همدې ویشتلو سره ترې راجګ شوم له اطاق نه، راووتلم، کالي مې لانده و، د څو لحظو لپاره د وړې کوټې په کړکۍ کې لمر ته ودرېدم، چای خوږ و، بوره وه پکې له وچېدو سره سم مې د مخې لمن او د پرتوګ ګنډه، دا یوه پایڅه لکه وچه خرمن شخ پخ شول، واپس ورغلم له وره نه مې مدینې ته ور غږ کړل:

-یو جوړ پاک کالي مې شته؟

مدینې ساه ونیوله، ځکه چې کالي مې سهار بدل کړي و، طبعاً زړه کې به یې ګرځېدلي وي چې کالي خو یې سهار بدل کړل اوس یې بیا څنګه غواړي؟

ملامته نه وه، زموږ د جنګ اخیري شیبو، د ګیلاس ویشتلو په وخت دا اشپزخانه کې وه، له دې جریان خبره نه شوه!

له ساه نیولو وروسته یې په ټیټ غږ کړل:

-هو شته!

سمدلاسه پسې راجگه شوه، دهلېزه کې یې چې زما لکه د لرګي شخه پخه لمن او پایڅه ولیده، خندا ورغله، خو تر څو زه پوه نشم زر یې مخ واړو روانه شوه، پسې شوم د ماری پلې یې راخلاصې کړې، کړل یې:

-دا دوه جوړه پاک کالي دې شته دواړه وطو دي، هر کوم چې اغوندې، نور دا رانه روانه شوه، زر زر مې دا خیرن ویستل، زېړ ناخودي رنګه کالي مې غاړې ته کړل واسکټ مې له پاسه پرې واغوستلو، په وېښتو میښتو مې ګوتې ووهلې، برګ دسمال مې په اوږه واچولو، بهر ته دې وتلو قصد مې وکړو، را روان شوم، دهلېزه کې مې څپلۍ پښو کړې، راووتلم، حویلۍ کې دروازې ته څېرمه مې د مرواء په جرګانو سترګي ولګېدې، زموږ له چرګانو هاخوا جلا د دېوال څنګ ته دواړه جوړه لکه دمور او پلاره نه یتیم شوي کوچني ماشومان عاجزې، عاجزې دلمر وړانګو ته ولاړې وې، افغف یقین وکړئ په لیدو یې ماوېل زړه ته مې چا خنجر راواچولو، سخت زړه مې پرې بد شو، یوه شیبه ورته تم شوم، د مرواء د وخت نازونه یې رایاد شول، چې تل به یې د برندې په بر سر زېړ وړکي جام کې رښې اوبه ورته اچولې وې، توده ډوډۍ به یې چې پخه کړه، دوی پسې به یې په عاطفې لهجه آواز وکړو:

-بیو، بیو، بیو!....

همداس نورې خوشامندي به یې ورته کولې، دوئ به هم ورمنډه کړل، مرواء به له ګرمې ډوډۍ نه یوه اندازه میده کړه، همغه شان ګرمه، ګرمه به یې مخ کې ورته واچوه، بلاخیره سترګي مې له اوښکو ورته را ډکې شوې، اخیر کې مې لاس د الله ج حصور ته د دعا په پار لپه کړل:

(یا الله ج د مرواء دمړینې او نورې تولې بدې آوازې دروغ کړې ددغو مظلومو چرګانو له رویه یې جوړه روغه ورته راپیداکړې) د دسمال پیځکه مې ورجګه کړه، سترګي مې وچې کړې روان شوم، د مسجد تر مخ سپاچې ته تر رسېدو دمخه څو کسه کلیوال په مخه راغلل، لمړی خو به

يې کوشش کولو چې لار رانه چپه کړي، ولې چې مجبور به شول، لکه د يو ناشناخته مسافر سره، هسې د زړه له پاسه سترې مشي- به يې راسره وکړه، په سپاچه د راټولو مشرانو، ځوانانو، کوچنيانو کليوالو وضعيت هم عين شی ډېر بې خونده و، حتا هغه نږدې ملګرو مې هم ځنګ رانه کولو، که څه هم له يوې خوا مې ډېر سخت فکر خراب و، چې دا خلک ولې؟ دومره رابانددې نيت بدي دي، ما خو به د دوئ په وادونو کې آتڼونه کول، خوشحالي به مې کولې، بلخوا به مې ځان ته ډاډ ورکولو: څه څه کيسه کې يې، يې؟ خدای ج يې دې ذره وچووي، اما په دې خبره پسې پيوست به مې دا افسوز هم کولو چې کاشکي نجلۍ (صدف) خو خرابه نه وی ختلې، دا خلک يې چې په کوژده دومره رابانددې نيت بدي دي، که له دې کيسې يې خبر شي څومره به چاغ شي؟ خلاصه د درئ څلورو ورځو په تېرېدو سره، دکليوالو ددې شوم وضعيت له کبله مې د کلي نه بېخي نفرت وشو، بل خوا د صدف کيسې بنګ راخکولي و، هوايي به ګرځېدم، مګر څه به مې کړي وی؟ نه مې دې جګرخونيو د حل لاره لرله چې متې مي غړلې وی حل او فصل کړې مې وی، نه يې په تيښته سر ورتللو، ليونی سپيلنی ګرځېدم، تر ډېره مې کوشش کولو له کوره بهر نه راوتلم، کور کې به هم شپه ورځ خپل کټ کې رغړېدم، چې د ټول فاميل د عمومي ناستې اطاق ته به ورغلم د مور مې هم عصاب شارت و، په جنګ به ورسره واوښتم، له همدې کبله مې خپل کټ غنمت ګڼلو، په همدې شپو ورځو کې يوه ورځ فکر کړم له مزار نه د راتلو پنځمه ورځ مې وه، طبعت مې د نورو ورځو په پرتله بېخي ډېر خراب و، راجګ شوم باغ ته دتلو په نيت مې حرکت وکړو، په لاره کې د فضل دوکان ته ورتاو شوم وړکی زوی يې و پکې، پنځه روپۍ مې ورته ونيولې دری دانې سيګرېټ مې ترې واخيستل، په داسې حال کې چې تر دې دمه مې سيګرېټ په شونډو نه و لګېدلی، صرف اورېدلي مې و: دا خلک چې معتادان شوي، دوئ اکثريتو لمړی دشديد خپګان په وخت د عصبي آرامتيا په خاطر نيشه کړې، د خوند په ورکولو سره يې دوام ورکړی بلاخېره معتادان شوي، نو ما کړل: ته راشه سړيه! که رښتيا عصاب ارامه وي نن ته هم ددې اضطراري

وضعیت په وړاندې دې لږ گټه تـرې واخلـه، لـه نـن هـاخوا بـه بیـا دوام نـه ورکـوې، چـې معتـاد دې کړي، همدا و چـې سـیگرېټ مـې د سـینې لـه پاسـه د واسـکټ پـه پاسـني وړکـي جیـب کـې ودرول را روان شـوم، بـاغ تـه پـه ورسـېدو سره د ونـو مـنځ کـې پـه غځېـدلې پولـه دپښـو پـه سرکېناسـتم، سـیگریت مـې پـه شـونډو کـې ونیولـو، چـې راپـام مـې شـو، اوووو لـه دوکـان نـه خـو دې گـوگرد راوانخیسـتلو؛ دې کـار مـې لا پـه عصـابو فشـار راوړو، ولـې دوکـان هـم لـرې و، د وسـه مـې ونشـول چـې بیـا پسـې ورشـم، سـیگریت مـې واپـس لـه شـونډو راوخیسـتلو لاس کـې مـې نیـولی و، زه پـه خپلـو فکـرو کـې تللـی وم، یـو وخـت مـې چـې پـام شـو، سـیگریت مـې گوتـو کـې سرویلـی و، څـه تنباکو مې د گوتو لـه قـاتو ځمکـې تـه تـویې و، دا بـاقي او پلـتر یـې مـا پسـې ورخطـا کـړل، لاس مـې ترې ټکوهلو. څو شیبې وروسـته مـې چـې کتـل، چـرسي ثنـاگی، چـې چـا بـه لېـونی ثنـاگی ورتـه ویـل د بر طرف له کونجه په بـاغ راگډ شـو، زمـا همزولـی و، خـو پـه ډېـرو چرسـو څکولـو یـې ځـان داسـې کـړی و، چـې تقریبـاً زمـا د پـلار پـه سـن ښـکارېدو، ددې سربېـره عقـل یـې هـم چنـدان یـاري نـه ورسره کوله، نو ځکـه بـه ځینـو خلکـو لېـونی هـم ورتـه ویـل، زمـا حـد تـه پـه رانـژدې کېـدو، دپنځـو، شپږو قدمو په لرې والي سره، نه سلام، نه کلام، په تېز او جدي انداز یې کړل:

-څه وخت راغلی یې؟

-څلور پنځه شپې کېږي!

-ای خدای ج دې خوار کړه، ښـی لاس یـې ورجـگ کـړو خپلـه گیـره یـې پـه مـوټې کـې ونیولـه؛ پسـې زیاتـه یـې کـړه: دغـه گیـر دې د خـره پـه (.........) شـنه وي، کـه دې ښـه ورځ لیـدلې وه! نـور نـو ماته نژدې راوسېدو، تر څو مې پوښتنه ترې کوله، چې ولې څه چل دی؟

زما مخکې پـه ځمکـه پراتـو تنبـاکیو تـه یـې پـام شـو خنـدنوکی، خنـدنوکی کېـدو، د وروځـو ښـوررولو په واسطه یې تنباکیو ته اشارې کولې کړل یې:

-امممم بچېش! سګرېټې خو دې هم ډک کړې! ګویا تنباکو دې ترې خالي کړي له چرسو دې ډک کړې.

ورغبرګه مې کړه:

-ورک شه، غرق شې لېونیه! دلته له چا نه خالي سیګریت لوېدلی و، ما راواخستلو میده، میده مې کړو ومې غورځولو، پسې زیاته مې کړه:

-څه چل دی؟ لمړی دې ولې ووېل چې خدای ج دې خوار کړه؛ ولا که دې ښه ورځ لیدلې وه؟

-د رحیم ددک لور دې چې نکړله رنګه یې دې ولې وربدوله، دظالم بچیه ته وایې چې اوس به دې له هغو نه ښایسته ښځه کړې وي؟ بنده یې بوله ولا که دې خیر ترې کړی و، ایران مې وهلی، ترکیه مې وهلې؛ پاکستان مې وهلی، کابل کې خو زوړ شوم، په خدای ج کې مې د ددک د لور جوړه لیدلې وي، قسم ده چې څلور واړه خوراني مې د ادې سره پکې تللی که مې پرېښې وی، خو افسوز چې تا د ناځوانه زوی یې کار نه وی ور خراب کړی، ډېر سخت ظلم دې ورسره وکړو، ته راځه ازار به یې ووینې، ستا له لاسه یې مردګاو تره مړی ژوندی ورک کړو، دریمه ورځ یې له ډېر خفګانه د ددک (پلار) زړه هم پسې وچاود مړ شو، د هغه ګنا هم ستا په غاړه ده، ته غوږ نیسه که همداسې د یوه لبه خدای ج ورک نکړئ زه به سړی نه وم!

-درومه لېونډرته دا مرداري پښې دې پرې مینځه ما ته مصلح مه کوه!

ځواب کې یې کړل:

-زړه مهم دی چې پاک وي، پښې خیر که خیرني وي!

-عصاب مې مه خرابوه، څه وایم!

لـه همـدې خـبرې سره. مخکې تـر دې چـې ثنـاګی څـه ووایـي، موبایـل تـه مـې زنـګ راغلـو، چـې راومـې ایسـتلو نمـبر ناشـناخته و، ورسره راجـګ شـوم مخـامخ د ویـالې پـه لـور روان شـوم، خـو تـر څـو مـې اوکـې کـوو، قطعـه شـو، زمـا سـیمکارت اتصالات و، فـري کـړی مـې و، یـوازې اتصـلات سـمکارتونو تـه زنـګ تـرې تلـو، او دا د بلـې شـبکې روشـن سـیمکات نمـبر و، نغـد کردیـت مـې نـه لرل، ترخو واپس ما زنګ ورتـه کـړی وی، لـه همـدې کبلـه د بیـا زنـګ وهلـو پـه انتظـار یـې د ویـالې پـه څنـډه کېناسـتم، څـو لحظـې موبایـل تـه متـوجې وم، زنـګ رامعلـوم نشـولو، چـې تـر شـاه مـې ور وکتل ثناګی هم تللی و، خو زه یې پـه خـبرو کـې فکـر یـوړم، کـه څـه هـم خـبرې یـې ترخـې وې، ولـې په یو ډېر مهم څه مې یـې سر راخـلاص کـړو، هغـه دا چـې څنګـه یـې ووېـل، پـوه شـوم چـې امممـم ددې خلکـو مـې پـه کـوژده کولـو نیـت نـه دی بـد، د مـرواء د ورکـې او پـلار دمړینـې لامـل یـې مـا ګڼـي، زړه یـې پـرې بـد دی، ځکـه یـې بـد رانـه راځـي. ددې سربېـره لـه کـوژدې کولـو راپـه دېخـوا راپېښـو بـدبختیو، سـتونزو، خپګـانونو تـه پـه کتـو، زړه کـې راتېـره شـوه: هـووو رښـتیا قسـم ده، دا بـه هـم هـرو مـرو د مـرواء ازار وي؟ چـون پـه وروسـتیو کـې یـې چـې مـزار تـه زنـګ راوهلـی و، بېچـاره څـومره اوزر، زاری وکـړې، څـه سـلګۍ یـې وهلـې، کاشـکي مـې ورسره منلـې وی، اوس بـه زه ولـې دومره بدبخته، په شرمـو شرمېـدلی، یـا هـم ولـې بـه د ټـول کـلي کـور نفـرت رانـه کېـدو، ددې بـه ولـې داسې مړی او ژوندی ورک و، هی افسوز څه بد رانه وشول.

پـه همـدې فکـر کـې ډوب وم، چـې کړنګـار شـو، مبایـل تـه مـې بیـا زنـګ راغلـو، لـه جیـب نـه د رایستلو سره سم مې ولیدو همغه مخکنی روشن نمبر و، د اوکې بټنه مې کلیک کړه:

-سلام علیکوم!

-وعلیکوم سلام، برادره ښه یې!؟

-الحمدالله ښه یم، ته ښه یې وخت ښه تېرېږي؟!

-په دې ساعت شکر دی مننه، شبیر یم د مدین خېلو، مزار کې مې چې درسره ولیدل!

-امم مهرباني!

-هلته چې دواړه پرې وغږېدو، طبعاً دهغه موضوع په اړه به دې اوس پوره فکر کړی وي، یوه پرېکړه به دې نیولې وي؟

-هو پرېکړه مې نیولې!

-کېدی شي راسره شریکه یې کړې؟

-هو، تاته دې مبارک وي!

په دې وخت کې فکر کړم همدغه نجلۍ به یې ترڅنګ ناسته وه، ځکه یو خف ښځینه غږ مې تر غوږه شو چې کړل یې: ځار ځار څه صادق هلک دی، نور یې هم خدایزده څه وېل، خو غږ یې د شبیر خوشحالوکي درانه غږ ورتت کړو، چې وېل یې:

-آه تر خوله دې قربان وروکه! باور وکړه، چې خبر شوم پوهنتون وایې باتعلیمه ځوان یې، اویا سلنه د همداسې یو معقول ځواب په امید دروان شوم، پوهېدم چې انشاءالله درک به مې کړې او هلته مې چې بیا ستا ځواني او انسانیت ولیدو پوره ډاډه شوم، کور دې ودان، هو ربتیا هغه کومې وعدې چې ما درسره کړې وې اوس هم ورته ژمن یم؛ تر دې دمه مو چې هر څومره پیسې پرې مصرف شوې وي، راته وایې وایه، چېرته چې غوړې در رسوم یې، دوهم که غواړې چې دیوې ښې نجلۍ د کوژدې په کولو کې همکاري درسره وکړم انشاءالله دا کار هم کولی شم، حتا د خپلې خور په اړه مې درته وېلي و، که دې خوښه وشوه، په دواړو سترګو، هر وخت کولی شې څوک راولېږې، له دې هاخوا هم که کوم خدمت وي؟ یا بل وخت څه ضرورت و، همدا زما نمبر دی، زه مو تل خدمت کې یم!

-مننه! سمه ده، که اړتیا شوه بیا به گورو، خدای ج دې مل شه!

له همدې سره مې تماس ورقطعه کړو، دتماس تر قطعه کېدو وروسته لکه دوېالې پوشت چې ښوري یا لکه زلزله چې وي، یو قسم ټال مې وهلو، خو اصلاً هېڅ خبره نه و، بس هسې مې داسې احساس کولو، لنډه دا چې راجگ شوم، د کور په لور مې حرکت وکړو، سر مې لکه ډول داسې و او لا مې هم د ټال وهلو احساس کولو، پوډري غوندې کوږ او کېږ راروان وم، په هرو پنځو قدمو کې مې یو قدم له پولې پټې ته ښوېدو، بلاخېره کور ته راورسېدم، کور هم هغه پخوانی کور نه و، چې سره راغونډ به شوو مجلس توکې ټکالې به مو وکړې، و به مو خندل یو بل ته به مو مینه ورکړه؛ بس د ټولو طبعیت خراب و، هر سړي کوشش کولو چې ځانگړي اطاق ته ننوځي ور پسې ورپورې کړي خپلې اندېښنې وکړي.

په همدې تړاو زه هم مستقیماً خپل کټ ته ولاړم په کې وغځېدم شیبه وروسته

فریښتې غږ راوکړو:

-لالا! راځه ټکله (ډوډۍ) تیاره ده!

-څه شی مو پخ کړي؟

-وریځې او کچالو!

-ځه زه موړ یم اوس یې نه خورم!

فریښته ولاړه تر دوه بجو پروت وم، پس له دوه بجو راجگ شوم د اودس کولو په نیت لاندې د مهمان خانې د دهلېزه تشناب ته ننوتلم اودس مې وکړو واپس راوختلم چې له اطاق نه مې د مور په ډېر لوړ او تند آواز غږ راوځي خورا سختې سپکې سپورې کنځلې کوي، زړه کې مې وېل: خدایه! خیر کړې بیا څه کیسه ده؛ فکر مې وکړو موبایل کې یې له چا سره جنگ دی،

ګړندي قدمونه مې ور واخستل ترڅو زر ور ورسېږم چوف يې کړم، بد کار دی دا چا ته داسې پوچ او سپک وايي؟ چې دهلېزه ته مې قدم ور دننه کړو، له هاخوا دا په مخه راغله د ډېر قهر نه يې مخ تور او شين و، کړل يې:

-بې ننګه؛ بې غيرته خو وې، اوس دې چرس خان هم د ځانه راته جوړ کړو؟

تر خو مې وېل: چې څه چل دی؟

سيګريټ يې راته کش کړل په دې مخ يې وويشتلم، د دېوال خوا ته پلاس پروت و، سم دم يې په دې ورترف کړل، څو يې راجګولو ترې هممم (منډه) مې کړل، د احوېلۍ منځ ته رسېدلی وم، چې سږبږ شو پلاس مې ددې يوې ډډې سره تېر شو، ښه و خدای ج ترې بچ کړم رابانډې ونه لګېدو، دروازې ته له رسېدو سره سم، څنګه مې چې دستګير ته لاس ور واچولو، تر سر پورې مې يو بل خطرناک درذ شو، د دروازې په سرتاک د چرګانو د اوبو کنډولی ولګېدو، ښه و، له دې هم خدای ج بچ کړم، نور ترې راووتلم.

نيک مرغ سيګرېټ دې شي هغه دوه دانې مې جيب کې هېر شوي و، دلته زما نه و ورته فکر شوی، په کټ کې مې له جيب نه لوېدلي و، د مور مې سترګې پرې لګېدلې وې. په هر حال چې کيسه بلخوا ولاړه نشي-، ښه وه، مور مې تر دروازې راپسې راونوتله، واپس وګرځېده زه مستقماً مسجد ته ولاړم د مسجد تر مخ د روانو ابو په چينه مې اودس وکړو، که څه هم اودس خو مې کور کې وکړو، ولې بيا هم ماوېل هسې نه په دې منډو، منډو کې څه زيان ورته رسېدلی وي بلخوا نمونږې چينه چې اوس هم زموږ کلي کې د مسجد تر مخ شتون لري، رڼو او صفا ابو ته يې په کتو بار، بار د سړي شوق کېږي چې اودس پرې تازه کړي، په هر حال له اوداس او لمونځ کولو وروسته، بيا باغ ته روان شوم، مجبور وم نور به چېرته تللی وم، کليوال حتا نژدې ملګري هم، هغه د چا خبره ټول ټنډ و، هېڅوک نه و، ترڅو ورغلی وی لږ وخت مې

ورسره تېر کړی وی، بلاخېره په باغ کې وم، وم، ان تر دې چې د مازيګر او ماښام لمونځ مې هم دلته وکړو، ناوخت کور ته ولاړم دروازه مې، ارامه راخلاصه کړه، نرم، نرم ولاړ د ناستي اطاق ته مې تر کړکۍ ور وکتل، مدينه او فرېښته ناستې وې په مجله کې يې د څه شي تصويرونه کتل، مور مې نه ښکارېده، بيا هم نرم، نرم راغلم کرار مې د اطاق ور راخلاص کړو، سلام مې واچؤ، مدينې عليک کړو، پوښتنه مې ترې وکړه:

-مور چېرته ده؟

-سر يې خوږېږي په وړه کوټه کې ويده ده!

-لکه چې ډېره په قهر وه؟

-هو تر مازيګره يې ژړل ګنځلې يې کولې!

-زه يې خبرې ته پرې نښودم، دا سيګريت مې سهار لاره کې پيداکړل، راپورته مې کړل ماوېل: کوم سيګريټي ته به يې ورکړم، څه خبر وم چې دومره غم به ترې جوړېږي؟ کنې همغلته مې پښه پرې ايښوده ميده، ميده مې کول!

-خی مور بېچاره ملامته نه وه، فکر يې وکړو چې ته يې څکوې مور هم خپه شو!

-نه بې غمه اوسئ، زه چې دلته د هر قسم هلکانو سره ګرځېدم عملي نشوم، پوهنتون کې نه عملي کېږم، هلته ټول باتعليمه هوښيار هلکان دي، له دې شيانو ډېر بد وړي، پسې زياته مې کړه: ورکه دا کيسې پرېږدئ وږی يم څه شی مو پخ کړي کنه؟

-د توپ (غرمې) وريځې او کچالو پاتې دي، که هغه نخورې، په موسکا سره يې کړل: هګۍ هم شته خو د فرېښتې د چرګې دي خرڅوي يې!

-دانه په څو ده؟

مدينې، فريښتې ته مخ ور واړو غږ يې پرې وکړو:

-په څو دې بيه کړې؟

-دانه په شل روپۍ!

په داسې حال کې چې دهګۍ عامه بيه په ټول کلي کې پنځه روپۍ وه، د فريښتې شلو روپيو لمړی وخندولو بيا مې کړل:

-صحيح ده؛ څه ورشه د څلوېښتو روپيو په منډه راپخې کړه، هسې نه چې مور راشي بيا ويشتل شروع کړي، هر څه پاتې شي، مدينه ولاړه هګۍ يې راپخې کړې، د ډوډۍ خوړلو سره همحال مې چای هم غوړپولو، ډوډۍ مې زر زر وخوړله ګوتې مې د دسترخوان صافي کولو په څړي پاک کړې، د دعا په کولو سره، راجګ شوم خپل کټ ته مې راغلم.

فکر کړم زما له تللو وروسته مې مور راغلې وه؛ خويندو مې کيسه ورته کړې وه، چې سيګريټ يې لار کې پيداکړي و، دی يې نه څکوي، ځکه سهار چې د چای خوړلو لپاره ورغلم که څه هم په بسم الله؛ بسم الله اطاق ته ورننوتلم ددې، سربېره منډې ته مې هم ځان تيار کړی و، له مور نه دېخوا ته دسترخوان په خنډه کېناستم، د چاي په څکلو مې پيل وکړلو، خو ښه و تر دې دمه يې هېڅ غږ ونکړو او نه ما جرئت وکړی شوی چې غږ پرې وکړم، يا يې د سر دخوږو پوښتنه ترې وکړم، مخکې يې تيار له چايو ډک ګيلاس اېښی و، وېرېدم، د کندهاريانو خبره ماوېل هسې نه چې بيا يې را اېله کړي، خلاصه له چای څکلو پس نرم جګ شوم، له اطاق نه راووتلم، مقصد له دې وروسته که څه هم، منډې او ويشتل نه و، خو نور د کور اوضا ګونګه وه، صرف د ډوډۍ خوړلو لپاره به يوه دسترخوان ته راټولېدو او يوازې د اړتيا په اساس به مو يوه نيمه خبره سره کوله، دې وضعيت تر ډېره دوام وکړو د نورو ټولو سر درديو علاوه دکور دې وضعيت، بې اتفاقۍ يو له بل نه لرې والي سخت جګر خون کړم، د کليوالو ورځ تر بلې خراب

برخورد ته په کتو، له کوره بهر وتلو ته مې هم زړه نه کېدو، ان تر دې چې د پوهنتون رخصتي پوره شوه، سبا مې دتللو ورځ وه، داسې خوشحاله وم، لکه جنت ته چې ځم، کنې نور کله به پوهنتون ته تلل راباندې بوج و، اما دا ځلې زړه تنگی شوم، همدا و، چې پس له ډېرو شپو ورځو خفگان او مرورتیا وروسته ماخوستن مې په مور غږ وکړو:

-مورې! زما روخصتي خلاصه شوه، سبا پخير ځم؛ د صدف په حساب چورت مه وهه زه يې جوړوم، تر دې دمه چې څه شوي، هغه شوي، له دې هاخوا که جنگ ورسره وکړې، که ملا ته يې کينوې، که هر څه وکړې فايد نه لري، پرته له تاوانه، لا به خلک راکې وغږېږي، لا په شرمو پسې شرمېږو، دا نجلۍ خو مې نور له سره نه ده پکار، پاتې شوه هغه بله وړه خور يې هغه هم په درد نخوري، په اول قدم کې خو به اوس لس کاله دې ته انتظار يو تر څو پېغله شي، بيا چې پېغله شي خدايزده دا څه بلا وخېژي د صدف خور ده. هغه متل به دې اورېدیلی وي؟ ( که سل خويونه نور کړې، يو خو به دې مور کړې ) مقصد ته له سره کار مه ورسره لره، زه ورسره پوهېږم.

دوهمه خبره دا درته کوم، چې مور او تاسو اشتبا کړې وه، ددې کليوالو مو په واده نيت نه دی بد، دوئ فکر کوي چې مرواء په ما مئينه وه، په دروغو مې د واده کولو په بهانه ډېر بد کارونه ورسره کړي، د بل چا سره له واده کولو مې ايستلې وه، خو کله چې ما بل ځای واده وکړو دې ته بله لاره نه وه، پاتې ذهر يې وخوړل، بيا يې کاکا له ډېر قهر او خلکو د شرمه خدايزده چېرته ترکي تامه ورکه کړه، دری شپې وروسته يې د زيات غم له وجې د پلار زړه پسې وچاودو، ددې ټولو لامل ما گڼي، ځکه خلک داسې بد برخورد راسره شروع کړی، لرې رانه گرځي!

مور مې راغبرگه کړه:

-خلک لېونیان دي چې څه یې لیدلي نه وي له خپلو ګېډو غېږېږي تورنه لګوي، که ربښتیا مئینه وی، زړه یې وی چې تا وکړي؟ وېلي به یې و، که تا ته یې نشوی وېلی، ماته به یې وېلي و، که له ما هم شرمېدله، دې نجینو ته به یې وېلي و!

زړه کې مې وېل: (چې بېچاره ماته ډېرې زارۍ وکړې، خو بس خدای ج ووهلم ) د مور خبرو مې دوام لرلو زیاته یې کړه: خلک چې هر څه پسې وایي، وایي یې دې، مور ته خو خپله معلومه و، مرواء ښه نجلۍ وه، اول زما هم زړه و، ان ستاسو له ماشومتوبه مې نیت کې و، چې څنګه رالوی شئ همدا مرواء به درته کوم، دا خلک چې نن تور پسې لګوي، زه قسم کوم چې ددې یوه په خور او لور کې د مرواء حیا، دینداري، انسانیت نشته، خو د دوئ خولې دې خدای ج په خاورو پټې کړي، کنه اوس خو لا څه ان له ماشومتوبه ډېره هوښیاره پاکیزه نجلۍ وه.

دا خبره تر څه پورې رایاد شوه؟ مممم ربښتیا اول مې کلک زړه و، ماوېل چې زه به یې درته کوم، خو بیا مې فقط په دې خاطر زړه ورته ونه نیولو، چې تاسو دواړه له ماشومتوبه لکه خور او ورور داسې راستر شوئ، ډېر په دې شان یو ځای راستر شوئ، هلکان او نجینې مې لیدلي چې په یوه کور کې لوی شوي وي، له لویدو وروسته یې د کورنۍ له خوا نکاح وتړل شي، پس له نکاح بیا هغه هلک او نجلۍ ته په یوه بستره کې پرېوتل هغه شان ښه نه ښکاري څنګه چې ښایي، ځکه د دوئ په مینه کې د خور او ورور دمینې رنګ ګډ وي....

په خوله خو مې غږ ورته ونګړو، ماوېل اوس بیا جنګ جوړېږي، کنې زړه کې راتېره شوه: چې څه ورک کړه، اوس دې کار مرادر کړی، چې دا بابولارې ونه غږوې څه به کړې؟ کنې هغه، هغه هلکان او نجینې دي چې نصبي ریشه سره ولري، خپلوان وي، مور خو صرف ګونډیان یو کاشکې دې راته کړې وی، خو ته هم خدای ج ووهلې، زه دې هم خطا ایستلم دا دي په شنه آسمان دې غرق کړو) خو په هر صورت د مور خبرو لا هم دوام لرلو کړل یې: مرواء د خدای ج

پخیر روغ، جوړه راپیداکړي، ددې خلکو آرمان خو به هرو مرو ورپوره کوم او په دې هم یعقني شوم، چې ټوله دنیا پسې چغل کړم، تر مرواء ښه نجلۍ نه شم پیدا کولی.

زړه کې مې کړل: ( کاشکي دا عقل دې مخکې درسره وی ) خو په خوله مې بیا هم غږ ونکړو، د مور خبرې بېخي زیاتې شوې پسې کړل یې: د دنیا په نجینو کې مې په دې یوه نجلۍ مینه راغله، هغه هم دومره سپکه، خطا نجلۍ وختله، نور مې د ناشناخته نجینو نه توبه ده؛ که سر تر پایه د سرو زرو هم وي، بر پدر یې دې لعنت شي!

-هو مورې! همداسې ده، ستا خبره مرواء دې خدای ج پخیر راپیداکړي، دا ځل به حتماً ددې خلکو په خاطر دا کار کوو، هر څنګه چې دي اوس خو مو کلی دی، بده ده، د سړي له ځان نه کرکه وشي چې ټول کلیوال څنګ ترې کوي، خو خیر ډېر چورت مه وهه؛ خپل کور، ژوند، او لورانو ته دې متوجه اوسه انشاءالله د وخت په تېرېدو به د کلیوالو اړیکې هم د پخوا په څېر راسره ښې شي، ما پوه کول خو داسې ده چې یو نه دی؛ دوه نه دي، ټول کلی رانه په څنګ دی، کوم یوه ته سړی قناعت ورکړي؟

او بل دا چې فعلاً ډېر غوسه دي، د خبرې کولو موقع راکول څه؛ حتا خواته مې نه راګوري، مګر بیا هم وایم انشاءالله د وخت په تېرېدو به هر څه سم شي، اما تاسو مو فکرونه نور خپل ژوند ته راوګرځوئ، ډېر هاخوا او دېخوا چورتونه مه وهئ، زه زنګ درته کوم حال مو اخلم او بل مې هم خدایزده چې څه درته وېل خبر مې هېره شو، خو خیر تاسو دا ډوډۍ راواخلئ تر هغه کوندې رایاد شي!

مدینه او فریښته جګې شوې، شیبه پس فریښتې چلمچي او کوزه راکړنګول، تر لاس مینځلو وروسته یې دسترخوان راخور کړو، قابونه یې پرې کېښودل، سابه یې پخ کړي و، فکر کړم وچه ریشکه وه، یوه، یوه پخه کړې هګۍ یې هم له پاسه پرې وراچولې وه، ډوډۍ مو وخوړله چې

ساعت ته مې وکتل ناوخته وه، پاځېدم لمونځ مې وکړو، مور او خوندو ته د (شپه مو پخیر) په وېلو سره خپلې د خوب بستري ته ولاړم، تر څو سبا دسفر لپاره دم راسته وم، لنډه دا چې شپه تېره شوه، سهار وختي مې خدای ج پاماني وکړه، بیک مې اوږې ته کړو، له کوره راووتلم، که څه هم د کلیوالو موټر مو هم و، خو څنګه چې دوی څنګ رانه کولو، ماته یې هم خوند نه راکولو چې ورسره وخېژم، ترڅو تر کابله ټوله سواري بد، بد راته وګوري، مستقیماً ولاړم د ولسوالۍ له عمومي سرک نه په ناشناخته موټر کې وختلم، کابل ته تر رسېدو وروسته، د خیرخانې کوتل سر کې د سه صدچهار موټرو اډې ته ورغلم، اول نمبر موټر ته ورپوته شوم، نیم ساعت پس موټر حرکت وکړو، تر چهاریکارو چې تېر شو، هغه دتېر کال سفر دمرواء بوسراغې رایاد شوې چې دې ساحه کې مې خوړلې په مرواګۍ پسې مې زړه درد وکړو، سترګې مې راډکې شوې لاس مې ورجګ کړو، د ګوتو په څټ مې اوښکې وچې کړې، عین حال کې هغه ټپۍ هم ذهن ته راغله:

(څوک چې په خپله په ځان وکړي

نه دې ګیلې کړي نه دې اوښکې تویوینه)

په هر راز بلاخېره تر سالنګ واوښتلو، خنجان مینجان مو هم لاندې کړل، ان تر پلخمري مې یې د صحنې، صحنې انځورونه سترګو کې تاوېدل، خو ترڅو سر مو ونه خوږوم، لنډه دا چې د شپې اوه بجې وې لیلیه ته ورسېدم، د ملګرو سره مې ستړي مشې وکړه، طعام خانې ته ننوتلم، ډوډۍ مې هم وخوړله، واپس راغلم اطاق کې مې ملګرو سر چای وڅکلو، څه هاخوا دې خوا غورې مو سره وکړې، له دې وروسته مې د تېر په څېر عادي ژوند پیل کړو سهار به پوهنتون ته تللم، دشپې به لیلیه کې وم، وخت ناوخت مې د کور د احوال اخیستو سربېره د مرواء پوښتنه هم کوله؛ تقریباً دوې میاشتې مې د مسافرۍ وتلې وې، یوه ورځ مې مور راته کړل:

-د کلي خلک د صدف په کیسه خبر شوي، داسې خوشحاله دي، رښتیا زویه! همغه ستا خبره ده، له ډېرو مې واورېدل چې وایي: همداسې ښه دي، خدای ج یې دې حال تر دې بتره کړي، دا ټول د رحیم ددک او لور آزار یې دی پسې!

که څه هم ددې خبرې په اورېدو مې سخت زړه بد شو، خو بیا هم مور ته مې دتسلیت په پار کړل:

-بلا دې پسې، مه پسې گرځه خلک څه، څه نه وایي؟ خپل ژوند کوئ چې کاسه کې یې رالېږي، غلبېل کې یې دې راولېږي چې تر مورډ راونه رسېږي!

فکر کړم دشبکې ستونزه وه، له همدې خبر سر مو پرته له خدای پامانۍ تماس قطعه شو. زه هم په لارو وم، له تدرسۍ نه لیلیه ته راروان وم؛ نور پسې ونه گرځېدم موبایل مې جیب ته کړو، لیلیه ته راوسېدم د تېر په څېر شپې ورځې، هفتې تېرېدې ان تر دې چې دا سمستر هم ختم شو، امتحانونه شروع شول، د تېر کال برعکس د هر امتحان په تېردو د روخصتۍ په رانژدې کېدو مې زړه تنگېدو، دکلیوالو وضعیت او د صدف په کیسه خبرېدو ته یې په کتو، کلي ته مې بلکل زړه نه کېدو له همدې کبله یوه ورځ چې دوه امتحانونه لا پاتې و، ښار ته ولاړم، د یو کندهاري ډاکتر دواخانې ته ورغلم، د ډاکتر کور هم همدلته مزار کې و، چون له دې مخکې هم چې دواه به مې پکار شوه، ورتللم به، یو شنگ مې پېژندو، یوازې دا دواخانه یې نه و؛ د دواخانې له پاسه (حیات کلینیک) هم دده و، ډاکتر ته مې ور یاده کړه:

-ډاکتر صیب! په دې دواخانه یا کلنیک کې دې کوم کارمند ته ضرورت نشته؟ که وي زه غواړم کار درسره وکړم!

-نه کارمندان پوره دي، ته څه کار کولی شې؟

-هر څه چې وي، د شپې وي، که دورځې پروانه کوي، چوکيداري، يا بل هر کار چې وي کولی يې شم، ددې سربېره دکمپيوتر ساينس پوهنځۍ محصل يم، په انگلسي- او کمپيوتر هم تر يوې اندازې پوهېږم، ددې دواخانې او دې ته ورته کارونه انشاءالله کولی شم!

-کمپيوتر دې لږ زده دی که ډېر!؟

-پنځه پروگرامه مې زده دی!

-ښا، ماشاءالله دکوم ځای يې؟

-د وردگو يم!

-ډېر ښه، کارمندانو ته خو ضرورت نه لرم، ولې که همداسې کار راسره کوې د دواخانې کارونه زده کوې؟ راځه دری وخته ډوډۍ او که دشپې ځای نه لرې؟ پاس کلنيک کې ځانگری وطاق هم درکوم، تيار فرش او ضرف لري، د يوه ډاکتر اطاق دی هغه ترې ولاړو!

دا چې ما هم له خدای ج نه همدومره يوه سرپنا غوښته، پرته له چون او چرا مې ورسره اوکې کړه، اما دا مې ورته ووېل: چې دوه امتحانونه مو پاتې دي، چې خلاص شول، دوې ورځې وروسته راځم او پسرلی کله چې بيا درسونه شروع شول، پس له نيمې ورځې راځم.

دا يې هم راسره ومنله؛ دوې ورځې وروسته رخصتي شوه هلکان کورنو ته روان شول، دليلېه ساتونکي قلف په گوته کې گډولو، ليليه کې په پاتې هلکانو يې نارې وهلې:

-زود، زود برايي دروازه را قلف مې کنم!

ما هم بيک غاړه کې راوچولو کلنيک ته راغلم، ډاکتر مې اطاق راته تسليم کړو، بيک مې پکې کېښود، نور ورښکته شوم، دواخانه کې مې کار ورسره پيل کړو، لمړی خو دا کېږده؛ دا راکړه، دشپو ورځو په تېرېدو سره دسړي عتماد راباندې زيات شو ډېری وخت به دواخانه کې تنها وم،

دی به بل ځـای تللی و، کـه څـه هـم راتـه ویـلي يـې نـه و، خـو خيـر دې يـوسي هـره پنجشـنبه يـې ( ۱۵۰۰ ) افغـانۍ دحـمام، ويښـتو جوړولـو؛ موبايـل كـارت لپـاره راكـولې، ښـې وې، ډوډۍ او اطـاق مـې مفـت و، دا ( ۱۰۰۰ ) افغـانۍ زمـا د حـمام او ځينـو نـورو اوليـه ضرورتونـو لپـاره بـس وې، پـه (۵۰۰) روپيـو مـې د كمپيـوتر او انګلسيـ يـو كـورس ونيولـو، پـس لـه مـازيګره پـه څلـورو بجـو بـه ورتللم؛ مـور تـه مې هـم همـدا كورسـونه د سرږ ژمـي نـه ورتلـو بهانـه كـړي و، لنډه دا چـې د ډاكـتر سره مې ددې ژمي، عـلاوه ټـول اوړی هـم كـار وكـړو، پـس لـه پسرلـيه بـه نيمـه ورځ پوهنتـون كـې وم، نيمه ورځ مې دواخانه كې كـار كولـو، تـر څنـګ مې يـې خپـل كـورس هـم تقيبولـو، پـه دې وروسـتيو كې يې ډاكتر د مـوټر كلـۍ هـم راكـړې وه، تـر پوهنتـون او دواخـانې بـه پكـې تللـم راتلـم، پـه همـدې وخـت كـې يـوه ورځ چـې د جمعـې ورځ وه، پوهنتـون او دواخانـه دواړه رخصـت و، لـه حـمام نـه راووتلـم يـو، دوې هګـۍ يـو څـو رومـي بانجـان، يـوه د نـانوايۍ ډوډۍ مـې پـه لاره كـې راسره راوخيسـتل د اطـاق پـه لـور راروان شـوم، كـه څـه هـم كلنيـک كـې ډوډۍ وه، خـو هسـې نـن مـې د هګيـو شـوق وكـړو، اطـاق تـه د رارسېدو سره سـم چـې لا مـې دلاس خلتـه پـه غـولي نـه وه ايښـې، موبايل ته مې زنګ راغلـو، را ومـې ايسـتلو چـې كتـل مـې نمبر ناشـناخته و، لمړی مـې خلتـه هـاخوا كونج كـې دګـاز تـر څنـګ كېښـوده؛ واپـس راتـاو شـوم د بسـترې لـه پاسـه لـوړ كېناسـتم د موبايـل د اوكې سره سم مې غږ پرې وكړو:

-بلې سلام عليكوم!

له مقابل لوري لمړی څښو پښ راتلو وروسته په نرم ښځينه آواز ځواب راكړل شول:

-وعليكوم سلام اكبر جانه ښه يې!؟

فكر مې وكړو حتما له دوستانو مو څوک دي، ورغبرګه مې كړه:

-الحمدالله ښه يم، تاسو ښه يی كور خيرت دی!؟

-شکر دی ښه يو!

-وښنه ولاکه مې پېژندلې يې!؟

-افقف له کومې خبرې چې وېرېدم همغه دې وکړه!

-څنگه په مطلب دې پوه نشوم!؟

-بـاور وکـړه، مياشـتې کېـږي هـره ورځ موبايـل راجـگ کـړم، غـوارم زنـگ درتـه وکـړم امـا د
پوښتنې له وېرې يې دې واپس کېږدم!

-ته څه وايې؟ صحيح وغېږه!

-نوم مـې درتـه اخلـم، خـو تـه او (خـدای ج) تـه او (رسـول ص) سـتا دې پـه خپلـه ځـوانۍ او خپلـه مردانه گۍ قسم وي، که به مې رټې!

-دا څه چيټيات وايې، نوم دې ووايه څوک يې؟

-نه داسې نه وايم، پـه پـورتني قسـم وعـده راسره کـوې کنـه؟ چـې رټـې بـه مـې نـه او خـبرې بـه مـې تر اخيره اورې!؟

-هو څه ووايه:

-صه صه صه، افقفقف په کومو سترگو په کومه خوله، څه رنگه درته ووايم!؟

-الگويي مه کړه، که وايې ووايه که نه وايې موبايل قطعه کوم!؟

-نه، نه قطعه يې نکړې صه صه صه.... صدف يم له مدين خېلو نه مې زنگ وهلی!

ددې خبرې په آورېدو مې له ټول وجود نه، سور تاو پورته شو، خو خير بيا هم خپل احساسات مې کنترول کې راوستل د مخکې په شان عادي غږ مې ورته کړل:

-ښا غواړې څه ووايې؟

-غواړم ښښنه درنه وغواړم؛ په ژړاغوني غږ يې پسې زياته کړه :بېله شکه ته دخداى ډېر نازولى ولي يې، افففف ستا له آزاره توبه!

-ما ښښلې يې!

-نه، نه داسې ښښنه نه يادوم، درځم لمړى دې پښو ته ټيټېږم، بيا بېله کوم قيد او شرطه او پرته له کوم مالي لګښت نه، د شرعي نکاح په مشروعيت کې دې د ژوند تر پايه په ټوله مينه او اخلاص خدمت کې حاضرېږم، داسې ښښنه يادوم!

ورغبرګه مې کړه:

-لا زړه دې نه دى يخ غواړې نورې ملنډې هم رابانـدې ووهې، تر دې زيات خلک راوخندوې؟

-نه؛ نه؛ خداى ج دې نکړي، صرف دا څو خبرې مې واوره!

خرپ د همدې خبرې سره مې يې موبايل پرې ورقطعه کړو، جګ شوم په هګيو پخولو مې شروع وکړه، د همدې هګيو پخولو په جريان کې يې پرله پسې څو زنګونه نور هم ووهل، پرې اوکې مې نکړل، فکر مې د صدف خبرو کې و، هګيو هم څه بېخ رانه ونيولو، سوى بوى يې جګ شو، تخم پزي مې دګاز له سره رښکته کړه، په خوړلو مې يې شروع وکړه، سر سر مې يې ترې راټولولو، بېخ يې سوى و، په دې وخت کې د صدف زنګونه هم بند شول، تر څو مې ډوډۍ خوړله چايبر هم وايشېدو چاى مې وراچولو، د دم تر اخيستلو مې يې، دوې، درې

ګولې ډوډۍ نوره هم وخوړه، وروسته مې دسترخوان او تخم پزي ټول کړل، چای مې راوچولو، نيم ګلاس يا څه زيات به مې څښلی و، چې کړنګ شو موبايل ته مې مسېج راغلو، لاس مې ور اوږد کړو، د بسترې له سره مې موبايل راواخيستلو، چې کتل مې مسېج هم د صدف له نمبر نه را استول شوی و؛ د راسپړلو سره سم مې يې په لوستلو شروع وکړه، لا مې پوره نه ولوستی، چې کړنګ شو، بل مسېج يې راواستولو د لمړي تر لوستلو وروسته مې د دوهم په لوستلو شروع وکړه، دا مې هم پوره نه و لوستی، چې بل يې راواستولو خلاصه پرله پسې يې اوه مسېجونه راواستول، د مسېجونو خورا زر زر ليکلو، د ليک ترتيب او په خپل ځای د لغاتو استعمال ته په کتو يې، نجلۍ په لوړه کچه باتعليمه معلومېده، مدين خيلو کې د نجينو ليسه وه، بل ددې پلار سرمعلم و؛ د دولسم شهادت نامه خو به يې طبعاً اخيستې وي، که څه هم د ليک له ديدګاه يې تحصيل ان د ليسانس تر کچې ښکارېدو. په هر ترتيب، را ځم د مسېجونو محتوا ته يې، که څه هم دې ډېر ښکلي ليکلي و، خو زه به يې ګډ وډ صرف هغه مطلب درته راواخلم، په لمړيو دريو کې خو يې يوازې زار کړې وې، په خپلو بدو عتراف او بښنه يې غوښتې وه، ددې سربېره يې هيله کړې وه، چې موبايل مه را قطعه کوه؛ په وروستيو نورو څلور مسيجونو کې يې سر تر پايه تقريباً يوه موضوع را استولې وه، خو فکر کړم ليک يې زيات و، يوه مسېج يې ضرفيت نه لرلو، ځکه يې د څلورو مسېجو په واسطه را استوله وه، چې ددې هم لمړۍ کرښې تر ډېره په زاريو او بښنه غوښتلو راڅرخېدې، خو په هر حال، ټول تال يې د سلام په پيل سره داسې يو څه ليکلي و:

-ستا غوسه او خپګان په ځای دي، ته ملامت نه يې منم زما له لاسه د عالم خلخندی شوې، طبعاً ډېرې اندينښنې، بې خوبۍ پرېشانۍ ...به دربانډې تېر وي او ماته به دې هم ډېر آزار کړی وي، همداسې کورنۍ به دې ډېر آزار کړې وي، چې دا دې په سزا يې هم ورسېدم، ملا يې بوټه راته ماته کړه، په بدبختيو بدبخته شوم، شبير مې له لاسه ورکړو، دا هر څه له خدايه

ګنړم، ستا له ازاره یې ګنړم، خو په والله باالله صمت الله که زه خبره وم، تاته زما دکوژدې ګل زما په غایب کې مور او پلار مې درکړی و، خو هر څه چې و، بیا هم منم د کور، کلي دوست او دښمن په وړاندې شرمیندګي او پیغور زما له وجې درته ورسېدل، اما څنګه چې وړاندې مې وویل، بیا هم وایم، زه دومره بې احساسه، دل کوشه نه یم، دا هر څه زما له ارادې پرته شوي او یوازې تا ته نه بلکې ما ته یې هم خورا زیاته سردردي جوړه کړه.

خو په هر راز؛ چې خبرې مې ډېرې اوږدې نشي- راځم اصلي مطلب ته مې، څنګه چې یو باسواده ځوان یې په هر څه پوهېږې، د هر ځوان هلک او نجلۍ لپاره خپل د ژوند ملګری انتخابول ګناه نه ده، مور هم د خپل شرعي حق لمخې ما شبیر او شبېر زه د خپل راتلونکي ټول ژوند اوږه په اوږه همسفري کولو لپاره انتخاب کړی و، خو له بدمرغه نصیب مو نه و، لنډه دا چې اوس مې اولنی او اخیرنی انتخاب ته یې، پس په خپله مردۍ دې د یوې نجلۍ په صفت هیله درنه کوم، چې له ما سره مې زما د بدو په ټول برخورد ونکړې، بلکې برعکس د خپل لوړ انسانیت او بهترۍ له مخې دې، څنګه مې چې بار، بار یادونه وکړه، د هغه شان ښښنې غوښتلو موقع راکړې! البته پټه او له وېلو دې پاتې نه وي، کوم چې شبیر هم کیسه درته کړې وه، له کالونو راپه دې خوا مې د شبیر سره مینه پاللې، یو بل ته بې انتها ګران و، خو که ووایم شاید درته دمنلو نه وي، اما الله ج مې په سر ولاړ دی، یقین وکړه، چې تر دې دمه مو لاس یو دبل په لاس نه دی لګېدلی، ملګرتیا مو یوازې په تش سلام او د ضرورت په اساس ډېرو کمو لفظي خبرو ولاړه وه، هغه هم د ټول ادب په ساتلو سره، البته دا نه وایم، چې زه ښه نجلۍ وم دځان ساتنه مې کوله، نه بلکې شبیر خپله ډېر دینداره پاک نفسه انسان و، حتا ما به چې کوم قدم له چاوکاټ نه بهر کېښودو، ده به مې په کلکه مېانعت کولو، په ټول ددې ټول عمر دملګرتیا کې مو نامشروع کړنه او یا هم زیاتی هغه عکسونه اخیستل و، چې شبیر مزار ته دروړل، هغه هم د ډېرې اړتیا په اساس، چون پرته له هغه عکسونو دروړلو، ممکن تا د شبیر په خبرو دومره اسانه

باور نه وی کړی، له دې هاخوا بیا هم وایم خدای مې په سر حاضر دی، په ټوله معنا مو ډېره پاکه او سپېڅلې رابطه ساتلې، خو بدبختانه کله چې شبیر مزار کې ستاسره تر لیدو وروسته راستون شو، سم دلاسه کندهار ته ولاړو، په وروستي ځل یې زنګ هم له کندهار درته وکړو، زما شماره یې په ګروپي ډول وصل کړې وه، ستاسو ترمنځ خبرې ما آورېدلې، باور وکړه هغه خبرې ته مې دې تر بیګاه ژړلي چې ( تاته دې مبارک وي!) پوهېږم واقعاً د یو زلمي لپاره، د خپلې کوژدې په اړه، یو بل ځوان ته ددې خبرې کول اسانه نه دي، هغه هم بیا زموږ او تاسو پښتانو په ټولنه کې، همدا و، چې ډېر سخت مې زړه دربانـدې وسوځېدو، خپل مور او پلار ته مې آزار، آزار په خوله راتلو، خو افسوز.

راځم مخکنۍ خبرې ته مې دشبیر پنځه میاشتې درسونه پاتې و، دده له فراغت وروسته مو دکوژدې کولو تصمیم لرلو، کله یې چې درسونه خلاص شول، د واړه خوښیو، هیلو او امیدونو سره د کور په لور راروان و، ولې له بدمرغه مرګي لار ورته نیولـه وه، غزني کې یې موټر لمړی د یو بل موټر سره ټکر او بیا تر سرک وتلی و، د لسګونه لولونو په وهلو سره یې د ټولې سوارۍ په شمول شبیر هم خپله د چنار په شان دنګه ځواني له لاسه پکې ورکړه. زما تر زغم لوړه دا لویه غمیزه مې له خدایه ګڼم، ستا آزار یې ګڼم، که ښښنه راته ونکړې او داسې ښښنه، څنګه مې چې ورانـدې ووېل، ګویا د ژوند د یوې ناچیز ملګرې په صفت مې دې قبوله نکړې، له شک پرته دا به مې وروستۍ بدبختي نه وي، د ژوند ډېرې درنې سپېرې شپې به نورې هم وخورم، چې بلاخېره پایله به یې زما په ځان وژنه راوڅرخېږي!

هو ربښتیا داسې هم نه ده، چې ګواکي له شبیر وروسته په ما دنیا کن فیکون ده، اوس په تا ځان ټپ کوم! نه، نه یقین وکړه، همدې مدین خیلو کې وغواړم، که بل ځای په ځوانانو کې هغه سره، په ټوله اشتها زما د مینې وږی، تږی، ښایسته، په مالیاتو سنبال او زما د واړه شرطونو منونکی ځوان د ژوند ملګری کولی شم، هغه هم دده په اوزر او زاریو.

اما نه، چون زه نـه غـواړم لکـه نـوري نجينـې، ماديـاتو، ظـاهري ښکلا، يـا نـورو موقـت ارزښـتونو تـه په ترجيح ورکولو سره يې صرف د نارينـه پـه خپـره او يـا هـم تـش پـه نـوم يـو انسـان سره د ټول عمـر څه حتا د يوې لحظـې لپـاره يـو ځـاى اوسـم، نـه هـم پـه خپـل نـامحرم بـدن صـلاحيت ورکـوم، همـدا و، کنـي د شـبير پـه پرتلـه زمـوږ پـه گاونـډ کـې ظـاهراً ډېـر ښـکلي، شـتمن او ښـوى ځوانـان گرځـي، ولې تـور دنـگ شـبير يـې د خپـل اصـليت، هوښـيارۍ او انسـانيت لـه مخـې زمـا انتخـاب و، خـو پـه هـر صـورت، غـواړم خـبره مـې لنـډو کـې راټولـه کـړم، امـا پـه ښښـنې سر بيـا، بيـا رانـه اوږده شي، خلاصـه يـې دا چـې يـو خـوا دې ښښـنې تـه ډېـره جـدي اړتيـا لـرم، ترڅـو نـور لـه دې زيـاتو بـدبختيو کربـه نـه اوسـمه، بلخـوا هغـه بـاطني جـوهر، اصـليت او ښايسـته گـي چـې لـه مخـې يـې مـا شـبير انتخاب کـړى و، لـه شـبير وروسـته، نـن مـې د وخـت د ټولـو ځوانـانو لـه جملـې هغـه ټـول ارزښـتونه يوازې په تـا کـې ليـدلي، کـه تـه راتـه خپلـې غېـږې تـه د درتلـو چـانس رانگـړې، پرتـه لـه دې چـې د کوم بل ځوان نـوم واخلـم، ټـول عمـر بـه يـوازې تېـر کـړم، امـا نـه پـه هـر قېمـت چـې وي دا خـبر بـه دربانديې منم!

کېدى شي اوس دا سـوال هـم درتـه پيـدا شـوى وي، کـه تاتـه واقعـاً د ظـاهري لـف او جـف، ماديـاتو او نـورو موقـت ارزښـتونو پـه پرتلـه څنگـه چـې وايـې د يـو انسـان انسـانيت او اصـليت يـا هـم قلبـي ښايسـت اوليـت لـري؟ صـحيح ده، شـبير خـو دې کليـوال و، ټـول خـوى او خـواص يـې درتـه معلـوم و، دا بـه ومـنم چـې شـبير بـه دې د خپلـو ښـو ځـانگړنو لـه رويـه انتخـاب کـړى وي، مگـر زمـا د څېرې نه ليدلو سربېـره، د خـوى او خواصـو سره هـم نااشـنا يـې، بيـا پـه کـوم دليـل دا عـتراف کـوې، چې گويا زه دې هم پورته ياد ښکلې ځانگېړنې ولرم؟

هو! سوال دې په ځاى دى، ځـواب کـې يـې وايـم: څنگـه مـې چـې مخکـې د شـبير يـو تـر بـل ښـکلو خصوصـياتو يادونـه وکـړه، همداسـې دروغ، لاپـې، د چـا غيبـت يـا هـم توصـف يـې لـه سره عـادت نـه و، نه يې هم وخت پرې ضـايعه کولـو، بلکـې ډېـر بـد بـه يـې تـرې وړل، همـدا و، چـې اکثريـت خلـک

یې لـه نیکـو اخلاقـو، ناسـتې ولاړې نـه متـاثره و، دده پـه قـدم بـه یـې قـدم اېښـودو، خپلـه الګـو یـې ګرځـولی و. مګـر یـوازینی کـس تـه وې چـې شـبیر دې لـه انسـانیت او سـترې حوصـېلې نـه متـاثره شوی و، تل به یې چـې زنـګ ووهلـو، پـه ډېـر افسـوز سره بـه یـې د خپلـو خـبرو یـوه ځنـډه کـې سـتا یادونه او توصـف کولـو، خصوصـاً هغـه اخیـري جملـه بـه یـې دې ډېـره پـه خواشـنۍ سره یادولـه چـې پرتـه لـه کـوم شر او سردردۍ جوړولـو دې ورتـه ووېـل: (تاتـه دې مبـارک وي!) چـون ددې خـبرې کولو وړتیا یـوازې هغـه امـن پسـند، متمـدن او لـوی انسـانان لـري، چـې د ځمکـې پـه سر خـال خـال پیداکېږي، پـس همـدا د شـبیر لـه خـولې سـتا توصـف او شـبیر غونـدې ځیـرک او سـتر فکـر لرونکـی انسان له ځان نه متاثره کول، طبعـاً سړی پـه دې یقینـي کـوي، چـې تاسـو هـم د روانـې زمـانې یـو لـه هغـو انسـانانو یاسـت، کـوم چـې الله ج د اشرف المخلوقـات پـه لقـب یـاد کـړي، لـه دې کبلـه بـه مـې تـر هغـه تاتـه د رسـېدلو هڅـې او د اوزر، زاریـو لمـن خـوره وي، ترڅـو سـتا د تـرحم تـر سـیوري لاندې نه یم راغلې، یا مې د همدې آرمان قرباني شوې نه یم، ګورته مې نه وي راسره وړی.

مسېجونه همدومره و، اخیر کې هغه د دعـا پـه پـار د لپـه شـو، لاسـونو یـو قطـار سـتېکر یـې هـم پسـې وهلي و.

ټول مـې ولوسـتل، خـو تـر لوسـتلو وروسـته مـې یـې د ځـواب پـه وراسـتولو یـا نـور څـه وېلـو نـه ډډه وکړه، ځون زړه کې مې وېـل: اول خـو دې شـاید کـوم بـل فسـاد زړه کـې وي، بیـا کـه هـېڅ فسـاد هـم نه وي، زه دومره بېغیرتـه درتـه ښـکارېږم؟ چـې پـه خپلـو سـترګو مـې دې عاشـق ولیـدلو؛ پـه خپلـه دې هـم وېـلي: چـې کالونـه، کالونـه مـې ملګـري ورسره کـړې، اوس بـه پـه دې ټولـو سـترګې پټـوم او تـا تـه بـه خپـل عـزت او نـاموس وایـم؟ موبایـل مـې واپـس د بسـترې لـه پاسـه کېښـودو، ګـلاس مـې راپوته کړو، چې غوړپ مې ترې وکـړو چـای مـې د عـادي اوبـو پـه شـان یـخ کـرخ شـوی و، پـه چیـبر مې لاس کېښود، دا هم د کوما په حال کې و، د څکلو نه و.

جګ شوم خیرن ګیلاسونه مې سره د ظرفشویۍ په تخم پزۍ کې واچول د دهلېزه په دست شویۍ کې مې یې په مینځلو شروع وکړه، واپس چې اطاق ته راغلم، د آذانونو غږ مې واورېدو، چې کتل مې د ساعت ستنې په څلورنیمو بجو ولاړې وې، د مازیګر دلمانځه وخت و، اطاق مې قلف کړو، مسجد ته روان شوم، په لارو مې موبایل ته بل زنګ راغلو، راومې ایستلو بیا هم صدف وه، واپس مې ورقطعه کړو، مسجد کې وم چې بل زنګ ئې ووهلو خو ښه و، د موبایل غږ مې مخکې له مخکې خاموش کړی و. څه سر مو خوږوم، لنډه دا چې په هر نیم ساعت کې یې یو زنګ وهلو یا یې مسېج کولو، زنګ خو مې نه اوکې کولو، په مسېج کې کله په یو رنګ اوزر او زارۍ کله په بل، کله به یې د موبایل د اوکې کولو هیله کړې و، خلاصه دا لړۍ شپو، شپو او هفتو ته وغځېده؛ بلاخېره تنګ یې کړم، دواخانه کې له ډاکتر او

کلنیک کې له نورو کارمندانو هم شرمېدم، دم په دم به مې جیب کې موبایل لړزېدو، د شرم تر څنګ وېرېدلم هم ترڅو هسې نه چې نور شکونه او بدګمانۍ وکړي.

بلاخېره شماره مې یې بلاک کړه، زنګ او مسیجونه مې یې وربند کړل. له دې سر دردۍ مې ځان خلاص کړو، د مخکې په شان آرام فکر مې د دواخانې د کارونو تر څنګ خپل کورسونه تقیبول.

دا چې دتېر ژمي سره سره د اوړي په رخصتۍ کې هم کور ته نه وم تللی؛ پس له امتحانونو ددې دوهم ژمي په را رسېدو مې مور وېل:

-نور که ته نه راځې؟ زه درځم!

اګر چې زړه مې نه کېدو، که د کلیوالو له مانه بد راتلل برعکس ما یې هم په وړاندې ډېر سخت حساسیت پیداکړی و، هېڅ مې نه خوښېدل چې مخ یې په مخ راولړي، خو مور مې مجبور کړم، چې ورشم، که څه هم په موبایل مې یې ورځ کې درې څلور کرته احوال اخیستلو،

تـر خنـګ مـې د مـرواء پوښـتنه هـم تـرې کولـه، ولـې پـه دې يـې بسـنه ونکـړه، لـه ډاکـتر نـه مـې تـر پسرلـيه اجـازه وغوښـتله د ډاکـتر هـم لاس رابانـدې سـپک و، زړه يـې نـه کېـدو چـې تـرې ولاړ شـم کړل يې:

-مه څه وردګو کې جنګونه دي، خوږ به شې!

اما د مور خـبره مـې چـې ورسره شريکـه کـړه، نـور يـې غـږ ونـه کـړو، جيـب تـه يـې لاس کـړو، پنځـه زره افغانۍ يې راته ونيولې وېل يې:

-اممم دا دې کرايه کړه!

-خير يوسې پيسې لرم!

سړي په جدي انداز کړل:

-واخله!

پيسـې مـې تـرې راواخيسـتې خـدای پامـاني مـو سره وکـړه، تـرې راروان شـوم، سـهار وختـې د مـزار نه دکابل په لور موټر کـې راوختـلم، تـر تـولې ورځـې مـزل وروسـته قضـا مـازيګر کـور تـه راورسـېدم، مور او خوينـدې مـې ډېـر راتـه خوشـحاله شـول همداسـې زه يـې هـم پـه ليـدو خوشـحاله شـوم، ممتـا رنګونه يې ډېر سخت خراب شوي و، د سبب پوښتنه مې يې ترې وکړه:

-ولې مو رنګونه داسې الوتي خيرت خو به وي؟

-هو شکر خيرو خيرت دی!

کومه ستونزه یې راپه گوته نکړه خو فکر کړم د کلیوالو د بد برخورد، پس پسک، خبرو، د صدف په کیسه خبرېدو له وجې ځورېدل رنگونه یې الوتي و، ما هم په همدې تړاو ډاډگیرنه ورکړه:

-د چا کیسه کې نشئ خپل خوشحال ژوند کوئ، خلک چې هر څه وایي وایي یې دې، مورې او تاسو هېڅ بد یا دشرم کار نه دی کړی، صدف مورې وکړه، چې پوه شو بې لارې ده، واپس مو ورپرېښوده، دا بې غیرتي نه ده بلکې غیرت مو کړی، زمورې کور خو څه فاحشه خانه نه ده، چې فاحشې ورته راټولې کړو او همداسې د مرواء دوئ سره مو کوم بد کړي؟

مدینه خوشحالوکې شوه کړل یې:

-مورې! لالا رښتیا وایي، مورې هم دا دومره وخت له فکر کولو پرته ځانونه د خدای ج په وړاندې گناهگار او د خلکو په وړاندې تور او بدنام گڼل د زړه وینې مو ورسره خوړلې، بلا مو پسې!

که څه هم مور مې مدینې ته په خوله څه ونه ویل، ولې د تندي له ورین والي یې معلومېده چې خبرو مې دې ته هم خوند ورکړو، خو په هر حال راځم دې ځای ته شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته بهر ووتلم، لمړی د مسجد سپاچې ته ولاړم، چې نمورې سپاچه د ټول کلي مرکزیت و، لوی او واړه به پکې راټولېدل، خو په زړه مې تورې لړې راخورې شوې، د کور نه په راوتلو پښېمانه شوم، چون په وړاندې مې دخلکو چلند نظر تېر کال ته بېخي زیات ترینگلی و، هغه وخت لا ښه و، یو نیم به چې مجبور شو، زړه نازړه به یې دوې گوتې راته ونیولې، دا ځل نه یوازې دا چې هېچا ستړي مشي- راسره ونکړه؛ بلکې خپلو منځونو کې به یې خندل ټوکې یې وهلې، نتیجه کې یې د صدف د پېغور پیام په ښکاره ښه تر ما رارسولو، زړه کې راتېره شوه: افرین مې په مور او خویندو، ددې یهودو منځ کې به یې ولې رنگونه نه وي الوتي؟

همدا و، چې له سپاچې نه د باغ په لور روان شوم، فکر مې ډېر زيات خراب و، باغ کې مې هم ټيک ونشو، څو د قيقې وروسته واپس کور ته راغلم، نور هفته کې هم يو ځل له کوره نه وتلم، ژمی مې په همدې شان تېر کړو، پسرلی غزني ته ولاړم، تر ټوله سودا راپوره کولو وروسته مې مور او خويندو ته په لاندې کلماتو ډاډگيرنه ورکړه:

-فقط تر راتلونکي منی صبر وکړئ چې زما دا يو اخيرنی کال پوهنتون هم خلاص شي، تر هغه پورې د هېڅ کيسه کې مه کېږئ، منی که ددې کفارو چلند په همدې شان و، هرو مرو مو غمه خورم داسې ځای ته مو بوځم چې...

خبره مې د همدې خوشبينۍ په نقطه کې گونگه پرې ښوده، نور مې څه ونه وېل، سبا مې بيک اوږه کې واچوه، د خدای پامانۍ په کولو سره، د پوهنتون په لور روان شوم، پوهنتون کې تر اوليه کارونو کولو دری څلور ورځې وروسته بيا ډاکتر ته ورغلم، داکټر مې په ليدو ډېر خوشحاله شو، که څه هم ډوډۍ مې خوړلې وه، اما ده، پرته له دې چې ما وپوښتي، روستورانت ته يې زنگ ووهلو، شيبه وروسته يوه هلک د سلاټ علاوه په پلاستيکي يک بار مصرف کاسه گکو کې يو خوراک ښه اوزبکي پلو راوړو، ما هم په بسم الله سره شروع پرې وکړه، خو موړ وم، تر نيمايي زياته مې ونشوی خوړلی، واپس مې دکاسه گکې سر پوښ پرې ورنسکور کړو، جگ شوم بهر مې د يوه کانتنر تر څنگ کېښوده تر څو سپايان يا پشکې يې وخوري، دواخانې ته په راگرځېدو مې له ترموز نه چای راواچولو، ددې تر څښکلو وروسته مې له ډاکتر نه د اطاق دکليو پوښتنه وکړه، دمېز روق يې کش کړو، کلی يې راته ونيولې، اطاق ته وختلم د بيک تر ايښودو وروسته، واپس دواخانه ته راښکته شوم، په کار مې پيل وکړو؛ ډاکتر نوي راوړې دواوې راته معرفي کړې، شيبه وروسته يې کړل:

-زه يوې جنازې ته ځم، ته کولی شې دواخانه وکړې؟ که خسته يې بيا ممتاز راغواړم! (ممتاز يې د زوی نوم و) ډاډ مې ورکړو:

-نه، نه زه شته یم ښېغمه ورځه!

ډاکټر مې روخصت کړو، خو په هر حال ترڅو ډېر وخت مو درضایعه نکړم، له فرعی خبرو، تېرېږم، مستقیماً راځم دې ته چې بلاخېره دا اوړی مې هم د تېر کال په شان نیمه ورځ پوهنتون کې نیمه ورځ د دواخانې په کولو سره تېر کړو، همدارنګه په څنګ کې مې یې یو کورس هم ورسره تقیبولو، دشپې له خوا به مې تر لسو، یولسو بجو د پوهنتون د ورځنیو درسونو سره پخوا کې دکورس درسونه زده کول، لیکچرونه به مې رسول، البته دیوې خبرې باید یادونه وکړم، فسبوک او یا نور انترنتي اپلیکشنونه مې ډېر نه کارول، ترڅو له درسونو پرې ونه وځم، هسې په هفته کې به مې که یو ځل ډېټا کلیک کړه په فسبوک یا کوم بل اپلیکشن کې به مې څو دقیقې تېرې کړې، په همدې اساس فکر کړم دمېزان اخېرې شپې ورځې وې، نه پوهېږم چې د څه په خاطر ملي روخصتي وه؟ د ماسښین له لمانځه وروسته مې کمیس په کوټ بند راځوړند کړو، هوا ګرمه وه، یوازې پرتوګ او زېر پېراني مې ځان کې و، بسترې ته مې څنګ ووهلو، ډېټا مې روشن کړه ګوګل کې مې په څه معلوماتو پسې سرچ وکړو؛ دمعلوماتو تر راپیدکېدو مخې ګړنګ شو، واټساف ته مې یو پیام راغلو؛ راومې سپړلو نوم یې نه و، واټساف نمبر ناشناخت و، لیکلي یې و:

-سلامونه او نیکې هیلې، الله ج دې وکړي اکبر جان اوسې اشتباه مې نه وي کړې؟

په ځواب کې مې ورته ولیکل:

-وعلیکوم سلام مننه؛

نه اشتباه دې نه ده کړه؛ هو اکبر یم؛ خو په ښښنې سره ته مې هم ونه پېژندې؟

-چېرته یې؟

-مزار کې یم، خو خپل اسم مبارک دې راته ونه ویلو؟

-کور ته دې څه وخت ځې؟

-نوم دې نه وایې؟

-په قهر شوې؟

-نه په قهر نه یم، خو اقلاً دومره باید سړی پوه شي چې د چاسره تماس کې یم؟

-صحیح ده، نوم درته وایم، ولې ستا دې په خپله ځوانۍ یا دهغه چا په سر قسم وي، چې تر ټولو ډېر درته ګران وي، که به مې بلاک کوې، واپساف مې دې د موبایل دشمارې له مخې ډېر په خوارۍ پیداکړو، صدف یم!

قسم را اچولو ته په کتو یې، که څه هم ځان مې دومره راته مهم نه و، خو مور مې او ترخنګ یې خویندې مې رابانددې ګرانې وي، بلاک مې نکړه، ولې د ځواب له ورکولو نه مې یې ډډه وکړه.

دڅو دقیقو په تېرېدو سره یې بل مسېج وکړو؛ خلاصه تر څو آنلاین وم، څلور و، که پنځه لوی لوی متن لرونکي مسېجونه یې نور هم وکړل، خو محتوا یې همغه پخوانیو دسیمکارت مسېجونو ته ورته په بېل بېل ډول اوزر، زاریو، قناعت آور او رضاء کونکو کلیماتو راځرخېده، که څه هم ټول مې ولوستل، چون په ځواب ورکولو مې یې بیا هم خوله پټه کړه، ګوګل ته راغلم د اړتیا معلومات مې ترې کاپي کړل، نور مې انترنیت آفالین کړو.

راځم د صدف تر پیام مخکنۍ خبرې ته مې، ترڅو هېر شوي مو نه وي، تکرار یې وایم څنګه مې چې مخکې وویل: دا اوړی مې هم د تېر کال په شان نیمه ورځ

پوهنتون کې نیمه ورځ د دواخانې په کولو سره تېر کړو، ان تر دې چې منی د امتحانو له ورکولو څخه څه وخت وروسته نتایج اعلان شول، د (۹۰) فیصده نمرو په تر لاسه کولو سره بریالی شوی وم، پس له وختونو مې ډېره د خوشحالۍ ورځ وه، کور ته مې زنګ ووهلو په مور او خویندو مې زېری وکړو، هغه هم ډېرې خوشحاله شوې، مور مې د خپل عادت سره سم له ډېرې خوشحالۍ په ژړاه شوه، زړه کې په ډېر افسوز سره راتېره شوه: کاشکې مرواګۍ هم وی، پوهنتون ته مې د راکامیابېدو په ورځ څومره خوشحاله وه، قسم ده اوس خو به یې له خوشحاله بېخي هوا کړې وه.

خو په هر حال د همصنفیانو او ملګرو سره مې وروستۍ خدای پامانۍ وکړې، دپوهنتون ټول چاپېریال خدای پامانۍ، خدای پامانۍ خنداوې او ژاړوې وې، تقریباً دولس نیمې بجې وې دواخانې ته راغلم په ډاکتر مې زېری وکړو، واقعاً ډاکتر هم ډېر خوشحاله شو کړل یې:

-زېری دې هرو مرو در کوم!

تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې بیا تر تیاره ماښامه دواخانه کې کار وکړو، ماښام مې ډاکتر ته کړل:

-ډاکتر صیب! زه سهار وختې پخیر ځم، شاید بیا دې ونه وینم، غواړم خدای ج پاماني همدا اوس درسره وکړم!

ډاکتر د ټوکې په انداز همغه د تېر کال خبره وکړه:

-څه کوې سړیه! مه ځه هاخوا جنګونه زیات دي سبا به مړ یې؟

په موسکاه مې ورته کړل:

-توکل په خدای!

بیا یې وویل:

-راشه بله وکړه!

-څه؟

-دا مـوږ تـه مخـامخ شـاهین عـالي تحصـیالتو موسسـه پـه عـالي کچـه، د ماسـترۍ زده کـړې ورکـوي، د بـین الملـل تایـدي هـم لـري، سـند یـې ټولـه دنیـا کـې د بـاور وړ دی، رائـیس یـې زمـا ملګری دی، لمړی خـو دې بېلـه فیسـه پـرې شـاملوم، ولـې بیـا هـم کـه کـم او زیـات څـه یـې غوښـتل، زه یې ورکوم!

-مننـه ډاکـتر صـیب، نـه اوس خـو نشـم کـولی، پسرلـی پخیـر کـه ژونـد و، تمـاس درسره نیسـم کـه ممکن و، راځم!

-ښا سمه ده، پسرلی هم کېدلی شي!

نـور د ډاکـتر سره غېـږ پـه غېـږ شـوم خـدای پامـاني مـو وکـړه تـرې راروان شـوم دوه درې قدمـه مـې لا نه و اخیستي چې له شاه نه یې غږ وکړو:

-آآآآآ ته صبر، صبر اوس دې نژدې زېری رانه هېر و!

مېز کـې یـې د پیسـو د دخـل روق راکـش کـړو، پیسـې یـې تـرې راټـلولې کـړې چـې شـمار یـې کـړې، دیرلس زره اوسوه (۱۳۷۰۰ ) افغانۍ شوې، لمړی یې لس زره ترې رابېلې کړې کړل یې:

-دا دې زېری؛ ښه خـو نـه پـرې کېـږي امـا یـو برابـر موبایـل بـه پـرې واخلـې، پسـې زیاتـه یـې کـړه: داسې یو ناڅاپه دې د تلو خبره وکړه، کني ما ویل چې زه به سم زېری درکوم!

مننه مې تـرې وکـړه، بيـا يـې پـه لاس کـې لـه پـاتې۳۷۰۰ پيسـو نـه دوه زره راتـه ونيـولې کـړل يـې: دا دې کرايه! که څه هـم هـر څـو مـې ورتـه ووېـل: پيسـې لـرم، جيـب تـه مـې لاس کـړو دری زره روپـۍ مې ورته را وايسـتلې، خـو ده يـې پـه جـدي انـداز د راکولـو ټينگـار وکـړو، ددې پيسـو تـرې اخيسـتلو وروسـته يـې لـه ورسره پـاتې (۱۷۰۰) پيسـو (۷۰۰) نـورې راتـه ونيـولې کـړل يـې: پـه دې بـه پـه لارو ډوډۍ خـورې، ددې پيسـو تـرې راخيسـتلو وروسـته يـې وروسـتی يـو زرگـونی راتـه ونيولـو زياتـه يـې کړه: په دې به د کور لپاره، له کابل نه لږ ترکاري مرکاري درسره واخلې!

پـه داسـې حـال کـې چـې ښـی لاس يـې زمـا لاس کـې و، د چـپ لاس پـه واسـطه يـې د اوږې لـه پاسه و ټپولم کړل يې:

ځه نور مې پـه خـدای ج سـپارلی يـې؛ همچنـان ځوابيـه مننـه مـې تـرې وکـړه اطـاق تـه راروان شـوم شـپه مـې اطـاق کـې وکـړه، سـهار وختـې پاځېـدم تـر اودس او لمـونځ کولـو وروسـته د سـه صـدچهار مـوټرو اډې تـه راغلـم يـو مـوټر چـې لـه اډې نـه راوتلـی و، د عمـومي سرک پـه څنـډه ولاړ و، کلنـډر يـې تکټونـه لاس کـې نيـولي و، نـارې يـې وهلـې: کابـل، کابـل دو نفـر کـم اسـت، چـې پـه مـا يـې سترگې ولگېدې:

-کابل میری؟ بيايې بچه کاکا حرکت است!

ورغلم موټر ته له ختلو سره سم کلنډر د ډرېور تر شاه چوکۍ ته اشاره وکړه په فارسي يې کړل:

-اينـی چـوکی پـيش روی هـم خـالي اسـت، امـا کرايـه شـان از پوشـت سر کـرده صـد افغـاني بـلا است!

همدلتـه کېناسـتم، تقريبـاً د لـس، دولـس دقيقـو پـه تېرېـدو سره سـوراري پـوره شـوه، د ډرېـور دوېلـو مطـابق پـه دسـته جمعـي ډول مـو د دعـا پـه کولـو سره حرکـت وکـړو، ټولـه ورځ پـه سـفر تېـره شـوه

ماښام کور ته را ورسېدم د مور او خویندو په روغ او جوړ لیدلو مې خوشحاله شوم، همداسې دوی زما په لیدو خوښ شول، د مجلس په جریان کې مې د مرواء پوښتنه وکړه، مور مې وېل:

-نه د بېچاره تر اوسه هېڅ احوال نه دی معلوم، بېګاه مې په خوب لیده چې مړه وي، حوېلۍ کې یې په برنډه چارپایي کې اېښې وي، زه ورغلمه کفن مې یې له مخ نه واړولو، موسکۍ شونډې، ورین تندی لکه ویده ماشوم چې ملایکې خندوي، سپوږمۍ غوندې ځلېده غونډه منډه پرته وه!

-توکل په خدای ج موري! په خوب کې مړی، ژوندی دی؛ الله ج ته څه دي؟ کېدی شي یوه ورځ یې جوړه روغه راپیداکړي، همداسې خوشحاله یې ووینې!

-وی‌ی‌ی‌ی کاشکې زویه! داسې مې یادېږي، نور یې ستونی را ډک شو، په ژړا شوه، خبرې ترې ولاړې په خپلو اوښکو وچولو شوه. ما مدینې ته مخ وراړو د څو محرم کورنیو خبرو کولو وروسته مې ورسره د کلیوالو دچلند پوښتنه ترې وکړه، راغبرګه یې کړه:

-همغه شان دي، موږ له کورنه بهر نه وځو او نه څوک راغلي!

د مدینې په وړاندې مې مایوسانه خاموشي اختیار کړه، غږ مې ونکړو؛ یوه لحظه وروسته فرېښتې غږ راوکړو:

-لالا حمام کې مې اوبه درته اېښې، یخېږي ورشه حمام دې وکړه!

ورجګ شوم حمام مې وکړو، جامې مې بدلې کړې، ماخستن له ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته کړل:

-زویه! تلفون کې مې نه درته وېل چې مسافر یې جگرخون کېږي، څو ورځې مخکې چې غزني کې هغه ستره چاودنه وشوه، بېدو زموږ د دوکانو مخکې شوې وه، درې واړه دوکانونه مو یې رنګ کړي و، کاکا دې ورغلو و، وېل یې:

بېخي یې د خاورو سره خاورې کړې و، د دوکانو په ځای پرته له کوټ کوټ خاورو نور هېڅ نه معلومېدل!

چې خدایي شي د مور په خبرو مې سخت خپه شوم، ځکه زموږ ټول عاید همدا دوکانونه و، میاشت په میاشت به مو یې کرایه اخستله، نیمه مې د کاکا او نیمه زموږ حق و، له اقتصادي اړخه مو ژوند ښه خوندور پرې روان و.

خو اوس شوي و، مور ته مې دتسلیت په پار ور وگرځوله:

-خیر مورې! مه خپه کېږه، فعالاً خو دومره څه لرو، چې ویې خورو وروسته هم الله ج مهربانه دی، دغه دي اوس خو زه هم فارغ شوم، پسرلی پخیر کوشش کوم چې یوه دنده راپیداکړم، یوه مړۍ (گوله) حلاله ډوډۍ لاس ته ترې راوړم!

-ښا خیر یوسې زویه! زړه مې دې راتکیه کړو، زړه شوم که خدایزده څه بلا؟ هغه پخوانی غټ زړه مې نشته، راهسې چې خبره شوې یم، شپه ورځ همدا اندیښنه کوم!

-نه، نه مورې! الله ج روزي رسان دی اوس به یې وخته له بلې خوا راته حواله کړې وي، اندیښنه مه کوه!

دې مجلس ته مو په همدې خبره د پای ټکی کېښود، د ویده کېدو لپاره مې خپل کټ ته ولاړم، تر څو چې خوب راتلو موبایل مې راوخیستلو ډیټا مې کلیک کړه، فسبوک افشن مې راوسپړلو ترڅو فسبوک عیارېدو، کړنگ، کړنگ واتساف ته پرله پسې د دوه لیکلو پیامونو سربېره تر لسو

زیـات صـفتي پیامونـه راغلـل، چـې کتـل مـې بیـا هـم صـدف وه، پـه دسـته جمعـي ډول د ټولـو مسېجونو هدف یې دهمغـه مخکنیـو مسـیجونو پـه مطلـب یـا هـم زمـا پـه قـانع کولـو را څرخېـدو؛ خـو یـو تـر بـل ډېـر د عـاطفي رنـګ ور زیـات والي، ژبـې فصـاحت او بلاغـت، ښـو ادبیـاتو کـارولو، لـه وجـې هـېڅ داسـې نـه ښـکارېدل چـې ګویـا دا ټـول مسـېجونه دې د یـوې خـبرې تکـرار وي، یـا یـو مقصد دې پکې نغښتی وي.

خو په هـر راز د مسـېجونو تـر لوسـتلو او اورېـدلو وروسـته مـې بیـا هـم پـه ځـواب ورکولـو یـې د تېـر په څېر خاشه واچولـه، لـه واتسـاف نـه راووتلـم د فسـبوک پـه صـفحه مـې یـو دوه کرتـه ښـکته، پورتـه ګوته کش کړه، نور خوب راغلو واپس مې ډېټا بنده کړه، ویده شوم.

د سهار په رارسېدو مې خپلـو کورنیـو چـارو تـه مـلا وتړلـه، لنـډه دا چـې دریـم ژمـی هـم د تېـرو ژمیـو په څېر ګونګ تېر شو، دکلیوالو وضـعیت همغـه شـان، حتـا تـر بـدبتر بـې خونـده و، ټـول ژمـي کـې نـه پوهېږم، چې دری که څلور ځله بهر ووتلم، هغه هم د زیاتې اړتیا له مخې.

بنـاءً د پسرلـي پـه راسـېدو چـې د ډاکـتر اشرف غنـي د واکمنـۍ لمـړۍ دوره وه، جنګونـو زور واخیسـتلو، اکـثره وخـت بـه مـو کلـی د طالبـانو او دولتـي ځواکونـو د جګـړې تـر مـنځ راتلـو مرمـۍ دخـزان دپـاڼو پـه شـان آورېـدلې، هوانونـه د کورنـو مـنځ کـې لګېـدل، ددې سربېـره د شـپې بـه امریکایـانو چـاپې وهلـې، دروازې یـې پـه بمونـو آلـوزولې خلـک یـې لـه کورونـو ایسـتل، وهـل ډبـول یـې، پـه چـا بـه یـې چـې دطالـب شـک شـو، لـه ځـان سره یـې وړل، بلاخېـره دخلکـو تـر زغـم او حوصـیله خـبره لـوړه شـوه، د چـا چـې وس کېـدو د پېړیـو پېړیـو، ژونـد کولـو لـه مېنـو، شنو بـاغونو، فصلونو، مالونو هـر څـه تېـر شـول کـرار کـرار یـوازې دسر سـاتنې پـه پـار دخپلـو خړیـو خړوکیـو سره امن ځایونو تـه دکـډوالو پـه حیـث روان شـول، اصـلاً امـن ځـای ټـول وطـن کـې نـه وو، خـو بیـا هـم ځینـې ځایونـه نظـر ځینـې نـور تـه ښـه و، پـه ټـول کـې ښـارونه څـه ښـه و، لـږ دسکن سـاه پکـې اخیسـتل کېـده، اګـر چـې ښـارونو کـې کـه جنـګ نـه وو، ولـې ډېـرې درنـې، درنـې چـاودنې پکـې

کېدلې، روزانه لسګونه انسانانو خپل ژوند په داسې شان له لاسه پکې ورکولو چې خپلې نصبې به يې، لا نه پېژندل، لاس به يې په يوه و؛ پښې په بله، حتا ډېری داسې شول چې کورنۍ ته يې يوه کيلو غوښه هم په لاس ورنغله، د بم د درذ سره ذره ذره شول، ولې بيا هم ښارونه نسبت کليو باندې ته ښه ګڼل کېدل.

په همدې اساس مونږ خو نو هسې هم له کلي او کليوالو نه زړه توري او په توره تبنته و، له دې زرينې بهانې نه په استفاده ټوله زندګي مو تر شاه کړه، څړي څړوکې مو رابار کړل کابل ته راغلو، کوټه سنګي کې مو د کلا واحد کوچه کې، وړاندې په يوه فرعي پس کوڅه کې د (۵۰۰۰) افغانۍ په مقابل کې يو کور په کرايه ونيولو، سر له سبا د يوې دندې پيداکولو په لټه کې شوم، هرې دولتي ادارې او شخصي شرکتونو ته مې سيويګانې ورسولې، امتحانونه مې

ورکړل، خو بدبختانه په نمونړو ادارو کې به د امتحان دنتايجو سربېره سيوي، ميوي هر څه ورک شول، لنډه دا چې مياشتې مې په دې منډو تررړو، تېرې کړې؛ کومې پيسې مو چې لرلې، څه د کور کرايې يوړې څه مو وخوړې، نور نو د بېخرڅۍ سر هم مخ شوو، تر لرې، لرې ساحو به پلی تلم راتلم، خو بيا هم کوم مصروفيت مې پيدانکړو، دوخت په تېردو د دندې له پيداکېدۀبلکل ناميده شوم؛ دنده پيداکول زما غوندې بې پيسو او بې واسطې افرادو له سوبه ډېر لونړ کار و؛ حتا نور ورپسې په ګرځېدو يې هم ځان بې عقل راته ښکارېدو، له دندې، مندې بېخي تېر شوم، هېڅ مې ځان باسوداه نه ګڼلو، وچ دشنو مزدوريو له طريقه ديوې مړۍ ډوډۍ پيداکېدو په لټه شوم، لمړي قدم کې چې کراچۍ مو تياره لرله ددې لپاره مې په نجار د (۸۰۰ ) افغانيو په بدل کې يو تخت جونړ کړو، له دې وروسته مارکېټ ته لاړم په (۲۵۰۰ ) افغانۍ مې دری منه اوړه (سير) واخيستله (۱۰۰۰ ) افغانۍ مې په تله، پاويو، چارکيو...... ورکړې، پس له نيمې ورځې مې په کار پيل وکړو، کوټسنګي کې مې هاخوا دې خوا ګرځوله، تر مازيګره مې د ( ۳۲۰ ) افغانيو وپلورله، چې حساب مې ورته وکړو سل، يوسل شل مزدوري

راته پکې پاتې کېدله، نور نو ماښام و، یو نیم متر فراشوټي تیکه مې واخیسته له پاسه مې پرې کش کړه، کراچۍ مې یو سرای ته ننه ایستله، تر سهاره یې په ساتلو شل روپۍ کرایه اخیستله، سرای لوی و، وړاندې تر یوه رپکي لاندې مې ودروله، شپه تېره شوله، سبا مو چې کتل سخت باران و، د کار کولو ورځ خو بلکل نه وه تولـه ورځ ښه په شرنگ واورېدل، په دې بل سبا هم همداسې خلاصه پوره څلور ورځې باران دوام وکړو، په پنځمه ورځ اسمان شین و، ښکلې تازه هوا وه، زه هم ډېر په طبعت د خپلې کراچۍ او مزدورۍ په لور ور روان شوم، کرچۍ ته چې ورسېدم، پرې خور پراشوټ یو قسم بمبوخ پورته ولاړ وو، لکه څه ژوندي شی؛ پشکه، مشکه چې ور ننوتلي وي، چهارچاپېر ترې تاو شوم کوم سوری یا د پشکې دورننوتلو لاره نه پکې ښکارېده، بلاخېر پرې اخته شوم ترې تاو تسمه مې خلاصه کړه، چې پراشوټ مې تر پورته کړو، بوووووو تک شین باغ ترې جوړ و.

په قدرت دې خدای ج په تول ددې څلورو ورځو کې په هر پلي اوږه کم او زیات یوه، یوه لوېشت شین بلگ (ډنډر) ولاړ و، چې بېخ ته به مې یې لاس ور وړو، اوږه چیشته پیشته شوی و، لکه څه شی درته وښیم؟ خو ورکه ویې، ډېر وران مثال یې ذهن ته راغلو، ممکن سر مو پرې خلاص سوی وي؟ بې ادبي کېږي، زه یې له وېلو تېرېږم، بلا یې دې په مثال شي، راځم خپلې خبرې ته، نور بلکل ددې نه وه، چې سړی یې وباسي خرڅه یې کړي، هغه خوا یو مازدا موټر ولاړ و، ورغلم ددې د شاه له تېر سره مې گراچۍ ورخالي کړه، سرای ډېر غټ و، ساتونکي ته نه ښکارېدم؛ مخته ډېرې نورې کراچۍ او موټر ولاړ و، لنډه یې دا چې اوږه په اوږه پسې ولاړه، په خالي کراچۍ مې واپس پراشوټ آوار کړو، را روان شوم، دروازه کې مې شل روپۍ ساتونکي ته کرایه ورکړه، له سرای نه راووتلم، د تور وینو ډک زړه دکور په لوري راروان شوم، کور ته د داخلېدو سره سم مې مور غږ راباندې وکړو:

-زویه! څنګه واپس راغلې؟ سهار خو دومره ورخطا وې، په نیمه شپه دې پراته غوښته چې کار ته ځم ناوخته کېږي!

مور ته مې هسې یوه بهانه وکړه، په اصلي کیسه مې له مور او خویندو هم شرمېدم، بل خوا مې ویل: زړه ښځه ده، زړه یې بدېږي، ددې سربېره چا ته کیسه ونکړي، شرم دی.

خلاصه څو ورځې بیا بېکاره شوم خو ددې بېکارۍ په لړ کې هم کور کې کرار نه وم غزېدلی، بلکې تږوله ورځ به بازار کې ګرځېدم ترڅو یو بل کار او کسب پیداکړم، خو له بدمرغه ډېر وخت ووتلو لا مې هم پیدانکړو، په همدې وختونو کې یوه ورځ مازیګر و، له ښاره راغلم ډېر ستړی هم وم، د کوټه سنګي تر هوایي پله راتېر شوم، دلته دایم ګڼه ګوڼه وي، هڅه مې کوله چې کلا واحد کوڅې ته ځان برابر کړم، په همدې ګڼه ګوڼه کې مې له چپ لوري چا دنوم په اخیستلو غږ وکړو، چې سترګې مې ور واړوې، یو سپینږیری کاکا یې د کراچۍ تر څنګ ولاړ دی لاس ښوروي، ورتاو شوم؛ دا هغه څوک و، چې څه وخت مخکې مې د کراچۍ لپاره دتخت جوړولو مشوره ورسره کړې وه، نجار یې راته ښودلی و، د ورسېدو سره سم مو ستړي مشې وکړه پسې پیوست کاکا پوښتنه وکړه:

-نه ښکارېږې، څنګه دې وکړل، هغه تخت دې جوړ کړو کنه، کوم کار او بار دې شروع نکړو؟

ومې خندل ورغبرګه مې کړه:

-رښتیا درته ووایم که دروغ!؟

-دروغ ولې وایې؟ رښتیا ووایه!

د اوږې کیسه مې ورته شروع کړه، دکیسې په اوږدو سرې ډېر وخندل، په عین حال کې یې سخت زړه هم بد شو، آخېر کې یې کړل:

-راشه یو بل کار درونښیم، مخکې ما کولو ښه مزدوري پکې پاتې کېدله، خو لږ سرگرداني یې زیاته وه، زه سپینږیری یم، رسیده گي مې پسې ونشوی کولی، بېخي یې ستړی کړم، ته یې ښه کولی شې!

-څه کار!؟

-د ښار مراد خانیو ساحې په قصاب کوڅه کې د پسونو سرونه، او پښې (کله پاچه) پاکوي بیا یې دعمده فروشۍ په حساب خرڅوي، دانه په اویا، اتیا، افغانۍ درته لوېږي، د ورځې یو لس، پنځلس راوړه، دلته په دوه سوه، یوسلو اتیا، یونیم سل افغانۍ ښه صحیح وځي، ما ډېر وخت دا کار کړی، ښه مزدوري پکې پاتې کېږي، خو افسوز چې زه سپینږیری نه وی!

-کوم یې ولا دا کار مې خوښ شو، هر ځای یې چې وینم خلک ترې ورتاو وي، ښه خرڅېږي ته یې لږ سم آدرس راکړه!

آدرس یې راکړو پسې زیاته یې کړه: له مازیگره، مازیگره یې راوړه، گڼه گوڼه ده، لار بند وي، که سهار پسې لاړ شې تر دولسو بجو نشې رارسېدلی، د کار وخت درنه تېرېږي!

-سمه ده، نور ستړی وم، له کاکا مې خدای پاماني واخیستله، ترې روان شوم.

مشوره مې یې واقعاً خوښه شوه، یو دوې چاړې، یوه ستره مجمه او همداسې څه نور وسایل ورته پکارېدل، اټکلً یو دری، څلور زره روپۍ پرې لگېدلې، چې کور ته ولاړم، له مور نه مې پوښتنه وکړه ( ۱۸۰۰ ) افغانۍ ورسره وې ( ۸۰۰ ) مې ور پرېښوې ( ۱۰۰۰ ) مې ترې واخیستلې دری زره ( ۳۰۰۰ )

روپۍ مې سبا ډېر په سختۍ زر لـه يـو نـه، زر لـه بـل او زر لـه بـل نـه قـرص کـړې، خلاصـه وروسـته لـه دوه ورځـو مـې يـو پنځـه زره روپـۍ ورتـه برابـرې کـړې، پـه دريـم سـبا پسـې روان شـم، قصـاب کوځه مې پيداکړه، يو ځـای تـه ورغلـم چـې همـدا د پسـونو سرونـه پکـې پاکېـدل (توربېـدل) دلتـه يـې لـه ( ۱۵ ) پنځلسـونه کـم نـه خرڅـول او ځـومره بـه دې چـې زيـات اخېسـتل، ارزانـه يـې حسـابول، حسـاب مـې ورتـه وکـړو، يـو سر د څلـورو پښـو سره پـه ( ۹۰ ) افغـانۍ تمامېـدو، دوکانـدار تـه مـې کړل:

-زما لمړۍ ځل دی چـې دې کـار تـه مـې مـلا تړلـې، نـن يـو پنځـه دانـې راکـړه، لـه يـوې خـوا ورسره نابلده يم، بل خوا تر څـو کوټـه سـنګي تـه رسـېږم، کـار شروع کـوم، درې بجـې کېـږي، دشـپې خـو نـه خرڅېږي!

دوکاندر راغبرګه کړه:

-که تر پنځه لسو، يو هم کم اخلې تر ( ۱۵۰ ) يې کم نه حسابوم!

چونې چونې، ايلـه مـې ( ۱۱۰ ) افغـانيو تـه پـرې راوسـتل، نـور مـې نـو پنځـه دانـې تـرې واخيسـتل، په پلاستکي بوجۍ (ګونۍ) کـې يـې راتـه واچـول، راپـه شـاه مـې کـړل، کـه څـه هـم اول خـو مـې زړه وه، چـې تـر سـينما پـامېره د کوټـه سـنګي تـر مـلي بسـو يـې پـه شـاه راوړم، تـر کوټـه سـنګيه بـه مـې د ځـان سره پنځـه روپـۍ کرايـه پـرې ولګېـږي، خـو نشـوه ډېـر درانـه و، د پلخشـتي مسـجد سره مـې تصـميم بـدل شـو، لـه همغـه لنـډ چـوک نـه د کوټسـنګي پـه واړه مـوټر يـوه سراچـه کـې راوخـتلم، سرونه مـې ډالـه کـې ورواچـول، سـواري پـوره شـوه حرکـت مـو وکـړو، پـاو بانـدې دولـس بجـې وې، کوټه سـنګي تـه ورسـېدم، تـر څـو مـې کراچـۍ مراچـۍ، وسـايل برابـره ول، دوې بجـې شـوې، پـه دوه بجو مې د امنيتـي پسـتې چـپ لاس تـه پـه دې ګټـه ګوټـه کـې د سرک پـه څنـډه کرچـۍ ودرولـه، لکـه څنګه چـې هـر کـار پـه لومړيـو کـې سـتونزې لـري، همداسـې زمـا هـم د دکانـدارانو او نـورو کراچـۍ

والو سره د ځای هغه او دغه په سر لمړی لړ، لړ لانجې رامنځ ته شوې، کله به مې د دوئ سره دعوې وهلې، کله به مې دمشتریانو سره چونې وهلې، کار مې شروع کړو؛ پنځلس، شل دقیقې به لا نه وې وتلې چې یوه پاخه سن واله ښځه راغله کړل یې:

-دا په څو دي؟

لمړی مې په دوه نیم سوه ورته وویل، بلاخېره په پوره دوه سو جوړ شو، پیسې یې راکړې چې پلاستیک کې مې ورته اچولو، زیاته یې کړه:

-زامې یې ترې وباسه داسې یې نه اخلم!

شروع مې پرې وکړه، وښکالو کې مې یې چاړه وربنده کړه پرې غوخ مې کړل، اما په زامو مې یې چې هر څو زوروته ووهل ومې نشوی ایستلی لا مې هم زورنه پرې وهل، عین حال کې وېرېدم هم چې ښځه روانه نشي- همداسې یې پرې نړدي، خو خیر دي یوسي چې پوه شوه وس مې نه پرې رسېږي کړل یې:

-لکه چې کار دې نوی شروع کړی؟ دا چل غواړي په بدماشۍ نه وځي، ځه خیر پرېږده یې، زه به یې کور کې پرې وباسم!

د خاله جانې خبره ملهم غوندې راوګېده.

-هو، ولا نن مې اوله ورځ ده، نور یې تر زامو ایستلو تېر شوم، زر زر مې پلاستیک کې ورته واچولو، خاله مې روخصت کړه، څو دقیقې وروسته یو بل بایسکېل واله را وګرځېدو، د دوه سوه ( ۲۰۰ ) افغانیو په بدل کې مې یو دانه په دې خرڅ کړو، ترڅو روانېدو، یو بل پخته ساله غټې ګېډې واله چاغ سړي راتاو شو، په کندهارۍ لهجه یې کړل:

-یه ځوانه! په څو یې ورکوې؟

خبرې يې سمه راته ښکاره نشوه، توند مې وروکتل کړل مې:

-نوم يې ياده وه، څه شی؟!

-بارا نيغېږې څله؟ سرونو ته په لاس نيولو سره يې کړل، دا شی په څو ورکوې؟

سړی بيا هم سم سړی تر نظره رانغلو، غوښتل مې چې هسې يې مخ ورک شي، ورغبګه مې کړه:

-دانه په دری سوه!

پرته له چونه وهلو، يوه ته په ګوته نيولو سره يې کړل:

-يه هغه پلاستيک کې راته خطا کړه!

دری سوه روپۍ مې ترې واخيستې، د پسه سر مې په لاس ورکړو، يو قدم چې ولاړو بيا يې مخ راوړولو: څوانه هر وخت همدلته درېږي!

ځان مې پرې پوه نکړو، هېڅ مې ونه ويل، نور ده هم غږ ونکړو، روان شو.

لنډه يې دا چې د کم وخت په تېرېدو سره مې يو بل هم خرڅ کړو، پاتې شو يو دانه، دا هم په ( ۱۸۰ ) او ( ۱۹۰ ) څو کسانو رانه وغوښتلو، خو دا چې يو پاتې و، ډاډه وم خرڅېږي، تر ( ۲۰۰ )مې چا ته نه کمولو، اما خبره زما د فکر برعکس شوه، کرار، کرار بازار سوړ شو، د لمر وړانګې د آسمان لمنو ته شوې، نور نو زما سره هم چا بيه نکړو، که څه هم په مخکنيو مشتريانو د نه خرڅولو له وجې پښېمانه وم؛ خو بيا هم د مور مې ورسره جوړه وه، دا مې دهغه لپاره په پلاستيک کې وچولو، کراچۍ مې سرای ته ننه ايستله، د پوره خوشحالۍ سره دکور په لور روان شوم، له يوې خوا نن چې نابلده هم وم؛ پس له نيمې ورځې مې ( ۲۸۰ ) ) روپۍ مزدوري وکړه، يو سر پاتې دی په دې به د مور دعا واخلم، بل خوا له بېکارۍ خلاص شوم،

ډېر خوندور کار مې پيداکړو، دې نيمې ورځې ته په کتو، که سهار له سره شروع شي، اوه، اته سوه مزدوري ښه سمه جوړوي، زما د کور له خوراک او پوشاک رانيولې تر کرايه پورې رسيدګي کوي، نو طبعاً يوازې زه نه، بلکې چې هر څوک وی خوشحاله به و. په همدې زرينو خيالونو کې کور ته ورسېدم، تر دروازه دننه وتلو سره سم اشپزخانې ته ورګرځېدم، د پسه سر او پښې مې د داش په سر کېښودل، نور ولاړم دمور سره تر ليدو، وروسته مې فرېښتې ته غږ وکړو:

-سخت ستړی او وږی يم، ډوډۍ موډۍ څه شی شته؟

-هو لالا شته راوړم يې!

فرېښتې ډوډۍ راوړه، زر زر مې څو غټې غټې ګولې ترې پورته کړې؛ يو ګلاس چای مې هم پسې وڅکلو، جګ شوم په منډه منډه مې لمونځ وکړو، نور مستقيماً بسترې ته ولاړم ويده شوم، فکر کړم د ستړيا تاثير و، چې مور مې غږ وکړو لکه پنځه دقيقې چې وتلې وي، ولې چې سترګې مې رالوځې کړې سهار و، راپورته شوم اودس او لمونځ مې وکړل، پس له لمانځه وختلم بام ته د تلوېزون آنتن خراب و، دا مې جوړ کړو، لنډه يې دا چې تر دوه، دريو بجو مې کور کې په هغه او دغه ځان غلت کړو؛ په دريو بجو بيا مخ دښار په خوا د پسونو سر او پښو پسې روان شوم، ښار ته د رسېدو په لمړي قدم کې منډه ته ولاړم يو وړکی تبر مې واخيستلو، نور همدسې د پلخشتي په پله ور ووتلم، د مراد خانيو، قصاب کوڅې ته مې ځان سيخ کړو، پروني مشتري ته مې ورغلم، دا ځل مې پنځلس سرونه ترې واخيستل، دوه ورته پاتې شول، نور دده سره هم نه و، کړل يې:

-دا دوه نو څه کړم؟ دا هم واخله!

دا مې هم تـرې واخيسـتل، ټـول اولـس دانـې شـول، دهـر يـوه سره ځلـور، ځلـور پنـې هـم وې، پـه يوه بوجۍ ( ګـونۍ ) کـې نـه ځايـدل پـه دوو کـې يـې راتـه ځـاى پـه ځـاى کـړل، دا ځـل يـې د کوټـه سـنګي تـر اسـتادګاه پـه شـاه راوړل ناشـوني و، د سرک لـه سر مـې يـوه ټکسيـ راوګرځولـه، ډالـې تـه مـې يـې ورواچـول ماښـام د آذانـو کړنګـو پړونـګ و، چـې کوټـه سـنګي تـه راورسـېدو، سرونـه مـې د سراى مخکې، له ټيکسي ښکته کړل، چوکيدار ته مې کړل:

-دې ته ګوره!

زه لاړم کراچۍ مـې لـه سراى نـه راويسـتله، نـيم پراشـوټ مـې پـه کراچـۍ کـې تـر سرو لانـدې کـړو، پاتې نيم مې له پاسه پـرې راوړو، نـور مـې تسـمه ښـه کلکـه تـرې تـاو کـړه، کراچـۍ مـې روانـه کـړه، تـر ډېـرو مـوټرو کراچيـو مـې تېـره کـړه، وړانـدې د سراى پـه بـر سر کـې د يـوه غـټ مـوټر تـر څنـګ مې ور ودروله، زه د کـور پـه لـور تـرې راروان شـوم، تيـاره وه، کوڅـو کـې وېرېـدلم هـم، دمبـايلو غلـه، چرسيان، لنډغر ډېر و، يو دم بـه لـه يـوې خـوا دربانـدې راپورتـه شـول، چاقوګـان بـه يـې لاسـونو کـې و، ځـان خـو دې نشـوى پـرې وژلـى، مجبـور وې، چـې مبايـل کومـه پيسـه ميسـه دې جيـب کـې وى ورکـړې دې وى. خـو خوشـبختانه څـه مـې ونـه ليـدل، پخيـر کـور تـه ورسـېدم. بلاخېـره دا شـپه هـم تېـره شـوه، سـهار وختـې پاڅېـدم لـه لمانځـه مخکـې مـې پـه مـور د پراټـې پخولـو چيغـې ګـډې کـړې، مور مې په مدينه حکم وکړو، بيا مې ورته کړل:

-مدينه يې هسې نشي پخولى، ته يې پخه کړه، د تا د لاسه ښه مزه کوي!

-د تانه خو زه په سپين سره هـم خلاصـه نشـوم، سبا بـه دې ښـځه هـم وي تـه بـه پـه مـا پسـې چيغـې وهې !

په همدې سره پسـې جګـه شـوه، ترڅـو مـې اودس او لمـونځ کـول، لبـاس کـار مـې آغوسـتلو، د پراټـې بـوى هـم ولګېـدو، آشـپزخانې تـه ور روان شـوم، قريـب پخـه وه، يـوه دوې دقيقـې نـور هـم ورتـه تـم

شوم، څو ښه سمه پخه شوه، دا مې نوشیجان کړه، نور د کار په لور را روان شوم مور مې له شانه آواز راپسې وکړو:

-زویه! د ځان سره دې ډېر پام کوه، دشپې مې داسې ګډ وډ خوبونه لیدل، خدای ج دې خیر کړي!

-بېغه اوسه موري! هېڅ خبره نشته!

خلاصه یو شل، پنځه ویشت دقیقې وروسته کوټسنګي ته راورسېدم، سرای ته ننوتلم، سل ګونه موټر او کراچۍ پکې ولاړې وې، په قات او قوت کې وړاندې تېر شوم، د خپلې کراچۍ د درېدو ځای ته لا نه وم رسېدلی، تقریباً پنځه لس، شل متره را دېخوا دیوې بلې کراچۍ په ټایرو کې مې یو د پسه سر ولیدو، ددې یوې ډېرې غوښې یې ترې شکېدلې وې، بله خوا یې جوړه وه، په لیدلو سره مې یې د سر ویښته نیغ ودرېدل، کلمه مې درسته کړه، ورتېر شوم، څومره چې وړاندې ورتلم د کراچیو، موټرو ټایرونه په وینو او غوښو ککړ و، نیم او نیمکله سرونه؛ پښې پکې رغړېدل، کراچۍ لا نه ښکارېده تر وروستي کاشټر موټر چې راتا شوم، یوه غټه تار، تار په وینو او غوښو لېت، پېت لته پرته وه، چې سم ورته ځیر شوم ومې پېژنده، هغه په سرونو غوړولی پراشوټ مې و، په لیدو سره مې یې تر سترګو هفت رنګ سپرغي باد شول، نه پوهېږم دهغه صحنې وضعیت مې په کومو الفاظو درته انځور کړم؟ خو په هر صورت د کاشټر له دې بل کونج نه هم ور واوښتم، چې کتل مې ځای شته کراچۍ نشته، هاخوا دېخوا اوه، آته پښې او درې څلور کنډو کپر سرونه پراته دي، یو قسم ضعف مانند حالت راباندې راغلو ټول وجود مې سست پست شو، د یوې لحظې لپار مې د کاشټر په دې یوه ډېرې همداسې په ولاړو د مړوند له پاسه سر تکیه کړو، دصبر دعا ( انا الله وانا الیه راجعون) مې درې کرته ووېله؛ چې لږ مې په سترګو را رڼا شوه، سر مې راپورته کړو، کراچۍ پسې مې شا او خوا سترګې وغړولې، تر سترګو مې نشوه، راتاو شوم چپ لاس ته د زړې لارۍ موټر تر ګېډه لاندې مې سترګې ور

ونیولې، یو چاغ لکه خر غټ، خړ رنګی سپی ترې لاندې غځېدلی و، څو دپسونو پښې یې له مخې یو سر یې دلکۍ سره پراته و؛ زما په ورکتلو وغورېدو؛ زر ترې راشاته شوم، تر څنګ یې ولاړ تر دې بل زاړه موټر لاندې مې وروکتل، دوه درې دلته وېده و، سرونه او پښې ور چارپېر و، ددې نه هم راشاته شوم، دکراچۍ په لټه د ځمکې څرښندې مې پسې تعقیب کړه، مخکې راغلم، د موټرو له قات او قت نه راووتلم، چې کتل مې هاخوا دېوال ته څېرمه د کباړونو خوا کې، سر په تلاق چیته چمبوله په داسې حال پرته وه، تا به وېل له آسمانه دې راغورځولې، تر لاستیو مې ونیوله راسمه مې کړه، په پایو پورې یې لوېشت، لوېشت، تسمه زنګېده، ددېوال څنګ کې څو غټ غټ شنه بوټي ولاړ و، راومې شکول، د کراچۍ څنګونه، منګوه مې له وینو او پرې سرېښ د غوښو، له ټوټو لړ لړ پاک کړل، دکباړ له پاسه اخبارونه (کاغذونه) پراته و، یوه کبده مې ترې راوخیستل، په کراچۍ کې مې واچول، تر څو دروازه کې پیره دار پوه نشي-کني قسم ده یکه، یکه یې راباندې ټولوي.

خو په هر حال، د رارونېدو په پار مې تر لاستیو ونیوله، چې ټېله مې کړه، کغ کغ غړ ترې جګ شو، په ځای ددې چې ورغړي، ټایر یې په ځمکه ښوېدو، بیا مې راچپه کړه اوسپنې موسپنې مې یې لړ سره لغت کړې ټایر مې ترې خلاص کړو، د راجګولو سره سم مې بیا تر لاستیو ونیوله، را روانه

مې کړه، که څه هم ډېره په نه زړه راروانه وه، خو خیر بیا هم ښه شوه، هغه کغاری یې ورک شو، یو پنځه متر به راغلی وم، چې له شانه یوه سپي راپسې وغپل، سترګې مې ور تاو کړې، یو تور ډنګروکی یې تر مخ و غپل یې، درې څلور نور له اخېره پسې و، کراچۍ مې ودروله یوه تېږه مې ور وار کړه تر څو وګرځي، دتېږې ور وارېول نه وه، بلا مې ځان ته وګڼله، د هر موټر او کراچۍ له ګېډې درې څلور راووتل، یو غپ او غوپ شو، ټول سرای یې په شور واخیستلو، خو ښه و، ډارن و، ډېر نژدې نه راتلل، له لرې لرې یې غپل منډې رامنډې یې

وهلې، وېرېدم چې سرای وان راتېر نشي- په سپیانو مې ځان ناګومانه واچوو، کراچۍ مې بیا را روانه کړه، دروازې ته چې راوسېدم، چوکیدار په خپله سره پلاستکي چوکۍ ناست و، سر یې شاه طرف ته ځوړند کړی و، نصوار یې تف کول، کراچۍ مې دې خواته دیوې سراچې له پوزې سره د دروازه وان له سترګو پناه ودروله، زه ورتېر شوم، مخ یې راواړو، لا یې هم خوله کږ وږ کوله ترخې لاړې یې پکې راټولولې، شل روپۍ مې ورته ونیولې دا یې ور واخیستلې، ترې راتاو شوم، ده واپس ورمېږ شاه طرف ته کوږ کړو، خوله کې پاتې نصوار یې تف کول، له همدې موقع نه په استفاده مې کراچۍ بېغمه راویستله، ښه و، پوه نشو، له لانجې یې خدای ج پخیر خلاص کړم، نور مې نو د کلا واحد خامې کوڅې ته سیخه کړه، ګړزه ګړزه، ګړزه ګړزه، خلاصه کور ته ورسېدم، تر دروازه د ننه کېدو سره سم، لمړی مې چپ لاس ته د شپږخانې په دور پورې سرېښ د خښتو نغري سره کراچۍ کې بار اخبارونه خالي کړل، وروسته مې، کرچۍ د بلاخانې تر زینه لاندې ودروله، خپله راتېر شوم دبرنډې په اوله پایکه کې د قدم اېښودو سره سم، مې مور د دهلېز له وره راووتله، فکر کړم مخکې یې له کړکۍ لیدلی وم، ورخطا غږ یې وکړو:

-الاااا رنګ دې ولې داسې تک تور دی، جنګ دې کړی؟

-نه مور سترړی یم!

-ښا ځار زویه! سترړی خیر ودې وېرولمه، پسې زیاته یې کړه: څنګ بېرته زر راغلې؟

-رخصتي وه، مارکیټونه بند دي، کار نه وه، دهمدې خبرې په جریان کې له مور نه تېر شوم، دې دهلېز د وره تر څنګ مې بوټ ویستل، لمړی دهلېز ته د حمام په راوتلي وره ورننوتلم پښې مې پرېمنځلې واپس اطاق ته راغلم، خوشبختانه په غولي تیار د ترموز تر څنګ یو له چایو ډک ګیلاس اېښی و، چې مور مې دځان لپاره ډک کړی و، ګیلاس مې راپورته کړو، لمړی مې په

شونډو لمس کړو، تقریباً برابر و، سوزول یې نه کول، په سر مې واړو ټول مې په یوه ساه وڅکلو، لا مې هم تنده ماته نشوه، ګیلاس مې بیا ډک کړو د سړېدو په انتظار یې، دمور په ځای اېښې پوشتۍ ته مې ولي تکیه کړل، د غولي منځ ته راوغځېدم، دغځېدو سره سم مې په وجود یو قسم یخني راغله پوست مې ځیګ ځیګ شو؛ اول خو مې باک پرې رانه وړو، ولې دځو شیبو په تېرېدو سره لړزه هم ورسره مل شوه، بلاخېره ښه سمه لړزانده تبه مې شوه، په همدې لمړي قدم کې یې له دې وغوځولم، ترڅو جګ شم یوه کمپله، ممپله راوخلم، په خویندو پسې مې نارې وکړې، خو لکه څنګ چې دجګېدو توان مې له لاسه ورکړی و، همداسې کاپي اندازه غږ مې هم له خولې نه وتلو، وامې نشوی آورولی، صرف دومره مې وکړل چې په دې یوه اړخ راووښتلم واو (و) غونډې په خپل ځان راټول پرېوتم، د زګېرویو سره ګډ د خیاطۍ ماشین ته ورته کړفی مې د زامو لګېدو، ګومان کړم زګېروی مې یې آورېدلی و، مور مې ورخطا اتاق ته راننوتله، په وېرېدلي غږ یې کړل:

-ولې، څه درباندې شوي، اوو وړکیه!؟

-تبه مې ده، یخ مې کېږي، یوه ګمپله راباندې راوچوه!

-بازار کې به دې ناپاک څه خوړلي وي؟

-نه؛ نه همغه سهار مې چې پراټه خوړلی بیا مې هېڅ نه دي خوړلي!

کمپله یې راباندې راوچوله؛ بیا یې کړل:

ددې څنګ ګونډېیانو ته به غږ وکړم، که کوم نارینه یې کور وي؟ چې ډاکتر ته دې بوځي!

-نه، هغه پرېږده، ته الماری وګوره یوه ورځ مې مدینې ته دځان دردی ګولۍ راوړې وې، که پاتې وي، له همغو نه یوه راکړه، که ښه نشوم بیا به ګورو!

تر څو مې مور راونېدله مدينې برنډې ته له وروتلې خلاصې کړکۍ غږ وکړو:

-وی‌ی‌ی ولې؟

-تبه مې ده، ها ورځ مې چې ګولۍ درته راوړې وې له هغه نه کومه یوه پاتې ده کنه؟

-هو، شته، پسې منډه یې کړل، دسترګو په رپ کې یې ګولۍ راوړې، لړزه څه کوې، تا به وېل چې برق نیولی یم، اوس نر څوک دی چې د ګولیو خوړلو لپاره راسم شي، بلاخره د مور او مدینې په مرسته راپورته شوم ګولۍ مې خولې ته کړه، نیم ګلاس چای مې پسې وڅښلو، واپس پرېوتلم، په مدینه مې غږ وکړو:

-ښه مې پټ کړه، یو بل څه هم رابانديې راواچوه، بله کمپله یې هم راواخیسله، زما عادت نه دی هېڅ وخت کمپله کې سر نه پټوم، ساه مې پکې حصاربږي، دلته نو داسې یخ اخیستی وم، چې سر مې هم په کمپلو کې ننه ایستلو، مور مې دبالښت تر څنګ ناسته وه، شیبه په شیبه به مې یې تر کمپل لاندې لاس په تندي را اېښودو، که څه هم ډاډ مې ورکولو چې انشاءالله ښه کېږم عادي تبه ده، اوس به مې خوشې کړي، خو بیا هم مور ده، یو وخت و، چې

تر کمپله لاندې مې یې دسلګیو غږ واورېدو، کمپله مې هاخوا کړه، چې کتل مې، پلو یې سترګو ته نیولی اوښکې پاک کوي، غږ مې پرې وکړو:

-ولې ژاړې؟ څه سرطان خو نه یم، دا دي وجود مې کرار کرار را ګرم شو!

رانښتیا هم څه ښه شوی وم؛ خو څه مې ددې لپاره ځان بیدار ونیولو؛ راجګ شوم بالښت مې دېوال ته ودرولو، تکیه مې ورته وکړه، دچای مخکنی ډک کړی ګلاس مې راپورته کړو، مور مې کړل:

-صبر ګرم چای درته واچوم!

-همداسې صحيح دی!

-وږی نه يې، څه شی خورې؟

-څه شی مو پخ کړي؟

-سهار مـدينې وېـل: لوبيـا مـې خوشـته کـړې، لـه مـا سره شـل روپـۍ شـته، تـه کـه مسـتې، يـا هگـۍ څه شی خورې چې درته رايې وړم؟

که څه هم وږی وم، خو له يوې خـوا مـې مـور پـه فـارسي نـه پوهېـده مـوږ تـه لنـډ دوکـان د يـو هـزاره و؛ دا بلکل په پښتو نـه پوهېـدو مخکـې هـم څـو ځـل همداسـې تـرې راغلـې وه، هغـه شـی بـه دوکـان کې و، خو دوئ بـه نـه و سره پـوه شـوي، بـل خـوا دوکـان هـم دومـره لنـډ نـه و، څـه لاره وه؛ زړه مـې پرې ونشو، ورغبرگه مې کړه:

-صحيح ده مورې! که پخه وي همدا لوبيا راواخلئ!

فرينښته پسـې يـې غـږ وکـړو: لوبيـا يـې تـرې راوغوښـتله، فرينښـتې هـم پـه منـډه کـې راورسـوله، څـو غټې گولې مـې تـرې پورتـه کـړې، نيمايـي قـاب مـې نوشـيجان کـړه، ترڅـو مـې دا خوړلـه تبـه هـم پـه مکمـل ډول وشـکېده، پـه بـدن مـې خولـه راماتـه شـوه او تـر څنـگ يـې د گـولۍ ترکيـب کـې د مخـدره مـوادو د فيصـدۍ پـه سـبب مـې دکـاذبې خوشـحالۍ احسـاس هـم کولـو، خـو بيـا هـم د سرونو د رايادېدو، له کبله به مـې پـه زړه څړيکـه تېـره شـوه، لـه همـدې وجـې د پـام پـه بلـه کولـو، پـه پار مې موبايل را واخيستلو د يوه محلي سندر غاړي هغه سندره مې پلې کړه چې وايي:

د دنياگۍ ړنگه بازاره دا څه دې وکړل؟

له زندگۍ دې کړم بېزاره دا څه دې وکړل؟

خدايي چې شي، سندرې که له يوې خوا په زخم مالګې راته پوړول، بلخوا يې ډېر عميق زما د نن ورځې د زړه د درد ترجماني کوله، داسې ولګېده لکه ختمې، خو په هر صورت د سندرې له اورېدو وروسته مې ډيټا کليک کړه، فسبوک ته مې سر ورښکاره کړو، خو په عين حال کې کړنګو پړونګ شو، د واتساف سربېره مسېنجر ته هم څو مسېجونه راغلل، لمړی مې مسېنجري پيامونه وکتل، له بېلو بېلو کسانو دری مسېجونه راغلي و، يوه درودې شريف را استولی و، بل صرف سلام کړی و او همداسې دريم يو طنزي تصوير و، دا مې ځای په پرېښودل، واټساف ته راغلم، دلته هم لمړی مسيج اوردو ليکنه وه، ديوه ناشناخت نمبر نه را استول شوې وه، پسې ونه کړځېدم دا واټساف صفحه مې بنده کړه؛ تر دې لاندې د صدف په شماره هم د نويو مسېجونو شنه علامه ښکارېده؛ ګوته مې ورواچوه کليک مې کړه، بووووو شاوخوا ډېرش، څلوېښت متني او صفتي پيامونه يې را استولي و، ګوشکې مې ورته غوړو ته کړې له نورو تېر شوم، دا وروستي دوه، دری مې پلې کړل، دا ځل له نجلۍ نه هغه د ژبې فصاحت او بلاغت يا هم د ښکلو ادبياتو کارول تللي و، لکه په اور چې ناسته وي، په چيغو چيغو يې ژړل، ويل يې: د خدای په لحاظ، د قران په لحاظ او...

د پيامونو تر اورېدو وروسته، بيا مې يې هم په ځواب ورکولو پسې اوبه وځکلې، د تېرو ځلونو په څېر ځان مې پرې پوه نکړو.

له واټساف نه را ووتلم، په فسبوک صفحه مې څو دقيقې ښکته پورته ګوته کش کړه، دلته هم د ساعتېري خاص څه نه و، نور له دې هم راووتلم، ډيټا مې ووهله انټرنيت مې خاموش کړو.

لنډه دا چې پاتې ورځ او شپه هم تېره شول، سهار بيا د يو بل کار پيداکولو په نيت له کوره راووتلم که څه هم، دوهم ځل تبه رابانـدې رانغله، اما همغې يوې تبې دومره بې سيکه کړی وم،

د کـور تـر مـخ کوځـه مـو خامـه وه، مـنځ کـې يـې د کورنـو لـه تشـنابو راوتلـې اوبـه ډنـډ وې صرف دواړو څنګونـو کـې يـې د دېـوال خـواو تـه نـرۍ، نـرۍ لاره وه، خلـک بـه پـرې تېرېـدل، زه هـم پـه راسـته لاس همـدې نـرۍ لار بانـدې روان وم، سـتونی مـې وسـو، تـوخی راغلـو، د تـوخي سره ځـان رانه بې واکه شـو، انـډې، پـه انـډې شـوم، خـو ښـه و، نـور مـې ځـان راتکيـه کـړو، ونـه لوېـدم، صرف دا يوه پښه مې لـه نـرۍ لارې هـاخوا پـه مـردارو ابـو او خټـو کـې ننوتلـه، بـوټ مـې پـه چيکـړو ليـت پـت شـو، هغـه بلـې خواتـه دوې مکتبـۍ نجينـې روانـې وې، وخنـدل، چـې ور ومـې کتـل زر يـې سـترګې واړوې، تېـرې شـوې، د دېـوال چـاق کـې مـې پـه کاغـذ سـترګې ولګېـدې، راومـې خيسـتلو بـوټ مـې لـږ لـږ پـرې پـاک کـړو، واپـس روان شـوم، پـه عـين حـال کـې لا هـم ښـه شـديد تـوخی راتللو، خو ځان مې نشوی تکيـه کـولی، خټـو تـه لوېـدم، لـه وېـرې مـې پـه سـتوني کـې حصـار کـړی و، لـه ډېـر فشـاره مـې نفـس پـاک بنـد و، يـوه انـدازه چـې راغلـم، د بـرق وسـپنيزه ډبلـه پايـه ولاړه وه غبـرې مـې تـرې تـاو کـړې، ترخـو ونـه لـوېږم، ښـه د زړه د خلاصـه وټوخېـدم، دمـه مـې جـوړه شـوه، نفـس وچلېـدو بيـا مـې حرکـت وکـړو، ان تـر دې چـې کوټسـنګي تـه راووتلـم، لنـډه يـې دا لـه دې وروسته مـې چـې کـوم کارونـه وکـړل، کـه همداسـې پـه جوزيـاتو يـې درتـه بيـان کـړم، نـو داسـې يـې وګڼـۍ، چـې د کيسـې يـوازې دا برخـه بـه تـر پنځـه سـوه صـفحو واړوي، لـه همـدې کبلـه نـه غـواړم خسته مـو کـړم، صرف يـو څـو تـه يـې پـه لنـډو کـې اشـاره کـوم نـور مسـتقيماً ځـم د کيسـې وروسـتۍ يعنـي هغـې برخـې تـه چـې ايـا مـرواء څـه شـوه؟ همدارنګـه د صـدف هڅـو کالونـه، کالونـه اوزر، زاريـو نتيجـه ورکـړه کنـه؟ دا دوه پوښـتنې پـه ډېـر شـفاف ډول ځوابـوي، البتـه د ډېـرو نـورو نـادرو شاهدان به هـم اوسـئ، تاسـو راځـئ انـډيوالي مـې وکـړئ. خـو د اوس لپـاره د لنـډې شـيبې پـه مخـه واپـس ورګـرځم، د همـدې برخـې پـاتې ټکـو تـه، هغـه دا چـې کـه څـه هـم د سرونـو لـه کـار او بـار وروسـته، ډېـر چسـپ پسـې ګرځېـدم، ممتـا بيـا هـم تـر ډېـره وختـه بـې کـاره شـوم، تـر دې چـې اقتصـادي وضـعيت مـو داسـې حـال تـه راغلـو، د کـور کرايـې خـو پـه ځـای پرېـږده چـې رابانـدې واوښـتې، ډوډۍ مـو هـم نـه لرلـه، زه، مدينـه او مـور مـو څـه ښـه و، پـه وچـو توتـو، اب ګينـه اوګـره،

هغـه او دغـه چـل مـو ځـان غولولـو، خـو فرېښـتې بېخـي دلـوړې زور نـه لرلـو وجـود يـې ضـعيفه و، اکـثره وخـت بـه بوخـه راواوښـته ضـعف بـه يـې وکـړو، د وخـت پـه تېرېـدو مـې مـور د فرېښـتې دا حالـت ونشـوى زغملـى، سـهار وختـي يـا مـازيگر بـه لـه کـوره بهـر ووتلـه، يـو سـاعت، نـيم سـاعت وروسـته بـه يـې درى څلـور ډوډۍ خلتـه کـې رااچـولې وې پـه دروازه بـه راننوتلـه، ښـه پوهېـدم چـې د مسجد مخکې کيني سـوال کـوي، مگـر پوښـتنه مـې نـه تـرې کولـه، ترڅـو ددې لـه خـولې خـو وانـه ورم، طبعاً ددااسې صحنې پـه ليـدو يـوازې زه نـه بلکـې زمـا پـه ځـاى کـه بـل هـر ځـوان وى، پـه هـېڅ به نـه و بنـد شـوى، همـدا مجبويتونـه سـبب شـول، سره ددې چـې ډېـر وړکـى، عـاطفي زړه مـې لرلـو، مگـر هغـه چـې وايـي: مجبـور تـه مـه وايـه چـې غښـتليه! رښـتيا هـم همـدا و چـې زه يـې هـم د ډېـرو غټ زړو، بې رحمـه، انسـانيت نـه تښـيو، د محشرـ د ورځـې لـه سـوال او ځـوب نـه منکـر افـرادو لـه جملـې وگرځـولم، نـور کـار خـو هسـې نـه و، کنـې دې حـال تـه بـه ولـې راتلـو؟ چوکونـه (پلکـې) لـه کارگرانو ډک و، يو ته هم کار نه پيداکېدو.

بله چاره نـه وه، لمـړى مـې پـه پوښـتنه؛ پوښـتنه ځـان تـر رئـيس ښـامار پـورې ورسـو، رئـيس ښـامار د چمـن حصـور پـه سـاحه کـې هغـه کـس و، چـې لـه خيرخـانې رانيـولې تـر دارالمـان او کمپنـۍ نـه تـر خرخي پلـه يعنـي د خپلـو سـلگونه کارمنـدانو پـه مـټ يـې د ښـار د هـرې برخـې معتـادانو تـه مخـدره توکي رسول، مـا تـه يـې هـم پـه کارمنـدانو کـې د نيولـو سره سـم لمـړى د هغـه وخـت د لوچکـانو بـوټ او لبـاس راپـه تـن کـړل، چلتـار مـې ووهلـو، سـپين ډبـل ځنځـيري لاس بنـد يـې لاس کـې راواچولو، نور مې د درى سـوه افغـانيو ورځنـۍ مـزدورۍ پـه مقابـل کـې پـه کـار پيـل وکـړو، البتـه لـه يـادولو دې پـاتې نـه وي ددې درى سـوه پيسـو اعـلاه يـو، يـو گـرام پـوډر بـه يـې هـم هـر سـهار ټولـو کارمند ته ورکولو، څـوک چـې پـرې روږدي و، خپلـه بـه يـې څکـول، زمـا پـه شـمول د گوتـو پـه شـمار ډېر کـم هلکـان نـه و پـرې روږدي، مـوږ بـه بيـا پـه نـورو پلـورل، سـل افغـانۍ ددې هـم کېـدې، ټـول ټـال څلـور سـوه افغـانۍ تـرې جوړېـدې، اگـر چـې دې څلـور سـو روپيـو مـو هـم تـر ټولـو سـتونزو

رسیدګي نشوی کولی، خو ښې وې ورځنۍ ډوډۍ او اولیه اړتیاوې مو پرې پوره کېدلې، اما دکور کرایه لا هم راباندې آوښته، په داسې حال کې چې غوښتله به یې هم، یوه او بله بهانه به مو ورته کوله.

خو په هر حال د ښامار سره مې څه وخت کار وکړو، د ښار په سطحه چې څه لوچک پوچک خدای ج وهلی مخلوق و، دلته راټول و، کار یې ورسره کولو د ټولو سره مې وپېژندل، تر څه وخت کار کولو وروسته، د کوم نامعلوم دلیل له مخې د موقعت وخت لپاره ښامار خپل کار ودرولو، زما سربېره ټول کارمندان یې بېکاره شول، له بې پیسه ګۍ سره خو نه کېده، لکه ما به چې د ورځې کار ونکړو، بېګا ته به مو ډوډۍ نه وه، په دې نورو هلکانو کې هم ځینو یې زما په شان ستونزې لرلې، ځینې بیا معتادان و، چې مخدره مواد به ورونه رسېدل اور یې اخیستلو، مجبور و، چې په هر قېمت او له هره طریقه وی، د ځان غم یې خوړلی وی، همدا و، ترځو چې بیا د ښامار کار شروع کېدو، یو زه شوم، یو بل هلک چې د شکر درې و، ټیټ قد یې لرلو، خلکو به پخچک ورته ویل، بل د پغمان و، قاوش نمیدو، دری واړه شریکان شو، شهرنو کې مو یوه قصابي په کرایه ونیوله، پخچک مخکې دا کار کړی و، ډېر ښه یې سر پرې خلاصېدو، مازیګر به مو یو پسه حلال کړو، نور به مو د شپې لخوا پټ یو حتا اکثره وخت دوه دا د ښار له کوڅه ډب سپیانو نه هم ورسره حلال کړل، د قاوش دوی کور په دېوان بیګي کې وړاندې د سیند په غاړه و، دروازې ته څېرمه یو ډېر ښه اوږد دالان یې لرلو سپیان مو همدې دلان کې حلالول، سره ددې چې د قاوش زړې مور او خور به هم لیدو، خو څه یې ویلی نشوی له قاوش نه وېرېدې، زر، زر به مو چاړې پرې تېرې کړې، پوست سره د سر او پښو به مو یې د سیند غاړې کثافاتو ته وروغوځول، غوښه به مو یې ټوټې ټوټې کړه، ګونیو کې به مو واچوله، سهار به مو قصابۍ ته راسره راوړه د پسه د غوښو سره به مو ګډه چنګکو کې راځوړنده کړه، د پسه سر او پښې به مو د میز په سر کېښودې، ترڅو خلک یې ووینې چې ګویا د پسه غوښې

دي، دلته د خارجي شرکتونو، موسساتو او رياستونو دفترونه زيات و، ددې يوه پسه دوو، سپيو غوښه هره ورځ ښه سمه وتله، د ښار نور عام خلک ډېر کم راتلل، البته له يادولو دې پاتې نه وي، نوم يې نه اخلم، زموږ يو شناخته قاضي دی، دا ډېر مغروره سړی و، زما ان له پخوانه ډېر بد ايشېدو، يوه ورځ يې د قصابۍ مخکې خپل دوه هزار (۲۰۰۰) د هغه وخت لوکس موټر ودرولو شيشه يې ښکته کړه، کړل يې: - گوشت گوسفند است؟

ما هغه د جراحۍ د ډاکترانو خولۍ په سر کش کړې و، ماسک مې اچولی و، په لاسو مې هم دستکش و، ويې نه پېژندم ورغبرگه مې کړه:

-بلې آآ جان! گوشت گوسفندې وطني است!

په دې ورځ نو موږ يو ډېر غټ، چاغ کوټه سپی حلال کړی و، پخچک ان د ننگرهار په اړې کې پيداکړی و، تر پسه نه يې هم ښې توري او سپينې غوښې وې، يوه نيمه کيلو مې ترې وروتلله، سبا مې يې په کوټسنگي کې زوی وليدو، دا يې تر پلار نه ډېر مغروره و، سترې مشي-مې ورسره وکړه، د خولې يې يو مردار سوړ بوی لگېدو، خو په هر حال داسې يو نيم عجل نيولی به بل هم راسيخ شو، کنې نور موږ د همدې دفترونو سره قراردادي و، کار مو هم ورځ تر بلې ښه کېدو، اخير مو بېخي رسيدگي نشوی پسې کولی، همدا و، چې همغه د ښامار د دورې له ملگرو مو يو، دوه نور هم راسره شريک کړل، خو دا نوي ملگري مو ښه نشول، نور ملگري يې خبر کړي و، اخير هغه د ښامار سره يې چې کار کولو سلگونه ملگري ټول خبر شول، بلاخيره امنيتی کسانو چاپه رابانددې ووهله، دوه دا نوي ملگري، يو قاوش، په گوتو ورغلو، زه او پخچک ښه و، ترې بچ شو، چاراهي کمبر کې وم، يو خړ سپی مې نيولی و، که څه هم يوه متعاد ته مو پيسې ورکولې سپيان به هغو راته نيول، تر دالانه يې رارسول، خو بيا هم کله ناکله به کوم غټ اباد سپی چې رابانددې پيښ شو، يو نيم به موږ هم راوستلو، اگر چې ما نشوی نيولی يوازې پخچک او قاوش به راوستل، په دې ورځ، د لمړي څل لپاره ما ته هم

تصادفي یو خر غټ سپی په ګوتو راغلی و، چې پخچک زنګ راته ووهلو، کړل یې: ځان وباسه، په قصابۍ یې چاپه وهلې قاوش دوی یې نیولي، په دې سره مې سپی واپس خوشې کړو، ما به چې ددې هلکانو سره تماس پرې نیولو یو ساده مبایل و، اول قدم کې مې زر زر سیمکارتونه ترې ویستل، بیا مې سیمکارتونه او مبایل ټول په یوه پلاستیکي خلته کې تاو کړل، د جدول خنګ ته یوه پلنه تیږه پرته وه، تر دې مې لاندې کړل، ترڅو امنیتي کسان مې پرې تقیب نکړي، یوه هوښیاري مې بله هم کړې وه، هغه کور چې موږ پکې اوسېدو یوه ملګري ته مې هم نه و ښودلی، همدا و چې بېغمه راغلم خپل کور کې مې واړول، څه وخت چې ووتلو، یو خوا دا د قصابۍ کیسه سره شوه، بلخوا څه مې چې قصابۍ کې ګټلې وې، هغه خلاصې شوې، مجبور وم، ترڅو بیا یو کار وکړم، همدا و، چې دا ځل د شېرک او پلنګ سره ملګری شوم، د یوه صراف شاوخوا لس کلنه لور وه، خصوصي مکتب کې یې ورکړې وه، موږ غوښتل چې اختطاف یې کړو، خو دا ملګري مې ډېر بې عقل و، مخکې له دې چې نجلۍ پورته کړو، فکر کړم صراف څه شک پرې کړی و، د شپې یې له هغه ساحه کډه وکړه، نور ما هم د شېرک او پلنګ انډیوالي پرېښوده، همغه د ښامار سره د مخدره موادو د پېر، پلور د وخت له دریو نورو ملګرو سره یو ځای شوم، له دې مخکې دوی ښار کې د کڅه بورۍ کار او بار کولو، د سرای شاه زاده یا بانګونو مخکې به ولاړ و، چا به چې زیاتې پیسې ویستلې، له همدې ځای نه به یې تعقیب کړل، هر چېرته به یې چې موقع پیداکړه، په زور کېدلو، که په چل، یا هم مسموم به یې کړلو خلاصه هغه پیسې به یې ترې واخیستلې، خو فعلاً دوی هم دا کار پرېښی و، زما په ورسره یو ځای کېدو مو یوه نوې څلور کسیزه ډله جوړه کړه، له دې وروسته به مو چې ښار کې کوم نوی کرولا یا سراچه موټر ولیدو، دربس به مو کړو، چېرته به چې ګوښه ځای ته ورسېدو په ډربور به مو چاقوګان او تفانچه راویستل، که مقامت به یې وکړو ویشتلو مو، کني پرته له وهلو ډبولو صرف کلۍ به مو ترې اخیستې موټر مو ترې بولو، دکمپنۍ د بازار شاه ته د درېګراشن سیمه کې زموږ ددې یوه ملګري د زړې حاویلۍ په تکاوه کې به مو ټوټه،

ټوټه کړو، بیا به مو پـرزه، پـرزه پـه مسـتریانو پلورلـو، یـوه ورځ مـو دهمزنـګ کـې یـوه نـوې سره کـرولا قرغې ته دربس کړه، یـو بـبر سری شـین سـترګی هلـک یـې جلـب تـه ناسـت و، لـه چهـارهي کمـبر نـه تېـر شـو، وړانـدې د قرغـې امنیتـي قرارګا ته نارسـیده، متـین د شـاه لـه سـیټ نـه پـه سر تفانچـه ورکېښـوده، د ډرېـور سره د مخـې سـیټ کـې ناسـت مـردا چـې پـه شـیر شـار مشـور و، چـاقو پـرې راویستلو، موټر یې د سرک څنډې ته پرې ودرولو، متین غږ پرې وکړو:

-که غواړې چې ماغزه دې درباندې باد نکړم فقط پټه خوله له موټر نه ښکته شه!

ډرېور شنې شنې ډکې سترګې ور واړولې کړل یې:

-خوښـه دې مـاغزه مـې بـادوې کـه یـې پرېـږدې، کـور کـې مـې وړکـي بچیـان دي، بـوډۍ مـور مـې ده، چې موټر تاسو ته درکړم، زه هغوئ ته ډوډۍ له کومه کړم؟

ددې خـبرې پـه کولـو سره شـېر شـار لـه څنګـه پـه چـاقو ووهلـو، د چـاقو تیـغ یـې تـر اخیـره پکـې ننستلو؛ ډرېور دچیغې پـه کولـو سره شـیر شـار تـه مـخ ور واړولـو، متـین لـه شـانه ډز پـرې وکـړو، پـه سر یـې وویشـتلو، هلـک چـوکۍ کـې را ړنـګ شـو، رازق دېوانـه لاس ورتېـر کـړو، دروازه یـې ورتـه خلاصه کـړه، ډرېـور یـې تـرې وغورځـو پسـې ور ښـکته شـو، پـه جـامو کـې یـې ګـوتې وربنـدې کـړې دسرک له څنـډې یـې هـم لانـدې ژور تـه خطـا کـړو، مـا دخپـل چلتـار دسـهال راخـلاص کـړو، زر زر مـې پـه چـوکۍ کـې ډنـډ وینـې پـرې وچـې کـړې، تـر پښـو لانـدې پـای پـاک مـې دچـوکۍ لـه پاسـه واچولو جلب ته کېناسـتم، پښـه مـې پـرې تختـه کـړه، مـوټر مـې ځـای تـه راورسـولو، کـه څـه هـم ډېـر ډرېوران مو له دنیا نـه رخصـت کـړل، خـو ددې هلـک پـه وژلـو مـې سـخت زړه بـد و، رڼـې رڼـې شنې سترګې او ببر سر مې یې هـېڅ لـه سـترګو نـه وتـل، کـور تـه لـه راتلـو وروسـته مـې پرېکـړه وکـړه چې نور بـه دا کـار پرېـږدم، چنـدان پیسـې هـم نـه وې پکـې د ځلـور، پنځـو لکـو، روپیـو مـوټر بـه مـو

ټوټه، ټوټه کړو، ایله به مو دېرش یا څلوېښت زره پیسې پرې جوړې کړې، هغه هم تر ډېر وخت ستړیاو منډو ترړو وروسته.

اگر چې ما صرف ډرېوري ورته کوله نور د ډرېوانو له وهلو، ویشتلو او همداسې د پرزو خرڅولو نه خلاص وم، فقط اخیر کې مې خپل حق پیسې ترې اخیستې، خو بیا هم له دې وروسته یې چې هر څومره زنگونه ووهل ورنغلم، هر سهار به له کوره راوتلم، که څه هم کارونه نه و، خو هسې د وجدان له ملامتیا د ځان ایستلو په پار به تر بېگاه د زرگونه نورو کارگرانو سره د مزدورانو په چوک ولاړ وم، ډېر وختونه پس یوه ورځ چې د تېر په څېر د کار پیداکولو لپاره د چوک په څنډه ولاړ وم، هغه د مخدره جاتو د فروش د دورې یو ملگری مې عارف چې په گرگ مشهور و، لوکسه دریشي- یې کړې و، ویښته یې اړولي و، عینکې یې د سینې په سر د یخنکاک تنیو (تکمو) کې ټنبلې وې، بل شان په ستایل کې روان و، غږ مې پرې وکړ:

-گرگ!

شاوخوا یې وکتل، چې سترگې یې رابانـدې ولگېدې را وگرځېدو، سترې مشي- مو وکړه سم دلاسه یې کړل:

-بچېش په دې کارونو یې نشې شل کولی، راشه چې پیسو ته دې سیخ کړم!

-چېرته؟

-ډرېوري خو دې زده ده، کنه؟

-هو ښه ټیټه!

-بس راځه یو چاته د معرفي کړم، ضمانت دې زه کوم، نور یې چې هر ولایت ته ولېږلې، تیار بار موټر په لاس درکوي فقط جلب ته کېنه په کابل کې یې ورته وسپاره، صرف دری پېرې دې چې وکړې داسې یې وګڼه، چې نور به د کاغذ تشناب په ځای ډالرو باندې ..... پاکوې!

ومې خندل کړل مې:

-د څه شي موټر دی؟

-د څه شي موټر! دا ښار کې چې هره ورځ له چاودیدونکو موادو بار موټر چاودنې کوي له آسمانه را آوري؟

-ورک شه غرق شې، په هره چاودنه کې دښځو او ماشومانو په شمول څومره بې ګناه خلک مړه کېږي، هر کار به وکړم دا کار نه کوم!

هلک په خندا شو، راغبرګه یې کړه:

-چېرته جومات ونیسه، سم ملا درنه جوړ شوی، بیا یې پسې زیاته کړه: دا افغانسان دی په دې ورکې زړه منه که سپوره ډوډۍ هم پکې پیداکړې، چې د خلکو د مړکېدو غم درسره دی بیا نو ودربېږه همدلته تر بیګاه وچې شونډې، په دې چوکونو مې ډېر وختونه تېر کړي، که د لوږې مړ نه شوې زه به سړی نه وم، نور یې په ولي وټپولم د بای بای په وېلو سره یې حرکت رانه وکړو.

ددې خبرې به تقریباً لس ورځې وتلې وې، پیسې نه وې راسره، له همدې پلکې مې پلی حرکت وکړو مانښام و، کور ته ورسېدم، سخت ستړی وم، د ماسختن تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته کړل:

-درته وېلی هم نشم زویه! جگرخون کېږې، خو که نه درته وایم هم نه کېږي، نن د کور صاحب راغلی و، ډېر په قهر و، نور خو یې چې هر څه ووېل بلا پسې، اخیر کې یې وېل د راتلونکې جمعې په ورځ راځم که کرایه مو نه و تیاره کړې لور دې درنه بیایم!

-ددې خبرې آورېدل نه و، سم برق ونیولم له ډېر قهر نه مې د سر وینې پښو، او د پښو سر ته وختلې، سخت احساساتي شوم، کله به مې وېل د جمعې په ورځ کور کینم چې راغلو چاقو به یې خیټه کې وراچوم، کله به مې څه وېل کله څه، بلاخېره تر سهاره دې پرېکړې ته ورسېدم چې مبایل مې راویستلو عارف گرگ ته مې زنگ وکړو، په لمړي سلام علیک پسې پیوست مې ورته کړل:

-هغه موټر راولم بچېش، فقط ور معرفي مې کړه!

په خندا یې راغبرگه کړه: هغه ورځ خو د له ځانه کاکا صالح راته جوړ کړو، دخلکو د مړکېدو غم درسره و، نن دې بیا څه شی خوړلي!؟

-هغه کیسې پرېږده، دا وایه چې چېر ته درشم؟

ادرس یې راکړو گرگ ته تر ورسېدو وروسته د پنجصد فامليو په ساحه کې د سمندر صیب په نوم یوه چاغ سړي ته ورغلو، توره گڼه گیره یې درلوده غټې غټې گوتمۍ یې په گوته وې، د سرک په سر یې د ایلکس موټر سیټ کې ورسره کېناستو، گرگ د یوه زړور او راز ساتونکي ملگري او ښه ډرېور په حیث ورته معرفي کړم، سمندر صیب کړل:

-په لوگر او گنړ کې راتلونکې جمعې ته دوه موټره بارگیري لرو، ماته یې مخ راوړولو وېل یې:

-ځوانه! نمبر دې راکړه!

ورغبرگه مې کړه!

-سمندر صیب! د جمعې له ورځې مخکې به کوم یو آمده نشي؟

-ولا پرون ملګرو له زابل نه یوه مازداه راولېږله، ډرېور یې په لارو کم جرئتي کړې، د وردګو دوراني ساحه کې يې پرېښې، دی ترې تللی ورشه رایې وله، زه به آغا صیب ته زنګ وکړم چې درته ویې سپاري!

-په څو؟

-د دشلو دقیقو لاره ده، ځه ورشه څلوېښت زره (۴۰۰۰۰ ) افغانۍ درکوم!

افقف له دې خوشحالۍ نه، پېژند پاڼه( تذکره) او د مبایل شمېره مې سمندر رانه واخیستل زه مازدا پسې روان شوم، د دوراني بازار ته له رسېدو سره سم مې زنګ ورته ووهلو دڅو لحظو له تېرېدو وروسته مې آغا صیب یوه سپینه کرولا تر مخ ودروله ورسره وختلم، کوز د اندړو، بادم په سیمه کې له سرک نه لاندې هاخوا خوړ کې ولاړه مازدا یې په لاس راکړه، د هغه غټو ډمټرک مازاګانو نه وه؛ لاندې چاودیدونکي مواد و، په سر یې جغل یا چهارمغز مانندو غټ غټ ګاټې ور اچولي و، لنډه دا چې حرکت مې راوکړو؛ که څه هم ما غټ موټر نه و چلولی، لمړی ورسره نابلده وم، کرار کرار ورسره بلد شوم، ګېرونه مې یې پیداکړل، آغا صاحب مې ډېر لرې تر مخ رانه روان و، د میدان ښار له چوک نه راتېر شوم چې زنګ یې ووهلو کړل یې:

-د کوتل سر کې امنیت ولاړ دی مه پرې راځه، موټر مې د سرک څنډه ته ودرولو زه ترې راښکته شوم ټایرونه، میرونه مې ډبول نیم ساعت وروسته یې بیا زنګ وکړو:

-راځه لاړل!

بیا مې حرکت وکړو، د چوک ارغندۍ تلاشۍ ته په رسېدو مې زړه دربېدو، خو ښه و، پولس بېخي له چوکۍ راجګ نشو، د سر په ښورولو سره يې د تللو اجازه راکړه، ما هم له موقع نه په استفاده پښه پرې ټینګه کړه، ترې راتېر شوم، څه چې راغلم اغا صیب بیا زنګ ووهلو کړل يې:

-له چوک ارغندۍ راتېر شوې؟

ـهو!

-بېشکه ولا نور بېغمه راځه دې خوا هېڅ ممانعت نشته!

مقصد ماښام شپږ بجې نکاش ته را ورسېدم دلته پولس ولاړ و، د شپې تر اوو بجو مخکې يې ښار ته غټ موټر نه پرېښودل، زه هم پکې ودرېدم، سمندر صیب هم زنګ وکړو؛ ورته ومې ويل:

-نکاش کې ولاړ یم، پولس تر اوو بجو مخکې غټو موټرو ته اجازه نه ورکوي!

لنډه دا چې په اوو بجو يې موټرو ته اجازه ورکړه، له کمپنۍ چې راتېر شوم سمندر ته مې زنګ وکړو، کړل يې:

-سیده راځه د چهل متره په سرک راوګرځه، د خوشحال خان د بلاکو په لار مستقیماً د سیلو سرک ته راووځه، د کابل بانګ نمایندګۍ ته روبرو، د دغو، دغو نښو لرونکي دوه نفره درته ولاړ دي، موټر ورته تسلیم کړه؛ څلوېښت زره پیسې او تذکره دې ترې واخله، نور دې موبایل فعال ساته د پنج شنبې په ورځ یوه بله بارکیري هم تیارېږي، په هغه کې دې بیا نازوم!

همداسې مې وکړل، ټاکلي ځای کې مې موټر همغه نښو لرونکو کسانو ته تسلیم کړو، خپلې پیسې او تذکره مې ترې واخیستل، ډېر ناوخته کور ته ورسېدم، مور او خویندو مې د ناوخته راتلو له وجې ډېرې په غوسه هم وې، خو خیره ډوډۍ مې وخوړله؛ د چای خوړلو په جریان

کې مو حساب وکړو، دېرش زره (۳۰۰۰۰) د کور کرایه او پنځه ۵۰۰۰ زره روپۍ څو میاشتنی د برق بېل شو، لمړی مې دا پنځه دېرش زره افغانۍ مور ته ورکړې بیا راپاتې (۵۰۰۰ ) افغانۍ مې د کور د خرڅ لپاره ورکړې، دخوېندو په شمول، مور مې ډېره خوشحاله شوه، ولې دخوشحالۍ تر څنگ بار، بار یې د راپیداکېدو د منبع پوښتنه هم وکړه؛ چون ما به یې په خواب ځان تېر کړو، ددې مجلس تر پای ته رسېدو وروسته مې لمونځ وکړو، نور بېغمه ویده شوم، سهار تقریباً ( ۹ ) بجې وې د کوتسنگي گلبار سلمانۍ کې مې وېښته جوړول، چې یو غرڅ شو ډېره درنه چاودنه وشوه، ټول گوټسنکی یې وښورولو له کړنگاهار یې ښکارېده چې د ځینو تعمیرنو شیشې یې هم راتویې کړې، په سلمانۍ کې علاوه ددې چې ځینې وسایل له مېز نه لاندې ولوېدل، تر سرپورې مو په چت کې راځوړند د گروپ گل ټالۍ وهلې ځوندې یې شرنگېدل، له سلمانۍ بهر خلک ترېدلي، ترېدلي، یو تر بل تېرېدل، ډېرو یې سترگې د باغ بلا طرف ته نیولې وې، د څو دقیقو په تېرېدو سره تلوېزون ته تازه خبر راغلو کړل یې:

-د کارت معامورین په څلور لاري کې ډېره درنه موټر بم چاودنه وشوه، چې زیات تلفات هم له ځان سره لري، جزیات به څو دقیقې وروسته درسره شریک کړو!

بلاخېر د رسنیو کېمرې هم ور ورسېدلې د پیښې سیمه یې په ژوندۍ بڼه ښکاروله، اففففف هغه شان د عرسات ورځ وه د خلکو نیمه، نیمه تنې په ونو کې بندې وې، لکه په قالینو فرش سرک په وینو سور پور و، پولس او روغ خلک اخته و، مړي زخمیان او پاشل شوې غوښې، یې ټولولې، لږ دې خوا چې کېمره راغلله د یوه وړکي سپین ډډ بډ ماشوم بې لباسه نیمه تنه پرته وه، یوازې سر او سینه یې ښکارېدل، ښکته چهاربند او پښې یې نه وې، تر څنگ یې یو آبي ټیکری او زنانه یې کمیس ته ورته یوه بله گل داره جنډه پرته وه، فکر کړم ددې ماشوم مور به وه، تر جنډه چارپېر پاشلي غوښې به ددې وې، خو په هر حال ددې پېښې په لیدو مې لمړی همدې سلمانۍ کې خپل یخن ته تف کړل، بیا مې څو ځل قصد وکړو، چې د کوټسنگي له دې

هوايي پله نه ځان راخطا کړم، خپل ځان خپله په سزا ورسوم؛ ولې بيا مې چې مور او خويندو ته فکر وکړو، نفس مې راسره ونه منله، ترڅو په دې نابلده ځای، پردي کور کې هغه هم په داسې حال کې يې تنها پرېږدم، چې نه يوه په فارسي پوهېږي او نه هم حتا تر کوټسنګي لار رايستلی شي، همدا و، چې له دې پرېکړې مې واپس شاه ته شوم، ټوله ورځ له خفګان او درده، لکه په سر وهلی مار تاو شوم، بيګاه ته چې کور ته ولاړم، د مور او خويندو مې هم چاودنه کې په مړو شو خلکو ډېر زړونه بد و، حتا مور خو مې يې لا عامیلینو ته حېرې او بد دعايې هم کولې، زړه کې مې ويل چې حېرې مه کوه مورې! ځان به غرق کړې، خو په خوله مې څه ونه ويل، ډوډۍ موډۍ مو چې وخوړه، دخوب بسترې ته مې ولاړم، خوب له کومه شو دشپې تر دريو بجو ويښ په ځای کې اوښتم، راوښتم په دريو بجو جګ شوم، لمړی اودس بيا مې دولس رکعاته د استغفار لمونځ وکړو، وروسته مې سر په سجده د قسم په کولو له الله ج سره وعده وکړه چې نور مې که خور څوک په قرض کې بيايي که مور، نه به له چاوديدونکو موادو بار موټر راولم، نه به مخدره توکي وپلورم، نه به د موټرو غلا وکړم، نه به د سپيانو غوښې خرڅې کړم او همداسې د نورو ټولو کړو بدو کارونو ديادونې سربېره مې وعده ورسره وکړه، چې نه به د بل کوم ناروا کار هڅه وکړم، د همدې وعدې تر کولو، وروسته مې د هغه ټولو ملګرو دموبايل شمارې وربندې کړې چې د مخدره توکو دپلورلو په وخت کې مې ورسره پېژندلي و، سر له سهاره مې لباس کار راسره وخيستلو بيا د مزدورانو د چوک په لور ولاړم، ډېر وخت صرف تلم راتلم، کار نه و، ان تر دې چې بيا له سختې بې خرڅۍ سره مخ شوو، حيران وم چې خدايه اوس څه وکړم؟ شيطان ګام په ګام دهغه مخکنيو هلکانو سره بيا تماس نيولو ته هڅه ولم، خو لاهول ولاقوت... به مې وويل بيا به د الله ج په اميد د چوک په لور روان شوم، په داسې حال کې چې نور مې چوک ته له راتلو هم استفراق راتلل، خو د خدای ج مهرباني وه، ورسره کړی قسم او وعده مې په ځای پاتې شول، تر خپل امتحان يې بريالی راويستلم، په همدې اساس وخت کې يوه ورځ چې د نورو ورځو په څېر د چوک په ژۍ لباس

کار په لاس ولاړ وم، یو سوزکي موټر مې تر مخ ودرېدو ډرېور یې تر شیشه سر را بهر کړو کړل یې:

-کارګر مې پکار دی!

مخکې له دې چې مزد او یا د کار نوعیت ورسره معلوم کړم، موټر کې ورکېناستم تر څو بل څوک ورسره ونه خېژي. حرکت مو وکړو په لارو مې پوښتنه ترې وکړه:

-استازه! ودې نه وېل چې کار مو څه دی؟

-راځه وبه یې وینې، کار مې دایمي دی، دوه نور کارګر هم لرم، څه چې هغه کول ته به یې هم کوې!

-څو معاش ورکوې؟

-میاشتانه ۸۰۰۰ افغانۍ ورکوم، پسې زیاته یې کړه یو حمام او سلماني لرم، البته خپل مې نه دي په کرایه مې نیولي دوه صفا کاران لري، هغه رسېدګي نشي کولی ته به یې هم ملګری شې!

زړه کې راتېره شوه: سړیه! دا دحمامونو او سلمانیو کار خو یوازې دخلیفګانو یا په وطني اصطلاح د ډمانو کسب دی، کوم کلیوال، شناخته مناخته مې ونه ویني؟ واپس مې کړل: څه ورک کړه بلا پسې، له دې ښه دی چې مور دې بیا د کوم مسجد مخکې ناسته وي سوال کوي ډوډۍ پرې راوړي.

همدا و چې سر مې ورته وښورولو ګواکي صحیح ده!

سړي کړل:

-خو کار درنه غوارم، ځکه چې دمیاشتې مې په دولس لکه ( ۱۲۰۰۰۰۰ ) افغانۍ نیولی، دا خو هم پوره کول غواړي!

ددې په ځواب کې مې هم د موفقیت سر ورته وښورو.

لنډه دا چې دشهرنو په مرکزي سیمه کې یوه ډېر ستر حمام ته ورننوتلو مخکنۍ برخه یې سلماني وه، لسو سلمانانو همحال کار پکې کولو، او دې بل طرف ته یې مردانه آرایشگاه وه، چې په دې کې هم لسو آریشگرو کار کولو، وړاندې برخه حمامونه و چې ټول ټال سل نمریي حمامونه یې لرل، سم دلاسه یې د حمام دکار کونکو ځانګړی لباس، بورسونه، میکروب ضد ډیټول راکړل کار مې شروع کړو، تر څو بلدې دمه مخکني دوه صفاه کاران مې تقیبول څه

چې دوی کول، ما هم همغه کار کولو وروسته له دوه دریو شپو بلد شوم نور مې خپل کار او د کار کولو طریقه زده کړه، کاشیان به مې په ډیټولو مینځل، د تشنابونو په نولو به مې پام کولو تر څو بندې نشي- د سلمانانو له پښو نه مو ویښته جرو کول او همداسې نور کارونه زما او هغه دوه نورو صفاه کارانو مسولیت و، هغه دواړه سپینږیري هزارګان و، له دې وجې ما به نظر دوی ته ډېر کار کولو؛ څه وخت کار مې چې وکړو، بله ورځ یو نوی د هغه وخت قیمت بها فرونر موټر دحمام تر مخ دسرک په څنډه ودرېدو، یو ډېر ښکلی جګ ځوان ترې راښکته شو دحمام له منځ نه تر شیشه مې ورته کتل، هلک بېخي شناخته راته معلومېدو، صد فیصد یقیني وم چې دا ځوان مې چېرته لیدلی خو هر څومره زور مې چې په حافظه راوړو رایاد مې نشوی کړلی، هلک د موټر دروازه بنده کړه، دحمام په لور راروان شو، زه هم له مخې چپ شوم فکر مې وکړو چې دومره شناخته راته ښکاري چېرته به مې لیدلي وي، شاید دی مې هم وپېژني، له سلمانیو وړاندې تېر شوم، په دې وخت کې دآرایشگرو هم پرې پام شو خپلو منځو کې یې زر زر یو بل ته کړل: دحمام ملک راغلو، دحمام مالک راغلو...

هلک چې د حمام تر عمومي دروازه را داخل شو، د حمام مشر چې دروازې راسته لاس ته به د پیسو د دخل مېز ته کېناستلو، د نمورې ښایسته ځوان هلک په لیدلو سره زر جګ شو، له مېز نه د راوتلو په حال کې یې کړل:

-اوووو انجینر صیب پخیر راغلې!

نور سره غېږ په غېږ شول ستړي مشې یې وکړه، هلک بیا سلمانانو، او رایشګرانو ته مخ ور واړولو جوړه لاسونه یې جګ کړل، د سر دښورولو په اشاره یې هر یوه ته جلا، جلا په جګ غږ وېل: سلام، سلام، سلام.... ښنګه یاست!؟ د سلمانانو او آرایشګر له خوا همچنان په ډېر احترام ځواب ورغبرګ شو، له دې وروسته د حمام د مشر په ځای د پیسو د دخل مېز ته په اپښې چوکۍ کېناستو د حمام مشر ته یې کړل:

-څه غورې دې رئیسه!؟

-ولا تر اوسه خو خیرت دی! پسې زیاته یې کړه: د څه اشتیا لرې، چای، مېوه...؟

-ژوند، ژوند کار لرم ځم، د دفتر صفا کار مې بېچاره مریض و، کار یې راپېښود لاړو اوس تاته راغلم یو ښه تکړه صفا کار دې، که راکړو ځواني به دې وي، موسکی شو زیاته یې کړه: ته خو هسې ورځ کې پنځه نیسې پنځه رخصتوې!

د حمام مشر زما همکار هزاره کاکا ته د لاس په نیولو اشاره وکړه کړل یې:

-په سترګو بابه درسره بوځه!

هلک خندا کې ورغبرګه کړه:

-بابه قربان شم، زما د دفتر زینې خو دې لیدلې، بابه بېچاره کله دومره انرژي لري؟ چې په هغو کې ښکته پورته شي!

دا چې دریم صفا کار ملګری مو هم سپینږیری و، مشر مو مجبور شو راناړې یې کړې:

-اکبره!

نور به مې نو څه کړي وی؟ ور روان شوم، څو متره لرې د هلک سترګې رابانـدې ولګېـدې کـړل یې:

-آآآ ریسه! دا ملګری صحیح دی!

چې ور نژدې شوم، له سلام وراچولو وروسته مې لاس ورته ونیولو سترې مشي- مو وکړه، پس له سترې مشي مو مشر سترګې راوړولې کړل یې:

-د انجینر صیب، د دفتر صفاکار تـرې تللی، اوس یـې نـو څنګـه کـړو، کـه خوښـه دې وي؟ تـه بـه ورسره ولاړ شې!

که څه هم زړه کې ډېر خوشحاله شوم، دلته وېرېدم که کوم شناخته مې ووینې ټول عمر به ډم راته وایي، موږ پښتانه خو هسې خلک یو، بلخوا ډېر چټل کار هم و، حمامو کې به مردار وینښته باد و، پوزې به یې پکې سغ کړې وې، غولی به په نورو سرېښناکو مایع سرینښ و، واقعاً مینځلو یې زور غوښتلو. اما د مشر په وړاندې مې ناخوښه انداز کې کړل:

-ښا صحیح ده!

-ورشه لباس دې بدل کړه، په حساب پسې به دې څو ورځې ورسته راشې!

روان شوم له لباس خانې مې خپل لباس راوغوستلو، واپس راغلم خدای پاماني مو وکړه انجینر مې تر مخ شو موټر ته وختلو حرکت مو وکړو، دهمدې حرکت په پیل کې یې موبایل راویستلو لږ، لږ غږ مې اورېدلو د کومې ښځې سره په ګپ شو، وروسته، وروسته یې له خبرو پوه شوم، چې خپله ښځه یې ده، خو ما ټوله لار سترګې په ده کې خښې کړې وې، چون له

یوې خوا یې خپره لا هم بېخي آشنا راته ښکارېده، بل خوا یې د بیدارۍ او ښکلې دنګې ځوانۍ، سربېره شاته پرېښو په ولیو پرتو او واپس پورته ورکلوله وېښتو بل شان خوند ورسره کولو، خو په هر حال تقریباً دنیم ساعت په تېرېدو سره دفتر ته راوسېدو؛ که څه هم ډېر لرې نه وه، لاربندان و، کنې دپنځو دقیقو لار نه وه، د رسېدو سره سم د دفتر ساتونکي دروازه خلاصه کړه، چې ورننوتلو ډېره یوه ښایسته حاویلي وه ټوله ځمکه یې چمن، چمن ګلان او ګلدانۍ وې، د ګلدانونو منځ کې نرۍ نرۍ په مزایکو پوښل شوې لارې پکې تېرې وې، ورتېر شو وړاندې یوه وړکې درۍ پوړه تعمیر ته چې ډېره ښایسته نقشه یې وه، ور دننه شو، ددې لاندیني پوړ ډېره برخه یې یوه سالون نیولې وه، چې په قالینو فرش وه ،میزونه او کوچونه پکې ایښې و، د مهمان خانې کار یې ترې اخیستلو، هاخوا پاتې نوره څه برخه یې آشپزخانې نیولې وه، دوهم پوړ یې د بیلو بېلو دندو مخ ته وړونکو کارمندانو شبې وې، دریم پوړ مکمل خپله د همدې انجینر دفتر و، دفتر ته له رسېدو سره سم زنګ ورته راغلو موبایل یې اوکې کړو تقریبا پنځه شپږ دقیقې د چا سره ښه په ټوکو ټکالو او خندا وغږېدو، فکر کړم بیا یې هم ښځه وه، ځکه اخیر کې یې د ایاز په نوم ماشوم پوښتنه ترې وکړه، دوخت په تېدو مې وپېژندو ایاز یې زوی و.

د زنګ تر قطعه کېدو وروسته یې ما ته مخ راوړولو کړل یې:

-نوم دې څه دی؟

-اکبر!

-اکبر جانه! دفتر خو دې ولیدو؟

د سر له ښورولو سربېره مې کړل:

-هو!

-ښا وروركه! بس همدلته لانـدې بانـدې بـه گرځـې، كـوم كاغـذ ماغـذ، پـاڼې يـا بـل داسـې څـه دې چې ليـدل ټولـوه يـې كثافـت دانـۍ كـې يـې اچـوه، د جمعـې، جمعـې پـه ورځ دې كـه پـه دې دهلېـزو لړ لړ اوبه درسره تېرې كړې هم ډېر به ښه شي، بس ستا مسوليت به همدومره وي!

-سمه ده!

كړل يې:

-ښا چې سمه ده بيا نو داسـې وكـړه، چـې لمـړی لانـدې منـزل كـې د منشيـ شـبې تـه ورشـه ځـان دې ورتـه معـرفي كـړه، بيـا آشـپزخانې تـه ورښـكته شـه، آشـپز تـه ووايـه چـې اول خـو يـو چـای دركـړي ترڅو دمه دې جوړه شي، وروسته به د سامانونو اطاق هم درته وښيي!

همداسـې مـې وكـړل، لمـړی منشيـ تـه راغلـم منشيـ مـې نـوم، د داخېلېـدو نېټـه او د پېژنـد پـاڼې لـه مخې ادرس كتـاب تـه ورسـولو، بيـا لانـدي منـزل كـې اشـپزخانې تـه راغلـم آشـپز تـه مـې د ځـان تـر معـرفي كولـو وروسـته، د سـامانونو د اطـاق راښـودلو ووېـل، كـه څـه هـم انجيـنر راتـه ووېـل خـو مـا اشپز ته د چاي څكلو خـبره ونـه كـړه، ولـې آشـپز ډېـر ښـه سـړی و، خپلـه يـې مېـز تـه اېښـې چـوكۍ ته په اشاره سره وېل:

-ته كېنه يو گلاس چـای وڅښـه، د موسـكا پـه كولـو سره يـې پسـې زياتـه كـړه :اطـاق نـه اطاقونـه بـه بيا درته وښيم!

-مننه اشتيا يې نه لرم د چای څښلو وخت هم نه دی!

-اووووو د چايو لپاره چا وخت تعين كړی؟ كينه زوروره!

نور ما هـم نـه او نـو ونكـړل كېناسـتم، پوختـه سـاله، ميانـه چـاغ اشـپز كاكـا كمـه زېـر رنگـه كونـډۍ گيـره ښـوروله ځـان سره يـې پـه ټيـټ آواز زمزمـه كولـه، چـای يـې راتيـار كـړو، لـه چـای څكلـو

وروسته مې تر مخ شو، د اشپزخانې تر څنګ اطاق ور یې خلاص کړو، اطاق کې د غټې او واړو بورسونو، ستلونو، علاوه رنګ رنګ میکروب ضد تعمیر مینځلو مایع ایښې وې، اشپزکاکا خندنی شو کړل یې:

-اممم نور دا ته، دا دې سامانونه!

-ښا مننه!

تر دې خبرې وروسته اشپز رانه روان شو، څو قدمه تللی و، بیا مې غږ پسې وکړو:

-کاکا! دفتر د کارمندانو لپاره ځانګړی لباسکار نه لري؟

-انجینر عجاز پیسې درکوي لباس کار به دې خپله ځانته واخلې، دلته چې هر څوک نوي راشي پیسې ورکوي، تر هغو دې په همدغو لباس کې ګرځه!

-ښا صحیح شو مننه!

اشپز مې ددې جملې په ورغبرګولو سره دخپلې آشپزخانې په لور رخصت کړو، ما مې راونغړلې د انجینر د خبرې په تعقیب لمړی مې د یونیم هاخوا دې خوا پراته کاغذو په راټولو شروع وکړه، کرار کرار مې خپل ټول مسولیت ته غېږه ورکړه، زما علاوه دفتر شپږ خدمت ګاران نور هم لرل، چې دوه خپله همدا آشپز او شاګرد یې و، دریم یوازې د مهمان خانې حفاظت کونکی و، څلورم حویلۍ کې د چمن او ګلانو پالنه کوله، هغه دوه نور مسلحه ساتونکي و.

زما کار دومره نه و، هسې به په تعمیر کې ښکته پورته کېدم، صرف د جمعې په ورځ د دهلېزونو او زینو مینځل څه ستونزمن و، نور ډېر ښه کار و، انجینر هم ډېر مهربانه او خوږ ژبی ځوان و، اګر چې دفتر ته به ډېر نه راتلوو په هفته کې به یو ایلا که دوه ځله راغلو، خو د راتلو سره

به يې ډېره ګڼه ګوڼه شوه مېلمانه به ورسره و، کله ناکله به چې تنها راغلو، بيا به نو زموږ هم ساعت ورسره تېر شو، بلا جالب مجلس يې کولو، اګر چې هغه به هم ډېری وخت په

موبايل کې غږېدو.

د څه وخت په تېرېدو سره زما او اشپز کاکا کلکه ملګري شوه، دايم به مو چې وخت پيداکړو ديو بل څنګ ته به ورتلو، د نور بنډار سربېره يګان راز به مو هم سره کولو، په همدې باب يوه ورځ مې ورته وېل:

-دا انجينر عجاز مې چې په لمړي ځل وليدو ښځي ډېر شناخته تر نظره راغلو اوس هم چې ورته ګورم داسې راته ښکاري لکه له مخکې مې چې چېرته ليدلی وي، اما هېڅ يې په ياد نشم راوړلی؟

آشپز راغبرګه کړه:

-ليدلی به دې وي دا دومره ډېر ګرځي، يو ځای په وزارت فوايد عامه کې د معين دنده مخ ته وړي، بل ځای په کوم شخصي- پوهنتون کې استاذ دی، دوه يې ساختوماني شرکتونه دي دولتي ستر قراردادونه ټول دی نيسي-، دری يې په شارنو کې حمامونه دي، په کرايه يې ورکړي، شايد نور کارونه به هم مخ ته وړي!

-اوووهووو دا دومره کارونه په يوازې ځان څه رنګه مديريت کوي؟

-امممممم دا داسې بلا بيدار سړی دی، اوس يې هم ښځې له کاره ايستلی، کنې دومره نور کارونه يې هم مخ ته وړل!

له خندا سره مې ورته کړل:

-ښځه يې څنګه له کاره ايستلی؟

-ته یې نه وینې چې ګرده ورځ یې موبایل غوږ ته نیولی وي، خاندي ټوکې ټکالې سره کوي؟ افففف بل شان پرې ګرانه ده، ته باور وکړه په ټوله ورځ کې دری برخې دخپلې ښځې سره لګیاه وي غږیږي، په دې یوه برخه کې یې دا نور ټول کارونه کوي!

-څه وایې؟

-ټوکه مې ونکړه، ته صبر کرار کرار به یې خپله وپیژنې، یو وړکی زوی یې دی، هغه هم ډېر پرې ګران دی، اوږده ساه یې ونیوله بیا یې وېل: افففف داسې ښه نوم یې و، له یاده مې ووتلو هووو فیاض نه، نه ریښتیا ایاز نومېږي!

ددې خبرې له کولو وروسته له لاندې چا غږ وکړو، آشپز کاکا وربښکته شو، زه هم جګ شوم مجلس مو همدلته رنګ شو. خو ریښتیا هم لکه څنګه چې آشپز کاکا ویلي و، د وخت په تېریدو مې خپله ولیدو، ډېر چلاکه او بیدار هلک و، د ښځې سره د بې انتها مینې پالو تر څنګه کوم چې آشپز کاکا یې یادونه کړې وه، ټول کارونه یې مدیریت کول. دا یې هم په هر حال راځم یوې بلې خبرې ته څنګه چې مخکې مې هم یادونه وکړه، ما او آشپز کاکا ځینې شخصي-رازونه سره شریک کړي و، په همدې لړ کې ما دخپل غربت او سختو شپو ورځو حال هم ورسره شریک کړی و، همدا و چې هره ورځ به یې له ورځني کتغ (پخلي) نه یوه اندازه په وړکي پلاستیکي ستل کې راته ستون کړی و، له مازیګر به یې راکولو، ترڅو کور ته یې راسره یوسم او ددې علاوه هره هفته کې به یوه بوجۍ له مهمانخانې نه را زیاته شوې وچه ډوډۍ هم برابرې ده، دا به یې هم ماته راکوله ترڅو خرڅه یې کړم، خو له بدمرغه یوه ورځ چې د وچې ډوډۍ بوجۍ مې په شاه و، ستل مې لاس کې و، څنګه چې تر دروازه ووتلم کغغغ شو، انجینر مې د مخې سره برېک ونیولو، موټر یې ودرولو، له شیشې نه یې زما په شاه بوجۍ ته په سترګو اشاره وکړه کړل یې:

-اکبرجانه: دا څه دي؟

ایششش په داسې حال د انجینر له لیدلو سخت خجالت شوم؛ هغه د چا خبره که چاړه دې را اچولې وی څاڅکی وینه به نه وه رانه تللې، خو بله لار هم نه وه، په غلي ګنګړو غږ مې کړل:

-وچه ډوډۍ ده!

انجینر مې له خجالته په خراب وضعیت پوه شو زر زر یې وویل: ښا، ښا ډېر ښه دې وکړل، ورځه چې ستړی کوي دي، که څه هم انجینر خو ددې شیانو کیسه کې نه و، نه پسې ګرځېدو. ولې زما وضعت تر ډېره خراب و، فکر مې کولو د انجینر تر نظره به څومره خس دوز ورغلی یم؟ یا به انجینر فکر کړی وي چې څومره غل سړی دی پرته زما له اجازې یې ډوډۍ په شاه کړې وه، نور به څومره شیان وړي؟ اما دا زما فکرونه و، ولې خبره برعکس وه، سبا چې ورغلم آشپز کیسه راته وکړه، انجینر زما له راروخصتولو وروسته دفتر ته ننوتلی و، له آشپز نه یې زما د ستل او وچې ډوډۍ په اړه پوښتنه کړې وه، څنګه چې ما ورته ویلي و، آشپز هم زموږ دغربت او سختو مجبوریتونو ټوله کیسه ورته کړې وه، انجینر دخپل نرم زړه له مخې د آشپز د خبرو په آورېدو ډېر خپه شوی و، په مقابل کې یې آشپز ته ویلي و، هېڅ وخت بې کتغ درنه ولاړ نشي سپورې ډوډۍ هم ورکوه، ولوکه که زموږ میلمانو ته کمې ده هم.

د آشپز له خولې ددې خبرې په خبرېدو خوشحاله شوم د کوم څه له وېرې چې ما د انجینر له دیدګاه ځان کړولو، انجینر زما په اړه هغه فکر نه و کړی، خو په عین حال کې مې لا هم د خجالت احساس کولو، زړه کې مې ویل: کاشکې دې سړي په دې حال نه وی لیدلی، اما اوبه تر ورخ تېرې وې، څه به مې کړي وی؟ واپس مې په خپله صفاکارۍ پیل وکړو، له دې پېښې دری ورځې تېرې شوې انجینر دفتر ته رانغلو څلورمه ورځ تقریباً لس بجې وې په دوهم پوړ کې په خپل کار اخته وم، د دروازې کړپار شو، تر کړکۍ مې ور وکتل ساتونکي دروازه خلاصه

کړه، د انجینر موټر حاویلۍ ته رانوتلو وړاندې راغلو سره د یوه وړکی ماشوم له موټر نه راښکته شول، لاندیني پوړ کې د مهمانخانې له محافظ سره یې د سلام علیک غږ ولګېدو، بیا یې د آشپز سره جوړ پخیر شروع کړل، زه نو زر زر په صفاکارۍ اخته یم د سترګو تر کونجو زینو ته ګورم چې اوس به رجګېږي، اوس به راجګېږي، د سړي وخت ووتلو، چې کتل مې آشپز د زینو له نیمی نه غږ راوکړو ویل یې:

ـ راشه انجینر دې غوړي!

د ښځو په اصتلاح زړه مې د پښو تر تلو تېر شو، ووېرېدم چې دهغه ورځې ډوډۍ ایستلو څه غم نه وي؟ خو بله چاره نه وه ور روان شوم، انجینر مهمانخانه کې په کوچ ناست و، سلام مې وراچولو ستړي مشي ـ مو وکړه، بیا مې ماشوم په دوه ګوتو نرم تر دې یوه اننګي ونیولو، لطفې خوش مې ورسره وکړو، دکیناستو سره سم انجینر دمخ په را اړولو سره وویل:

-اکبر ګله! تاپسې راغلی یم دې خاله نادیه څوک مریضان دي، دا دوې هفتې نه ده، راغلې د کور برنډې مو سختې خیرنې شوې، نن دې هغه راته مینځلې وی، بل شان ثوابونه به دې شوي و!

آشپز وخندل، ما ته یې هم دا د ثوابونو کلمه څه جالبه ښکاره شوه موسکی شوم، د سر د ښورولو سره مې ورته کړل:

-ښا صحیح ده!

نیم ګلاس چای ئې ځای په ځای پرېښودو جګ شو ویل یې:

-ځه نو چې تا ورسوم، بیا مې میدانې هوایي کې لږ کار دی ناوخته نشي!

بلاخېره راروان شو، په لارو مې د ماشوم سترګو، پوزې، خولې او همداسې د مخ نور جوړښت ته ور پام شو، سره ددې چې ماشوم خپله هم ډېر ښکلی و، ولې سترګو، پوزې، اننګیو... ته په کتو یې د ماشوم له وجود او ښکلا هاخوا بهر یو قسم ډېر مزدار خوند مې تر احساسولو، هېڅ نه پوهېدم چې دې کې څه راز دی؟

ولې مې دې ماشوم ته کاته عشقي حواس راپاروي؟ او په عین حال کې لکه مخکې له مخکې مې چې ډېر لیدلی وي، تر پلار نه یې ډېر شناخت راته ښکارېدو، سره ددې چې لمړی ځل مې اوس ولیدو، زړه کې مې کړل:

-انجینر به کوم تعویذ معاویذ کړی وي، څنګ ټول داسې شناخت، شناخته ښکاري؟

همدې فکر کې ډوب وم، چې د کارت پروان ساحه کې انجینر جلب ووهلو موټر یې له عمومي سرک نه فرعي سرک ته ویستلو په څه مخکې تلو سره د یوې لوې کوځې خوله کې څلور پنځه پولس ولاړ و، د ډبلې اوسپنې په واسطه یې لاره بنده کړې وه، چکپاینټ و، موټر ته یې راوکتل د انجینر سره یې سلام علیک وکړو اوسپنه یې جګه کړه، تېر شو، د کوڅې دواړو خوا ته ډېر ښایښته تعمیراتي کورونه و، دځینو دروازو مخکې ساتونکي هم ښکارېدل داسې انګېرل کېده چې ټول به دې دولتي غټو چارواکو کورنه وي.

خو په هر حال له څو کورونو چې تېر شو انجینر دیوې فوالدي غټې دروازې مخته موټر راتاو کړو آورنګ یې وکړو، سم دلاسه یوه سپینږیري له قده ټیټ بابه دروازه خلاصه کړه، ورننوتلو تر څه وړاندې تېردو وروسته له موټر نه راښکته شو، که څه هم حاویلي تر ډېره د دفتر حاویلۍ ته ورته وه، همغه شان چمنونه، رنګ رنګ ګلان او د ګلدانونو تر منځ په مزایکو فرش نرۍ نرۍ لارې پکې تېرې وې، ولې تعمیر یې د دفتر له تعمیر نه بلا ښکلی و، بېخي نمونه نقشه یې وه؛ ددې سربېره عجیب غریب جذاب ورونه؛ کړکۍ، پنجرې یې پکې نصب کړې وې او

همداسې رفقونه، منارې، په بېلو بېلو برخو کې مصنوعي جوړ شوي ګلان ډېر جالب و. په هر راز له تشریفاتي خبرو تېرېږم، انجينر تر تعمير په چارپېره برنډه، بورسونه، دتعمير شويې مايع د ابو پيپونه راته وښودل، اخېر کې يې تر برنډه لاندې د حوض کونج کې کوټ وچې ډوډۍ ته لاس ونيولو کړل يې:

-دا ډوډۍ دې هم که له دې ځای نه درسره ورکه کړه، څومره به ښه شي، که څه هم د انجينر مطلب دا و، چې ګواکي درسر يويې سه، لکه د دفتر نه دې چې يوړه، د ځان لپاره يې دې خرڅه کړه، خو دخپل انسانيت له مخې ترڅو خجالت مې نکړي خبرې ته يې بل رنګ ورکړو.

خدايي چې شي زه هم ورته خوشحاله شوم، ډېره ډوډۍ وه، زړه کې مې ويل:

شپږ، اوه سوه روپۍ خو کېږي، خو ده ته مې عادي وويل:

-ښا سمه ده!

نور مې په خپل کار شروع وکړه برنډې ته مې د ابو پيپ ونيو، انجينر يې څو دقيقې دکور داخيل کې ورک و، پس له څو دقيقو په عجله راووتلو، موټر ته يې وختلو لاړو.

يو، يونيم ساعت وروسته زما برنډې هم پاکې شوې، پيپونه ميپونه مې خپل ځای ته ورټول کړل، د وچې ډوډۍ په بوجۍ کولو مې شروع وکړه، ډوډۍ زياته وه، د بوجۍ تر ډکولو وروسته مې د اوږې دسمال ورته وغوړولو، دا باقي مې په دې کې پنډوکی کړه، د همدې پنډوکي د پيڅکو په غوټه (ګنډه) کولو اخته وم، په دې وخت کې مې د سترګو له کونجو پاس په برنډه د يوې ښځې خېره تر سترګو شوه، په داسې حال کې چې زما په لور را روانه و، نور مې سترګې ور پورته نکړې چې زړه يې که ځوانه؟ حتا بېخي مې ځان پرې پوه نکړو چې ګواکي زه دې وينم، ښځه راغله، راغله زما حد ته په رارسېدو يې جوړه لاسونه د برنډې په پنجره کېښودل، په سيل مې ودرېده، ما لا هم ځان ناګومانه پرې اچولی و، دخپل پنډوکي په

غوټه کولو لګیاه وم، د پنډوکي تر غوټه کولو، وروسته مې بوجۍ ته شاه ووهله راجګه مې کړه، غوښتل مې چې پنډوکی مې لاس کې راسره واخلم، نور همدسې راووځم، خو څنګ مې چې پنډوکي ته لاس کړو، ښځې غږ وکړ:

-اکبر نه یې؟

فکر کړم د پاس منزل له کړکیو نه یې شک راباندې کړی و، په حیرانتیا مې سترګې ورپورته کړې، چې یوه تک سپینه د سپوږمۍ په شان ښکلې او لکه تازه د واده په تخت ولاړه ناوې، سینګار کړې نجلۍ ولاړه ده، که څه هم ډېر وخت وتلی و، قوارې یې څه نا څه تغیر کړی و، چاغه شوې وه، بل خوا ښکلا یې هم بېخي سرشاري کوله، خو په پاکو پاکو چلاکه سترګو او د اننګي له پاسه د پرېکړو ویښتو په لام مې فوراً وپېژندده، چې مرواء ده، ددې سربېره هغه ورځ په خوب کې مې چې سېلاب ته وغورځوله دسیلاب منځ کې چې د ښکلي ځوان سره په تخت ناسته وه، عیني شان سینګار کړې وه او همدغه اوسنۍ جامې یې په تن وې، کټه مټه ښکلا یې پنځوله او ورسره پیوسته دا خبره هم ذهن ته راغله اوووو هغه ځوان خو همدا انجینر و، چې مرواء سره د سیلاب منځ کې په ګل پوش کړي تخت کې ناست و، ځکه شناخته، شناخته راته ښکارېدو.

خو په هر صورت، څنګه مې چې وپېژندله پرته له دې چې د خبرې ځواب یې ورکړم، په شاه کړې بوجۍ مې واپس ښکته په شاه وښویوله ځمکه ته مې خطا کړه، قدم مې ور واخیست په داسې حال کې چې مرواء مې د سینې په اندازه جګه د برنډې په څنډه ولاړه وه، دپنجرې له دې خوا مې یې پښو ته سر ټیټ کړو، دټیټېدو سره سم مې ورته کړل:

-ما وښه د خدای ج په لحاظ، همدومره سزا مې بس ده، په کوم حال مې چې وینې او څه چې په ما تېر شول یو الله ج ولیدل، دا هر څه ستا له آزار پرته نور هېڅ نه دي!

مرواء د یو قدم په اندازه شاته تللو سره په خواشني انداز راغبرګه کړه:

-پورته شه پښو ته مه ټیټیږه آسـمان بـه راپرېـوځي، کنـي رښـتیا، کـه څـه هـم مـا بـه آزار نـه کولـو، خـو تر زړه مې غیرې ارادي سوي آهونـه درپسـې وتـل، مګـر دومـره خـوار مـې هـم نـه غوښـتې لکـه ویـنم دې چې، اما ځار د خدای ج تر خدایۍ!

له دې خـبرې وروسـته یـې دواړه لاسـونه ورجـګ کـړل، یـو زیـږ ځینځـیر چـې غـټ لـړم غونـدې ګـل هم پسې زنګېدو له خپلې غاړې یې راخلاص کړو، پسې زیاته یې کړه:

-امممم دا واخلـه ولاړ شـه خـرڅ یـې کـړه، لمـړی یـوې سـلمانۍ تـه ولاړ شـه دا ویښـتان او ګیـره دې جـوړ کـړه، بیـا ښـه صـحیح یـو حـمام وکـړه؛ لـه هغـه وروسـته یـوه جـوړه موسـمي څپلـۍ او جمفـر واخله، همداسې تر څو چې پرې کېدل وغیره ضرورتونه دې پوره کړه، نور به بیا غږېږو!

-نه، نه، ځینځیر دې نه اخلم، صرف یو ځل د زړه له خلاصه ښښنه راته وکړه، خیر دی؟

په جدي انداز یې راغبرګه کړه:

-امممم واخلـه لمـړی دې دا کارونـه وکـړه، بیـا کـه رښـتیا زمـا نـه ښښـنه غوښـتل دومـره درتـه مهـم و، سبا راشه!

ګوتې مـې ورتېـرې کـړې ځنځـیر مـې راوخیسـتلو جیـب تـه مـې واچولـو نـور ورتیـټ شـوم د پنـډوکې په غوټـه خلاصـولو مـې شروع وکـړه؛ زړه مـې و ډوډۍ واپـس تـرې تشـه کـړم، دسـمال تـرې راخـلاص کړم، خو مرواء بیا کړل:

-پرېږده یې ځه، دسمال هم بل واخله!

ددې خـبرې د آورېـدو سره مـې نـرم لاس تـرې راټـول کـړل، جـګ شـوم دجګېـدو سره سـم مـې کـرار وویل:

-د خدای پامان!

-خدای دې مل شه!

د لاسونو لړزې، ژبې بندېدو او ځینې نورو بې واکه غېر نرمال حرکاتو ته په کتو مې یې زیاته کړه:

-سبا حتماً راشه شرمېږه مه، خیر هېڅ خبره نه ده!

خدایي چې شي دې خبرې یې اوچت راتیکه کړم، سر مې وښورو ګواکې سمه ده نور ترې را روان شوم، له دروازې نه راوتلو کې مې د سترګو تر ځنګو لږ ور وکتل مرواء لا هم په خپل ځای حیرانه، بریانه خواشونې راپسې ولاړه وه. عمومي سرک ته تر راوتلو وروسته د کوټسنګي موټر کې راسور شوم، د مرواء لیدلو مې دعجیبې غریبې کیسې په حیث ذهن اشغال کړی و، دا هم په هر حال هغه کالونه مخکنې لیدلي خوب ته مې بېخی عجیب وم، چې مرواء او خاوند یې انجینر عین شان ښکلي، خوشحاله او همدغو لباسو کې دتخت له پاسه جوړه په کوچ ناست و، انجینر مې هم چې لمړی ځل دحمام له منځ نه ولیدو ګټ مټ لکه څنګه مې چې خوب کې لیدی و، سپین کالي تور واسکټ شاته په ولیو پرتو ویښتو څوکې یې واپس پورته راتاو وې، بل شان خوند یې ورسره کولو.

ددې سره جوخت دا هم ذهن ته راغلل اووووو هغه پرون مې د انجینر ماشوم زوی ته په کتو چې حواسو دعشق رنګینې هواوې کولې دې کې خو د مرواء رنګ و.

په همدې فکرونو کې ډوب وم چې کلنډر غږ وکړو:

-بیایي بخیر تا شوي!

چې سترګې مې وغړولې کوتسنګي ته رارسېدلي و، رانښکته شوم د مرواء دخبرې مطابق لمړی طلا فروشۍ ته ورننوتم ځینځیر مې چې له جیب نه راویستلو، یو قسم د مرواء د بدن مزه داره خوشبوي ترې جګه شوه، زر مې په موټې کې راټول کړو، د څو لحظو لپاره مې کلک په اننګې ونیولو، وروسته مې زرګر ته ورکړو، بلاخیره په اوه دېرش زره ( ۳۷۰۰۰ ) افغانۍ مې پرې خرڅ کړو، که څه هم په خرڅولو مې یې بلکل زړه نه کېدو، خو هغه متل دی چې مجبوري دې خدای ج په سپي نه راولي.

خلاصه د ځنځیر تر پلورلو وروسته لمړی سلمانۍ ته ولاړم ویښتان او ګیره مې هغه د محصیلۍ د دورې غوندې ښه په طبعت جوړ کړل، بیا مې حمام وکړو، څنګه چې مرواء ویلي و، له دې وروسته مې دوه او درې جوړه ښه ښایسته، ښایسته روزې موډ لباسونه راونیول، چې حساب مې وکړو ټول ټال پنځلس زره (۱۵۰۰۰) افغانۍ مې مصرف کړې وې، له باقي پیسو مې درې زره (۳۰۰۰) نورې هم رابېلې کړې یوه نیمه کیلو غوښه، ترکاري، څلور پنځه نوعه تازه موسمي میوه مې راسره واخیستل، د کور په لور روان شوم، ناوخته د ماښام ساه په ختو وه، کور ته ورسېدم، مور او خویندې مې د خوشحالۍ تر څنګ زما په پخواني ستایل ګیرې او ویښتان جوړېدو، او همدارنګه د رنګ رنګ لباسونو وغیره سودا رواړلو د پیسو سرچینې ورښودلو په پار زما خولې ته غوږ په آواز وې.

ما هم دېرې انتظار ته ورنکړې، ولې بیا هم لمړی مې جیب ته لاس کړو، پاتې نولس زره (۱۹۰۰۰) افغانۍ مې راویستلې د مور او خویندو تر مخ مې کېښودې، کړل مې:

-امممم دا پیسې واخلئ لباسونه یې کوئ؟ چکرې پرې وهئ؟ کومو خوارو ته مو زړه کېږي پرې اخلئ یئ؟ مقصد هر څنګ مو چې طبعت وي، هغه شان یې مصرف کړئ، خاص د همدې لپاره خدای ج راکړې، پاکې صفا حلالې پیسې دي، اینده کې هم هېڅ ستونزه نه لري، نه مې له چا غلا کړې، نه مې راقرض کړې، نور مه پسې ګرځئ، که څه هم مستقیماً مې ورته ونه وېل

چې د کومه مې کړې؟ خو دا چې له مخکې نه مې هېڅ وخت دروغ نه ورته ویل، په دې خبره مې هم باوري شوې، نور د دوئ په تندیو هم د خوښیو د متر ستنې یوسلو اتیاو ته جگې شوې، مور مې لاس ورښکته کړو، د پیسو راجگولو سره یې مدینې ته سترگې ونیولې، په موسکا سره یې کړل:

-سهار مې درته ونه ویل، چې پیسه دار کېږو بېگاه مې مرداری په خوب لیدلې؟

ددې خبرې په کولو سره مور ډېر ورته و خندل، خو په هر راز ترځو خبرې مې زیاتې نشي- له کورني یا هم د مور او خویندو له مجلس نه راتېرېږم، لنډو کې به ووایم، چې شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته مې په نویو لباسونو کې تر ټولو ښکلی لباس واغوستلو، په ویښتو میښتو مې گوتې ووهلې نور نو د مرواء سره د کړې وعدې له مخې ور روان شوم.

اگر چې نظر پرونی زما پوډري مانند خبرې او نن ددې د غاړې د ځینځیر پلورلو په پیسو له ځانه شازاده جوړول او ددې علاوه په پخوانی ورسره کړې ناځوانی مخې ته په ورتلو ډېر ترې شرمیدلم هم.

خو څنگه کړې؟ بلاخېره کارته پروان ته په رسېدو سره د دوئ د کوځې خوله کې کوځه ساتونکو عسکرو ودرولم کړل یې:

-چېرته ځې؟

-د انجینر عجاز کور ته ځم!

پولس موبایل راویستلو، زنگ یې ورته ووهلو، زما نوم او نښې یې ورته وویلې، بیا یې د انجینر په غوښتنه گوشې ماته راکړه، تر سلام علیک وروسته یې وویل:

-چېرې روان شوی یې؟

ځـواب رانـه ورک شـو، حيـران بريـان خـاموش ولاړ وم، زړه کـې مـې ويـل: کـه ورتـه ووايـم چـې مـرواء ورغوښـتی يـم، هسـې نـه بـده پـرې ولګـي، چـې ګويـا د مـرواء سره دې څـه کـار دی؟ شـيبه وروسـته چـې لا مـې هـم ځـواب نـه و ورکـړی، پـه لـه لاسـه ورکـړو روحيـاتو او رانـه ځـواب ورکـي حالت مې پوه شو، ويې خندل کړل يې:

-ګوشي قومندان ته ورکړه!

موبايل مې همغه شـان پـه پټـه خولـه واپـس عسـکر تـه ورکـړو، انجيـنر زمـا د پرېښـودلو ورتـه وويـل، فکر کړم زما په باب او بيا راغوښتلو په اړه مرواء ان بېګا ورته ويلي و.

خـو چـې هـر څـه و، مقصـد عسـکرو مخـه راکـړه دروازې تـه درسـېدو سره سـم مـې د دروازې د زنـګ پـه بټـنـه ګوتـه تختـه کـړه، دروازه سـاتونکي بابـه دروازه خلاصـه کـړه، کـه څـه هـم څـه يـې د پرونۍ ليدنې له مخې پېژنـدلم هـم، ولـې بيـا هـم ځـان مـې ورتـه معـرفي کـړو، د کـور داخيـل تـه دتلو مې ورته وويل، بابـه لينـي ګـوشي راجګـه کـړه، زنـګ يـې ووهلـو زمـا دنـوم پـه اخيسـتلو د ورتلـو مـې يـې ورتـه وويـل، لـه هغـه خـوا ځـواب مثبـت و، بابـه لار راکـړه، مخکـې لـه دې چـې تعميـر تـه ور ورسـېږم مـرواء د تعمير لـه برنـډې پـه زينـو کـې ميـده ميـده حـاويلۍ تـه راښـکته شـوه همدلتـه سره مخـامخ شـو د درې څلـور مـتره فاصـيلې پـه لرلـو سره مـې سـلام ورواچـو پـه ټيـټ آواز يـې د سـلام جـواب راکـړو، بيـا يـې د سـترګو پـه معمـولي حرکـت چـپ لاسـه تـه دګلانـو پـه سريـو کـې چـارپېر چمن کې ميز او چوکيو تـه اشـاره وکـړه، ورتـاو شـوم، خـو قـدم مـې ونيولـو دا مـې تـر مـخ کـړه چمـن کـې، لکـه د وادونـو تـالار کـې د طعـام خـورۍ دوه ګـرد، ګـرد مېزونـه ايښـي و، چـوکۍ ور چـارپېرې وې مرواء همدا د مخې مېز کې کېناسـته زه وړانـدې دوهـم مېـز تـه تېـر شـوم چـې تقريبـاً يـو نـيم مـتر ددې مخـې لـه ميـز نـه هـاخوا ايښـی و، مخـامخ ورتـه کيناسـتم، پـه دې وخـت کـې فکـر کـړم انجيـنر زنـګ ورتـه ووهلـو، چـون دې ورتـه ويـل: هـو راوسـېدو، دلتـه راسره ناسـت دی، نـور خـدايزده هغـو څه ورته ويل غږ مې يې نه آورېدو خو دا ورته موسکه کېدله.

د تلیفون له قطعه کېدو سره سم یې ما ته مخ را واړولو په تونده لهجه یې کړل:

-ما فکر کولو چې تر دې وروسته به تول کارت پروان ته له شرمه رانشي دلته خو لا څه کوې اما داسې ښکاري چې دشرم او حیا په نوم هېڅ نه پېژنې، ایا ته په کومو سترګو له ما نه دبښنې هیله کوې؟ ستا خو هغه مسلماني او ترحم و، چې زما په وړاندې دې کار ترې واخیستلو، هسې خدای ج مې مل و، کني تا خو دهغه طوفانونو په خوله ورکړم چې تصور یې نکېږي، په داسې حال کې چې زما لمړی خدای ج ته هیله و، بیا تاته، اما تا زما دهیلې برعکس زه د مرګ اخیري سلګۍ په خوله دې خوا راولېږلم، ددک مې له جګرخون نه دریمه ورځ سکته وکړ مړ شو، څړي څړوکي مو کاکا چور کړل، بلاخېره په دروازه مو قلپ ولوېدو په ضرب دې څو ورځو کې مو سر، ملک او مل ستا له لاسه ورک شول، او نن بیا په تولو سپین سترګۍ سره راغلی یې ښښنه غواړې؟

ددې خبرې په کولو سره مې یې تر هر ویښته خولې وبهولې، نور د خبرو کولو تاب راپاتې نشو صرف دومره مې وویل:

-منم همدا وجه ده، چې نن دې په تولو آجزۍ پښو ته تېټېږم ښښنه غواړم، خو ستا خبره رښتیا هم زه د دومره ظلم کولو سره چې ستا او همداسې خپل ځان په وړاندې مې وکړو، د ښښنې لایق نه یم، پرېږده چې حال مې تر دې بدتر شي، په راجګېدو کې مې پسې زیاته کړه دخدای ج پامان ولاړم!

ددې خبرې سره دا هم، اچت جګه شو لار یې ونیوله په یوه ساه یې کړل:

-نه، نه، ته کینه، ته کینه ولاړ به شې، یو لحظه!...

لا هم څو شیبې ولاړ وم، ددې تر څه نور تینګار وروسته واپس نرم په خپله چوکۍ کېناستم، مرواء په موسکاه سره زیاته کړه:

-وېرولې مې خو دومره هم نه، فکر کړم زیاتی مې وکړو په ښښې سره، که څه هم واقعاً ډېره دردېدلې وم، ولې داسې حال مې هم نه دربانديې لورېدو، لکه پرون مې چې دځنګلي په شان ببرسر، ګیره، چټلې زړې جامې او ګازي چپلکې په پښو ولیدې هغه هم په داسې حال کې چې زما د کور وچې ډوډۍ دې ټولولې، نور به په هغه خبرو دروند کانې کېږدو، ځکه ستا همدومره سزا بس ده، طبعاً خاله به هم په خپله سزا رسېدلې وي؟ زړه کې مې ویل: (چې بیچاره خو په مسجدونو کې د ډوډۍ لپار سوال وکړو نور به نو سزا څنګه وي؟) خو دې ته مې غږ ونکړو؛ د مراوء خبرو دوام لرلو کړل یې: زما لپاره یې په مقابل کې همدومره اجر بس دی چې د ټول اشرف المخلوقات، شریف انسان عجاز یې راکړو، بیا هم قربان د خدای ج تر مهربانۍ.

اما اوس له دې کیسې او زیاتي مو هاخوا، خاله، مدینې، فرېښتې، خصوصاً تا راسره کړې، نیکۍ مې هم له یاده نه دي وتلې، د خپل انسانیت له مخې غواړم سترګې پرې پټې نه کړم، ووایه نن یې عوض کې څه مرسته درسره وکړم!؟

-یوازې ستا په وړاندي کړي غرور او سهوې په خاطر مې داسې یوه ښه د زړه له خلاصه ښښنه راته وکړه او بس!

په خندا شوه بیا یې کړل:

-خاله، مدینه، فرېښته دوئ ښې دي او د ملګرې نوم دې څه دی، ښه ده؟

-الحمدالله ښه دي!

تکرار یې وویل:

-ملګرې دې څه نومېږي؟

-ملګرې پسې مه ګرځه، پرېږده یې!

-څنګه؟

مخکې له دې چې ځواب ورکړم، یوې چاغې تقریباً دېرش کلنې ښځې چای راوړو، د وچې مېوې سربېره په یو قاب کې یې ډېرې ښې سمبوسې ورسره راوړې، ددې نیکمرغو سره زما ډېره جوړه هم ده، خدایې چې شي ورته خوشحاله شوم، ښځې مو چای تر مخ کېښودو دا ولاړه، له آشپزي لباس نه یې پوه شوم، چې آشپزه ده، مقصد د چایو په څښلو مو پیل وکړو؛ په دې وخت کې یې بیا راپام شو کړل یې:

-د ملګرې خبره دې پرېښوده!

-رښتیا درته ووایم؟

-هو خود!

کیسه مې ورته شروع کړه دا مې ټول ورته ووېل چې عاشق یې مزار ته راغلو عکسونه یې راوړي و، بلاخېره ور پرې مې ښوده، وروسته له یوه کال نجلۍ بیا زنګ راته وکړو، عاشق یې مړ شوی و، کړل یې: زه غواړم واپس ستاسره واده وکړم، خو ما ځواب ورکړو، که څه هم ډېرې زارئ یې وکړې اوس هم وخت ناوخت مسېجونه کوي ځان نه پرې پوهوم! په خندا سره یې راغبرګه کړه:

-لېونی شوی نه یې، دا څه وایې؟

-که یې نه منې؟ صبر چې مسېجونه یې درته وښیم!

په همدې سره مې جیب ته لاس کړو موبایل مې راویستلو، لمړی مې هغه اولیني لوی، لوی متنې مسېجونه د صفحه سر ته ورته راوستل موبایل مې ورکړو، دمسېجو په لوستلو یې پیل

وکړو، خدایزده تر کوم ځایه به یې لوستی و، چې سترګې یې راډکې شوې، لاس یې ورجګ کړو اوښکې یې وچې کړې، بیا یې په لوستلو پیل وکړو، شیبه وروسته یې کړل:

ـ ما ته مې یې هغه خپلې خبرې رایاد کړې، مزار ته مې چې زنګ دروهلی وه او مسیج مې چې درواستو یاد دې دي!؟

ددې خبرې په کولو سره ئې یو ځل بیا خوله کې لاړې را وچې کړې، خواب رانه ورک شو، لمړی مې سترګې ښکته واچولې، زر بیا دا خبره ذهن ته راغله:

-نه بابا تا خو همغه یوه ورځ ووېل او بس، دا داسې شله انسان دی ته صبر چې زه یې وټساف ته را استولي صفتي پیامونه درته وښایم!

زر زر واټساف ته ولاړم، د صدف صفحه مې را وسپړله، له وروستیو را استولو پنځو پیامونو مې لمړی پیام پلې کړو، پکې ژړل یې زارئ یې کولې، بیا مې بل پلې کړو وېلي یې و:

-د خدای ج په لحاظ، د قران په لحاظ غږ مې واوره!

دریم پیام مې پلې کړو: په دې کې یې هم په چیغو چیغو ژړل همداسې اوزر، زاری یې کړې وې، له دریم وروسته مې په صفحه زر زر له پورته نه ښکته ګوته کش کړه ومې وېل:

-دا سلګونه پیامونه ټول ددې دي ټولو کې یې همدا یوه غوښتنه کړې!

نور مې لاس راټول کړو، له واټساف نه راووتلم، موبایل مې دمېز له پاسه تر مخ کېښودو. مرواء یوه لحظه هیجاني هیجاني راته وکتل، وروسته یې ساه وخیستله لاړې یې تېرې کړې کړل یې:

-هغه پوهنتون دې ځنګه کړو، ودې وېلو کنه؟

-هو پوهنتون مې ووېلو اسناد مې يې واخيستل!

-بيا نو ولې د خلکو له کورونو وچه ډوډۍ ټولوې يا يې صفاکارۍ کوې؟

-بس نصيب دی، کنې دپوهنتون علاوه د خپل مسلک مربوط ډېر وخت مې کورسونه ووېل، انګلسي او کمپيتر مې ښه سم زده کړل، او داسې هم نه ده چې زه دنده پسې نه يم تاو شوی، باور وکړه پښې مې پسې تناکې کړې، داسې لويه او کوچنۍ اداره به نه وي، چې ما مې سپويګانې، نه وي ورسولې يا مې امتحان نه وي ورکړی!

-پوهېږې دا ټول د صدف آزار دی؟ هغه بېچاره سلګونه متنې او صفتي پيامونه درته استولي په چيغو چيغو يې پکې ژړلي، ولې تا ظالم بيا هم ...

نور يې څه ونه وېل خبره يې په همدې ځای نيمګړې پرېښوده، ما ورغبرګه کړه:

-نه، نه، دا چې ستا خبره نن راغلی يم په ټوله سپين سترګۍ دې مخ کې ناست يم ښښنه غواړم، آزار يوازې ستا دی او که مې ونه ښښې کېدی شي يوه ورځ ذهر راباندې وخوري، د صدف مدف سره ما کوم ظلم نه دی کړی!

-ايا دا ظلم نه ګڼې، چې يو انسان دې چاته دومره وژاړي ازرونه او زارۍ دې وکړي او هغه دې ځان نه پرې هوپوي؟

ورغبرګه مې کړه:

-ښا نو ته دا مناسب ګڼې چې زه دې ددې نجلۍ سره واده وکړم، په داسې حال کې چې عاشق مې يې په خپلو سترګو وليدو او خپله نجلۍ هم راته ووېل چې کالونه کالونه مې مينه ورسره کړې، ستره بغيرتي به نه وي؟

-امممم تـه چـې دومـره ننـګ يـالی او غيـرتي يـې، بيـا دې لـه مـا ولـې مچـو اخيسـتله ايـا داسـې دې نه وېل چې دا بـه د چـا لـور وي، اينـده کـې بـه د يـو چـا نـاموس وي، کـه نـه دا غيـرت دې يـوازې د خپل ځان لپاره خوښېږي؟

افففف خـبره نـه وه، تـا بـه وېـل تنـاره کـې يـې غوپـه کـړم، تـر ټـول وجـود مـې سـور تـاو جـګ شـو، حيران بريان شـوم چـې څـه ووايـم، زر زر مـې بانـه رپـول څـو يـو ځـواب را زده کـړم، خلاصـه وخـت ووتلو، ذهن ته څه رانغلل، همداسې مې خاموشي پسې اختيار کړه، مرواء بيا کړل:

-لکه ښځګه چې وايې، کـه رښـتيا لـه مـا ښـنه غوښـتل همـدومره درتـه مهـم وي، نـو قسـم ده، تـر څـو دې دا غرور له رګونه نه وي وتلی، که مې ښښلی وې، حال دې تر دې بدتر غواړم!

-يعني صدف سره واده وکړم همداسې وايې؟

-صد فيصد، خـو پـه دې شرط، تـه يـې نمـبر راکـړه يـو ځـل زه ورسره غږېـږم کـه اوس هـم جـدي وه، خـبرو کـې يـې اخـلاص و، او لکـه ښځګـه يـې چـې مسـېج کـې لـيکلي خپـل پېغلتـوب يـې سـاتلی و، صرف لفظي مينه يې کړې وه؟

که څه هم ډېرې بهـانې چـونې مـې وکـړې، خـو مـرواء پـه همـدې يـوه خـبره ټينګـار کولـو، بلاخېـره و مې وېل:

-سمده، ممتا د اوس لپاره خو له اقتصادي پلوه هم واده کولو ته نشم آماده کېدلی!

خو دې خبرې مې هم آنتن ورنکړو کړل يې:

-ځه د مصـارفو نـه يـې هـم تـه خـلاص يـې، مصـارف يـې زمـا پـه غـاړه، ددې سرېېـره عجـاز تـه وايـم چې سر له سبا يوه ښه دنده هم درته پيدا کړي!

مخکې له دې چې زه څه ووایم، سم د لاسه یې اعجاز ته زنګ ووهلو، له لمړي سلام کلام وروسته یې د ټوکې په انداز  ورته کړل:

-اففف ته څومره ظالم سړی وختلې؟

موبایل بلندګو و، عجاز هم په خندا سره وېل؟

-څه شوي، له ما بیچاره بیا څه ګنا شوې؟

-ته وګوره اکبر دولس کاله لیسه وېلې، څلور کاله یې پوهنتون وېلی، ددې سره سره څومره کورسونه یې ویلي، انګلسي او کمپیتر یې زده دي او ته صفاکاري پرې کوې؟

عجاز ور غبرګه کړه:

-دا خو رښتیا هم ظلم دی اما ګناه خپله ستاسو ده، چې تر دې دمه مو حتا دا هم نه و، وېلي چې موږ کلیوال یا دېوال په دېوال ګونډیان یو، خو څه ښه شو چې اوس مو هم ووېل، کنې ما به تر څو فکر کولو چې اکبر خلیفه (ډم) دی، ځکه ما خو له حمام نه راوستلو، د حمامونو کار او بار خو...

تر څو یې خبره بشپړوله، دواړه په خندا شول خبره یې همدلته نیمګړې پاتې شوه، په عین حال کې زه یې هم ښه خولې کړم، خو په هر صورت، تر یوه ښه شېبه خندا وروسته مراوء ورته کړل:

-دغه دي اوس خو مو خبر کړې، معلوم شي چې سبا یوه ښه دنده ورته پیداکړې!

-حتماً انشاءالله، که نور نه وي، خپله چوکۍ خو مې شته چې ورته ویې سپارم، ستا له لانجې ځان وژغورم!

دلته بیا دواړه په خندا شول، همدې خندا خندا کې مرواء ورغبرګه کړه:

-ځه خدای ج دې مل شه موبایل بلندګو دی، اکبر دې هم غږ آوري!

نور یې تماس ورقطعه کړو، ماته یې سترګې راوړولې:

-دا دي عجاز به سبا پخیر دنده هم درته پیداکړي، راکړه اوس د صدف نمبر!

نور به مې نو څه ویلي و؟ سر مې ښکته واچولو، په موبایل اخته شوم شماره مې ورکړه، بیا یې کړل:

-خپله شماره دې هم راکړه، چې څه کېږي، زه بیا زنګ درته کوم!

خپله شماره مې هم ورکړه، تر شماره نیولو وروسته یې وېل:

-مننه، چې خبره مې دې ومنله که دې نه وی منلې منه چې ددې نجلۍ له آزاره به نور هم بدبخته کېدلې، ولې چې ددې نجلۍ درد ما درک کړو، ما تجروبه کړی، پسې زیاته یې کړه له دې وروسته نه یوازې دا چې ما ښنلی یې، بلکې دعا به هم درته کوم، خدای ج دې له همزولو مه کمه وه!

-مننه ژوندۍ اوسې همداسې تا دې هم الله ج نه خپه کوي، چې زما په واړه بدو دې سترګې پټې کړې ښنه دې وکړه، بیا هم نړۍ مننه درنه کوم!

ساعت ته مې وکتل پنځلس پاتې وې یولسو ته پسې زیاته مې کړه: که اجازه وي نور زه ځم، شماره خو مې درکړه، که څه خدمت و، بیا زنګ کوه!

-کینه ډوډۍ وخوره زموږ آشپزې لکه چې نن د مکرونیو تصمیم درلود!

-خیر یوسې سمبوسو ډېره ښه مزه وکړه، د ډوډۍ اشتیا نه لرم!

له همدې خبرې سره راجګ شوم، نور مې د خدای پامانۍ ترې راخیستلو سره مرواء په خپله چوکۍ کې ولاړه پرېښوده راروان شوم، له عمومي سرک نه دکوتسنګي په موټرو کې راوختلم، د سیلو په ساحه کې مې موبایل ته زنګ راغلو چې اوکې مې کړو سلام علیک مو وکړو، په فارسي یې کړل:

-برادر! از وزارت زراعت زنګ زدم، شما که برای وظیفه ګرفتن امتحان داده بودي، تبرکي ایشان میګم کامیاب شودي، سر از روز شنبه بیایي!

ددې خبرې سره فوراً ذهن کې راتېره شوه: منه ټول د مرواء ازار و، وګوره څنګه یې چې ښښنه راته وکړه، دغه دي دا کفار مې هم په مخ مهربانه شول، په داسې حال کې چې نمونړی امتحان مې تقریباً یو کال، لا تر دې هم زیات وخت مخکې ورکړی و، اوس مې بېخي له یاده وتلی و.

خو په هر راز فکر مې وکړو، چې د شنبې تر ورځې خو دوې درې شپې وخت شته، که انجینر په دې دوه دریو شپو کې کومه سمه دنده راته پیدانکړه هرو مرو به دې ته ورځم، همدا و چې کلینر غږ وکړو:

-بیایی بخیر استادګاه اخیر است !

له موټر نه راښکته شوم، د کوټسنګي نه دارالمان ته ولاړم، ترڅو واپس راتللم، ورځ تېره شوه، ماښام د قلعه واحد په خامه چټله کوڅه کې د کور په لور روان وم، چې جیب کې مې د موبایل کړنګار شو، را ومې ایستلو له یو ناشناخت هغه هم خارجي غونډې نمبر نه زنګ و، چې اوکې مې کړو مرواء وه، له جوړ پخیر وروسته یې کړل:

-د صدف سره وغږېږدم، ویدیویي زنګ مې ورته کړی و، ډېره ښایسته او هوښیاره نجلۍ وه، مسېجونو کې یې چې څه ویلي دي، د زړه له تله یې وېلي و، ډېرې کیسې مو وکړې بلاخېره ددې میاشتې تر اخیره مې د واده کولو وعده ورسره وکړه!

-نه بابا دومره زر هم نه، ته صبر بیا زه درته وایم!

-ته اوس کیسې مه پکې لټوه او مه دې ځان ته په غوره کې کېږه، دا نجلۍ په تا نه وه مئینه، ته یې له سره لیدلی نه وې، صرف چا دې دښه خوی او با احساسۍ ورته وېلي و، خصوصاً له هغې خبرې دې ډېره متاثره شوې وه، چې پرته له کوم شور او شره دې هغه بل هلک ته ویلي و: ( تاته دې مبارک وي ) په عین حال کې په دې خبره یې ډېر زړه هم دربانديې سوی و، مقصد د خپل ښکلي احساس له مخې یې انتخاب کړی وې، دا طلایي چانس له لاسه مه ورکوه، کني که په داسې حال یې ولیدې لکه هغه ورځ چې ما ولیدې، صدف خو پرېږده، منه که شاوګله انا هم زړه درته ښه کړي، ولو که له اخلاقو دې سیندونه هم وبهېږي او...

نور خندا واخستله خبره همدلته ترې پاتې شوه. تر یوه شیبه خندا وروسته یې ځان کابو کړو، پسې زیاته یې کړه: زما هم صرف په دې نجلۍ زړه وسو، مسېجونو یې دې ته لېواله کړم، کني نور...

دلته یې بیا هم خبره نیمګړې پرې ښوده، د اوږدې ساه اخیستلو په بهانه یې په بشپړولو پسې اوبه وڅکلې، آخېر کې یې هغه هم په ګوانښي انداز فقط دومره ووېل:

-څنګه دې خوښه ده!؟

څه به مې وېلي و؟ په غلي غږ مې ورغبرګه کړه:

-ښا صحیح ده، څه نو توکل په خدای ج!

-آفرین، پس داسې وکړه، کله دې چې وخت پیداکړو یو چکر دېخوا راشه زه به یو څو روپۍ درکړم، کور ته یې یوسه، تر هغو به مدینه دوئ، لږ ځانونو پرې برابرې کړي.

ددې خبرې په خوب کې يې غلی شوم. خو ښه وه زما خواب ته ډېره په طمعه پاتې نشوه زر يې کړل:

-ځه نور دې په خدای ج سپارم ښه شپه!

-همداسې تاته هم ښه شپه، خدای ج دې مل شه!

موبایل قطعه شوه، نور نو کور ته هم رسېدلی وم، دروازه مې ټک ټک کړه، فرېښتې رامنډه کړل د دروازې خلاصولو سربېره خلته مې يې هم له لاس نه وخيستله، په حاويلۍ کې مې د مور سره وليدل، د مدينې په آشپزخانه کې

کړپ او کړوپ و، لنډه دا چې شپه تېره شوه سهار بيا د دفتر په لور روان شوم، که څه هم ناوخته شوه، تقريباً لس بجې وې چې ورسېدم دفتر د مېلمانو ډک و، د مېلمانو تر تللو وروسته د تعمير مخ کې رحمت گل د تاق بورۍ کچې پرې راخيستې وه، دگلانو سرۍ يې اصالح کولې، زه هسې ورته ولاړ وم، مجلس مو سره کولو، چې انجينر راووتلو خندل يې، اگر چې تل به همداسې خنده رويه و، خو دلته يې په ما تاثير وکړو، وشرمېدم داسې راته ښکاره شوه، لکه زما ستايلي سر او گيرې جوړولو؛ نويو پاکو جامو، بوټونو يعني يو دم له ځکې نه اسمان ته ختلو چې خندا وروستلې وي، خو په هر حال سترې مشي مو وکړه، په سترې مشي پسې يې کړل:

-پرون دې کليوالې د پوهنتون خبره وکړه، ټوکې يې وهلې که ربښتيا وايي؟

-هوو انجينر صيب! د مزار پوهنتون کمپيوتر ساينس له څانگې فارغ يم!

-ظالمه! نو ته خو بيا پوره سړی يې، ولې دې مخکې نه وېل؟

-سر مې کوږ کړو، په خوله مې څه ونه ویل، ولې زړه کې مې ویل :چې په همدې درس وېلو وغولېدم، دا دومره وخت په دنده پیداکولو پسې بې کاره شوم؛ کنې چې لمړی مې په دې مزدوریو شروع کړې وی، منه که داسې شپې ورځې راباندې راغلې وی.

بیا یې په کمپیوټري پرګرامونو کې څو علمي پوښتنې وکړې.

دا مې هم ورځواب کړې، ددې ځواب په ورکول سره مې یې ویل:

-اووو سړیه! ته خو نابغه وختلې!

تر لاس یې ونیولم، د موټر په لور یې ورسره روان کړم، پسې زیاته یې کړه پوهېږې چې زه مې په رسمي دنده کې ستا په شان یوه مرستیال ته څومره اړتیا لرم؟ اما ته ناځوانه هېڅ ځان نه پوهوې!

بیا مې هم په موسکا سره تېره کړه نور مې غږ ونکړو اصلاً پوهېدم هم نه چې ټوکې وهي، که رښتیا وایي؟ خو خلاصه موټر ته وختلو تر دروازه چې څنګه بهر شو، عمومي سرک ته د ورګډېدو سره سم یې موبایل ته زنګ راغلو، له اوکې وروسته په لمړیو خبرو یې پوه شوم چې زنګ مرواء وهلی، که څه هم غږ مې یې نه اورېدلو خو فکر کړم مرواء پوښتنه ترې وکړه چې څېرته یې، یا چېرته ځې؟ ځکه دده له ځواب نه داسې ښکارېده، په ټوکیز رنګ کې یې ورته کړل:

-امر دې په ځای کوم، اکبر راسره دی د وزارت طرف ته روان یو!

نه پوهېږم چې هغه په ځواب کې څه ورته وویل، خو دواړو ښه وخندل، همدې خندا کې یې تماس سره قطعه شو، شیبه وروسته اوس مې هېر دي چې کیسه د څه نه رایاده شوه، خو انجینر په روغتون کې د مرواء د مندلو کیسه راوچوله، پسې زیاته یې کړه دری ورځې وروسته

په هوش راغله، ولې حافظې يې لا هم کار نه کولو نه يې شوی ويلی چې دکوم ځای يم، د چا لور يم، روغتون ته چا راوستلې يم؟ پنځمه ورځ له روغتون نه دخارجېدو په محال چې لا يې هم پايواز نه و پيداشوی، زما مور دې الله ج وبښي ډېره مهربانه ښځه وه، له ځان سره يې زموږ کور ته راوستله، د خپلې لور په شان پالنه يې ترې وکړه، ددې د اړتيا وړ خواړه يې ورته تهيه کړل، ښکلې جامې او نور اوليه ضرورتونه يې ټول ورته برابر کړل، ددې سربېره له روغتون نه د خارجېدو په محال د ډاکترانو د توصيه سره سم، هره هفته به يې روغتون ته ور وستله، دوا به يې ورته تبديلوله، پس له شپږ مياشتې مسلسلې تداوۍ وروسته يې حافظې کار وکړو، سم د لاسه يې په ژړا او زاريو پيل وکړو، په يوه ساه يې ويل، ما مې پلار ته ورسوئ، ما مې پلار ته ورسوئ، هغه ډېر سخت ناروغ دی بل هېڅوک د خدمت نه لري، سره ددې چې دا پوښتنه يې هم لا نه وه کړې چې دلته چا راوستلې يم، ولې يې راوستلې يم؟ څومره وخت مې وتلی، تاسو مې څوک ياست؟ نه صرف په همدې يوه خبره پلار ته په رسېدو يې ټينګار کولو، مازيګر و، مور مې سهار ته د وروستلو وعده ورسره وکړه، ددې علاوه پوښتنه يې ترې وکړه:

-په دوستانو کې دې د چا شماره ياد کې نشته ترڅو زنګ ورته وکړو، چې د پلار پوښتنه دې ترې وکړي يا خپله د پلار سره دې وغږېږي؟

که څه هم څو ځل يې يوه شماره ووېله، اما غلطه به وه، ايله ماخستن وتوانيده چې صحيح يې راياد کړي، شماره يې د مشرې خور وه، کوټې ته يې زنګ ووهلو، خور ئې د مرواء دغږ په اورېدو له ډېرې خوشحالۍ هلته په ژړا شوه، بلاخېر مرواء ته يې ووېل: تر سبا همدغلته اوسه سبا پخير زه درځم، همدا و، چې سبا ماښام يې خور د کابل ښار له لويديځ برخې کمپنۍ نه، زنګ وکړو، پسې ورغلم خاوند يې هم ورسره و، کورته مې راوستل، د مرواء سره يې وليدل له مرواء نه دښې پالنې له وجې يې زموږ نه هم ډېره مننه وکړه، د سهار په رارسېدو سره مرواء له دوئ هم زر تر زره پلار ته ئې ددې د ورسولو په غوښتنه ټينګار کولو، بلاخېره خور يې اړ کړه

ترخو د پلار د مړینې یې ورته ووېل او پسې زیاته یې کړه چې له مور سره به پاکستان (کوټې) ته ځې، دا چې ددې خبرې له کبله د مرواء وضعیت بیا ډېر خراب شو، اجازه مو ورنکړه، ترخو نن ولاړ شي، د بلې شپې لپاره مو هم راپاتې کړل، د دوهمې شپې په ماخستن د مرواء خور زما مور ته د خپلې او خصوصاً مرواء د بې کسۍ کیسه کړې وه، دا چې مور مې یو خوا ډېره مهربانه او په زړه نازکه ښځه وه، ښې ډېرې سلګۍ یې ورته کړې وې، بلخوا مرواء ددې شپږو میاشتو په لړ کې، زښته زیاته ورته ګرانه شوې وه، زړه یې نه پرې کېدو چې مرواکۍ یې له کوره لاړه شي، همدا و چې په همدې دوهمه شپه یې زما د مور د غوښتنې له مخې دواړو مور مې او د مرواء مشرې خور زما او مرواء د کوژدې موافقه هم سره کړې وه، کله چې زه او مرواء خبرېږو خدایزده چې د مرواء احساس به څه و؟ ولې خدایي چې شي زه ډېر خوشحاله شوم، په جریان ددې شپږو میاشتو کې اګر چې لا هم سخته ناروغه وه، حافظه یې مکمله فلج وه، خو بیا هم دښاپېرزادې څېرې باانسانیته ناستې پاستې، سربېره په باطن کې مې یې دریاب، دریاب مینه درک کړې و، د همدې پرېکړې دشپې تر تېردو وروسته سبا تقریباً یولس بجې وې له، شرکت نه کور ته راغلم، موټر مې حویلۍ کې ودرولو، یوه اطاق، بل او بل ته مې سر ورلړې کړو، هېڅوک هم نه و، اشپزخانه کې کړپو کړوپ و، په وره کې ور ودرېدم چې مرواء په سلاټ جوړولو لګیاه و، د مور پوښتنه مې ترې وکړه کړل یې:

-هغه مې د خور سر پارک ته وتلې!

-ښا څه ښه یې کړي!

د همدې آرامې فضاء نه په استفاده مې پسې زیاته کړه:

-رښتیا بېګاه یې چې زما او ستا په باب کومه موفقه کړې ترې راضع یې؟

څو شیبې یې ځواب ته غوږ په آواز وم، اما هېڅ غږ یې ونکړو بیا مې ووېل:

-ګوره ته نجلۍ یې په نجینو کې هم بیا هغه مظلومه بې وسه او بې کسه نجلۍ که خوښه دې نه وي، یوه ذره هم چاته اجازه نه ورکوم چې جبراً خپله اراده دربانددې تحمیل کړي، ان تر دې چې که له ما سره واده کولو ته دې زړه نه وي؟ لکه تېرې شپږ میاشتې د تل لپاره دخور په صفت راسره اوسې هم د سر تورې سترګې مې یې، ولو که بل چېرته دې خوشحالي وینې هم، زه ستا د رایه پلوي یم؟

نجلۍ اوښکلنې سترګې راواړولې په پرې، پرې غږ یې کړل:

-خو زه یوه عیب لرم، دا که درنه پټه ومه طبعاً په وړاندې به دې ټول عمر ځان وجداً خجالت ملامت او یوه بده میرمن احساسوم!

او که وروسته د نکاح درته وایم، ممکن ته ووایې: چې ولې دې تر مخ نه وېل؟ هغه داسې دی چې ایا پوهېږې ولې د داسې شدیدې عصبي حملې ښکار شوم؟ دا ځکه چې زموږ یو ګاونډی هلک و، که څه هم ځوانۍ کې دومره ښایسته نه و، ولې له ښو اخلاقو، او زموږ سره د زښته زیات احسان کولو له مخې مې خورا مینه ورسره لرله، په ټوله هیله مې غوښتل چې همدا هلک مې د ژوند ملګری شي، ان تر دې چې مستقیماً مې زنګ ورته ووهلو، په ډېر مظلومانه انداز مې د کوژدې وړاندیز ورته وکړو، ولې هغه ونه منلو د بلې نجلۍ سره یې کوژده وکړو، د همغه اول ځل خبرېدو سره یې نوره په ځان نه یم پوه شوې، مګر دغه دي چې پس له شپږو میاشتو ستاسو په کور کې خپل حال ته راوګرځېدم، مقصد عاشقي یې ګڼې، ګناه یې ګڼې همدومره یو کار رانه شوی!

په خندا مې ورغبرګه کړه:

-اوووو ظالمې ودې وېرولم ماویل څه کفر دې کړی، د وړاندیزونو کول او ردول، خو که ګناه وي؟ زه هم منه که جنت په سترګو ووینم، خو بیا هم ښه و، چې خپله دې ووېل ستا په اخلاص

دلالت کوي، که له کومې بلې خوا خبر شوی وی، طبعاً د ډېرې بدګومانۍ لور ته به یې وړی وم!

ددې خبرې سره یې شین چراغ راکړو، موسکۍ شوه، واپس یې په خپل سلاټ تهیه کولو لګیاه شوه، نور زه هم خپل اتاق ته ترې راروان شوم.

نو کیسه مې تر دې پورې درته وکړه، چې زما په خوشبختۍ کې مستقماً ستا لاس دی، کنې چېرته دا د جنت الفردوس د حورو میره مرواګۍ او چېرته زه بېچاره؟

چون هغه ورځ مې چې د برنډو مینځلو لپاره راسره بوتلې کله چې مرواء لیدلی وې، ماته یې زنګ وکړو کړل یې: دا صفاکار دې چې راوستلی هغه زمونږ ګاونډی هلک دی، چې زما وړاندیز یې رد کړی و!

ما وخندل واپس مې ټوکتاً ورته کړل:

-نو ته او خدای ج ستا سترګې وې کنه؟ چې په دې پسې دې شپږ میاشتې حافظه.....

نور وزارت ته راورسېدو د انجینر خبره د همدې حافظې په لفظ پاتې شوه، له موټر نه ښکته شو، که څه هم په دفتر کې یې چې ووېل، ما فکر وکړو، ممکن ټوکې به راسره وکوي، ولې وزارت ته په راسېدو سره یې رښتیا هم دخپل ځان سره، یعني دمعین دمرستیال په حیث زما په دنده ګمارنه پیل وکړو، د وزیر سرېبر د وزارت په لوی او واړو مامورینو یې ډېر ناز چلېدو، ټولو ډېر درناوی ورته لرلو، همدا و چې په تول د دریو ورځو کې یې ټول کارونه راته خلاص کړل رسماً یې په (۴۲۰۰۰) دوه څلوېښت زره افغانۍ معاش سره خپل مرستیال وګمارلم، ددې سره سره د وزارت په فامیلو کې کوم چې د وزارت لوړ رتبه مامورین پکې اوسېدل، یو دری اتاقه کور یې هم راته تسلیم کړو، دریمه ورځ مې د قلعه واحد له کوځې خپل څړي څړوکي وربار کړل ورغلو، سر له سبا مې خپلې چوکۍ ته حاضر شوم، په دنده مې پیل وکړو، پنځه

ویشت ورځې وروسته د مرواء د فشار او مالي ملاتړ په مټ مو د فامیلیو په تلار کې یو متوسط د واده محفل ونیولو، صدف مو راناوې کړه، که څه هم نور مو ژوند له تصوره لوړ ښکلی او آسوده شو، خورا خوشحاله و ، هغه د قلعه واحد زوړ خاورین کور، مرداړې کوځې، راباندې تېر غربتونه، لوږې وغیره ستونزې مشکیلات به مو چې رایاد کړل، داسې به مو انګیرله، لکه دوزخي چې په دوزخ کې خپل ګناهونه وتوغي، بیا جنت ته راشي، موږ هم نسبت دې نوي، پاک او په ټولو اسانتیاو او امکاناتو سمبال کور، زما لوړ معاش او عالي دندې ته په کتو، خورا هیجاني او د خوښۍ احساس مو کولو، ولې بیا هم یو دروند درد مې زړه کې دېره و، پټ پټ یې رنځولم، لا رنځوي مې، هغه دا چې که څه هم صدف په ښکلا کې له موره یوه وه، همدارنګه ډېره باادبه، هوښیاره، باتعلیمه، مینه ناکه نجلۍ وه، اما صرف هغه عاشق ته په کتو یې چې ان تر مزاره راپسې راغلو، د موبایل شمېره او تصویرونه یې ورسره و، لکه څنګه چې ښایي یا لکه خومره چې دا ښکلې وه، هغه شان رجع مې نه ورته کېده، ځان مې یو قسم بې غیرته احساسه ولو، اګر چې خپل پېغلوب یې ساتلی و، اما بیا هم زړه کې به مې سل رنګه خبرې تاوېدې، چې ګویا که نور هېڅ نه وي، رغړولې رارغړولې خو به یې ښه ډېره وي، همدارنګه مچوګانې خو به یې بې شمېره ترې اخیستې وي، ددې سره سم به له مرواء نه ما اخیستې مچو رایاد شوه او په څنګ کې به مې یې هغه د امام شافعي (رح) وینا نیغه سترګو ته ودرېده چې وایي: (زنا پور ده) یعني که د بل چا خور او لور ته مو سپک وکتل، هرو مرو به یې پور ستاسو خور، لور او یا هم ښځه پرې کوي.

(پــــــــاى)

یادونه!

درنو لوستونکؤ که د کتاب په اړه څه وېل لرئ؟ مهرباني وکړئ په لاندې ادرسنو کولی شئ چې د لیکوال سره یې تماس ونسئ.

ایمل: naeemjanwardak@gmail.com

واتساف: 0747743091

د فیسبوک او مسېنجر نوم: (نعیم جان بوډا)

وما علینا الا البلاغ مبین